# روژه

## احكام، اسرار او اغېزې

## د صالح او سليم انسان جوړوني كي



حكمتيار

## د کتاب پېژندنه:

نوم: روژه او اسرار ئی

ليکوال: حکمتيار

لومړی طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ توکه

قيمت: ۵۵ افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**

د ميثاق ايثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

# روژه

## احکام، اسرار او اغېز ئې

## د صالح او سلیم انسان جوړوني کي

حکمتیار

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# د روژې فضائل او حکمتونه

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

تر دې وړاندې چې روژه او اړوند آيات او روايات ئې وڅېړو؛ ښه به وي چې د روژې اهميت، فضيلت، ضرورت، د انسان په معنوي او اخلاقي تربيت کې او د مسلمان د شخصيت په جوړوني او روزني او د ټولني په اصلاح کې د هغې ژور او پراخ اغېز وڅېړو؛ په دې ارتباط څو عرائض لرم:

## د روژې حکمت او هدف

هر عبادت ځانته خاص حکمت او مصلحت لري؛ که دا روژه ده او که لمونځ، حج، زکات؛ او د الله تعالی په لار کې جهاد او بل هر عبادت؛ الله تعالی زمونږ عبادت ته ضرورت نه لري؛ په داسي څه ئې ګمارلي يو چې مونږ ورته ضرورت لرو او ګټه رارسوي.

الله تعالی خپل بنده په هغه څه ګماري چې د دنيا او آخرت خير او ښېګڼه ئې په کې مضمر وي، له هغه څه ئې منع کوي چې مضر وي او انسان ته له جسمي او معنوي پلوه زيان رسوي؛ ګټور شيان ئې ورته حلال او تاواني شيان ئې حرام کړي، هغه چې ګټه ئې تر تاوان زياته وي هغه ئې حلال کړي او چې تاوان ئې تر ګټې زيات وي هغه ئې حرام کړي؛ او هغه چې ګټه او تاوان ئې سره برابر وي هغه ئې مباح ګرځولي؛ دا يوازې د خوراك په اړه نه ده بلکې د انسان د هر څه په اړه ده؛ هر مضر کار او څه ئې ورته حرام کړي او هر مفيد څه او عمل ئې ورته

حلال کړي؛ د حِل او حُرمت منشأ او د حلال او حرام د تشخيص لپاره معيار او ملاك همدا دئ. هر هغه شی او کار چي يا مضر وي او يا خوشی او بېهوده نو بايد متيقن وې چي ممنوع او حرام دئ.

قرآن په دې اړه کافي صراحتونه لري؛ متأسفانه هغه چي د دين له روح او حقيقت بې خبر دي؛ گمان کوي چي ديني عبادات هسي تعبدي اعمال او مأموريتونه دي؛ له کوم دنيوي او انساني مصلحت او حکمت پرته؛ فقط يو ديني مأموريت او محض تعبدي وظيفه، بدله او اجر ئې هم محدود او منحصر په آخرت پوري!! په داسي حال کې چي د انسان د هر عمل خير او شر لومړی په دنيا کې وررسي او بيا په آخرت کې؛ ښه دنيا ئې د ښه آخرت نښه او پيلامه ده؛ قرآن د روژې په اړه فرمايي: که روژه ونيسئ نو دا ستاسو په خير ده که وپوهېږئ:

... وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾ البقره

د قمار او شراب په اړه فرمايي:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَـٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ ... ﴿٢١٩﴾ البقره

...د شراب او قمار په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: په دوی کې ستره گناه ده او د خلکو لپاره څه گټې؛ خو گناه ئې تر گټې ډېره ستره ده. ...

دلته (إِثْمٌ كَبِيرٌ): لويه گناه؛ د (مَنَـٰفِعُ): گټې؛ په مقابل کې او (إِثْمُهُمَآ) د (نَّفْعِهِمَا) په مقابل کې راغلي؛ او دا ښيي چي اثم (گناه) د ضرر او تاوان مترادف ده؛ او الله تعالی د شراب او قمار مادي او معنوي اضرار او تاوانونو ته په پام سره دواړه حرام کړي.

الله تعالی د روژې په اړه فرمايي:

شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَـٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ

سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٨٥﴾ البقره

د روژې مياشت هغه ده چي په هغې کي قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت ښکاره نښي او فرقان (د حق او باطل تفکيك او بېلولو لپاره معيار او ملاك)؛ نو چي څوك دا مياشت ومومي هغه دي روژه ونيسي او څوك چي بيمار وي او يا په سفر کي؛ نو پر ده له نورو ورځو شمېر پوره کول لازم دي، الله تاسو ته د آسانتيا اراده لري او د سختي اراده درته نه لري، دا د دې لپاره چي شمېر (عدت) پوره کړئ او د دې لپاره چي الله د هغه څه لپاره په لويي ياد کړئ چي تاسو ئې هدايت کړئ او چي شکر وکړئ.

په دې مبارك آيت کي څو اساسي لارښووني مومو:

- د دې مياشتي روژه د دې لپاره فرض کړی شوې چي په دې کي قرآن نازل شوی، دا د خلکو لپاره لارښود کتاب؛ دا د ښکاره لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو لپاره روڼ ځراغ؛ ستاسو په برخه شوی؛ د دې ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره بايد روژه ونيسئ.
- په دې روژې سره به تاسو د الله په لويي او عظمت اعتراف کړی وي او د همدې روژې او د قرآن د درناوي په وجه به مو هدايت په برخه شي.
- داسي گمان مه کوئ چي الله تعالی له خپلو بندگانو سره د سختي کولو اراده لري؛ نه؛ هغه پر خپلو بندگانو ډېر ډېر مهربان دئ؛ قرآن رالېږل او روژه فرض کول د ده د پېرزويني او رحمت نښي او اسباب دي، له سختيو د ژغورني لپاره ئې دا قرآن رالېږلی او د قرآن د راتلو د مياشتي روژه ئې فرض کړې.

له دې آيت دا هم په ښکاره توگه معلومېږي چي د روژې مياشتي

په داخلېدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو روژه نیول فرض کېږي؛ او د روژې میاشت هغه وخت پیل کېږي چي د دې میاشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په کوم ځای کې ولیدل شي؛ له محاق وتل او چېري د هغې څرګندېدا معنی دا ده چي نوې میاشت پیل شوې او په ټولو روژه نیول لازم شوي؛ د دې آیت له مخي د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، داسي نه ده چي میاشتي په هر هېواد کې بېل بېل پیل او پای لري؛ بلکي په ټولي نړۍ کې یو پیل او یو پای لري؛ پیل او پای ئې په یوه معینه ورځ، ساعت، دقیقه او ثانیه وي.

## د روژې او قرآن تر منځ ژور تعلق

راشئ وګورو چي د روژې او قرآن تر منځ څه تړاو دئ؟ ولي به د قرآن د نزول په میاشت کې روژه نیسو؟ ځواب ئې دا دئ:

قرآن د الله تعالی له لوري د انسان د ژغورني او هدایت لپاره رالېږل شوی کتاب دئ؛ د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د ټولو برخو د ښه تنظیم او له هر راز ظلم او فساد پاکي ټولني د جوړولو په موخه؛ داسي چي انسان هغه لوړ مقام ته ورسوي چي پر زمکي د الله تعالی د خلیفه په توګه عمل وکړي؛ د قرآن پر لارښوونو عمل او هغسي مثالي ټولنه جوړول؛ داسي خاصو خصائلو، مواصفاتو او ځانګړتیاوو ته ضرورت لري چي ډېری ئې یوازي په روژې سره انسان کولی شي په خپل اخلاقي او معنوي شخصیت کې راوپنځوي، تقویه ئې کړي او په قرآن عمل کولو ته ځان چمتو او تیار کړي؛ ځیني ئې دا دي:

١- قرآن رالېږل شوی چي انسان د انسان له مریېتوب او غلامۍ وژغوري، له الله تعالی پرته ئې بل چا ته سر ټیټ نه وي، په ټولني کې ئې عدالت قائم وي، یو پر بل د لویي احساس ونه کړي، هیڅوك ځان تر نورو لوړ ونه ګڼي او بل ته د حقارت په سترګه ونه ګوري، د شر او فساد ځواکونه وځپل شي، ظالم حکومتونه نسکور شي، د الله تعالی هغه دین د ټولني په ټولو برخو کې حاکم شي چي حق او عدالت تأمینوي؛ او د انسانانو

سر، مال او عزت له هر راز تېري او تجاوز خوندي کوي؛ دې هدف ته رسېدل داسي مجاهدينو ته ضرورت لري چي له حق او عدالت دفاع ته چمتو وي، د دې مبارزې د کړاوونو ګاللو په وړاندي صابر وي، لوړ همت او مضبوطه اراده ولري، لوږه او تنده ګاللی شي، نه د نس بنده وي او نه د هوس او نَفْس. دا مواصفات د روژې په نتيجه کي په انسان کي وده کوي، روژتي يوه مياشت له سحر تر ماښام صبر، ځان ساتنه، د نفس او هوس غوښتنو ته نه تسليمېدل، لوږه او تنده ګالل تمرينوي؛ دا يوه مياشتنۍ تربيتي دوره په هغه کي د صبر او ځان ساتني ماده تقويه کوي.

دا کټ مټ داسي ده لکه د کوماندو سرتېري چي په سختو تمرينونو ګمارل کېږي؛ لوږه او تنده ګالل، په خړو اوبو او خټو کي تګ او ځان پټول، په ځنګله کي له خوراك او څښاك پرته د اوږدې مودې لپاره يوازي پاته کېدا، په يوازي سر او له ملګرو پرته د شپې سفرونه او د خطر سيمي ته ننوتل؛ او د همدې سختو تمرينونو او مشقونو په نتيجه کي له هغه يو مضبوط او باهمته کوماندو سرتېری جوړېدل؛ روژه دې ته ورته د مجاهدينو د روزلو تربيتي دوره ده.

٢. روژتي مکمل يوه مياشت؛ هره ورځ خپله خوله، هوس او شهوت ساتي، حتی له حلال خوراك او جائز جنسي تعلقاتو ډډه کوي، له حرامي وينا، دروغ، افتراء او تهمت؛ خپله خوله او ژبه ساتي، نه يوازي له حلال جنسي تعلقاتو ځان ساتي بلکي د حرام لوري ته له کتلو هم اجتناب کوي. دا مشق په ده کي د ځان ساتني او هوس ته د نه تسليمېدو ماده او خصلت تقويه کوي؛ او دې ته ئې چمتو کوي چي د ژوند په ټولو برخو کي د قرآن سرې کرښي مراعات کړي او په جائز حد او پولي کي توقف وکړي.

٣. انسان په خپل ژوند کي دوه لاري غوره کولی شي: الف: د خداپپالو او ديندارانو لار؛ هغه چي حلال او حرام، حق او باطل، جائز او ناجائز، ښه او بد لري او تر منځ ئې سرې کرښي باسي. ب: د سيکولرانو لار چي دا سرې کرښي او حدود په کي نشته؛ حلال، حرام، جائز، ناجائز، حق، باطل،

ښه او بد اخلاق نشته.

٤. سالمه او رغنده انساني ټولنه د دغو سرو کړښو له مراعات پرته نه شي جوړېدی؛ او دا ټولنه یوازې هغه مهال رامنځته کېدی شي چي انسان خپل حد وپېژني، له سرو کرښو د اوړېدو تلوسه ونه کړي او په خپل حد کي د ځان سمبالولو او اداره کولو وړتیا کسب کړي. روژه په انسان کي همدا وړتیا ځواکمنه کوي.

٥. ته چي یوه میاشت دا تمرین او مشق تر سره کوې چي وږی او تږی شې؛ سړې او خوږې اوبه او د خپلي خوښي خوندور خوراك دي مخي ته راشي؛ خو ځان سمبال کړې، خپل هوس ته نه تسلیمېږې، د روژې په میاشت کي راټوکېدلی او ځواکمن شوی همدا خصلت او اراده باعث شي چي ته ټول کال او هر ځل چي له حرام توکي او عمل سره مخامخ شې؛ ځان سمبال او اداره کړې.

قرآن همداسي فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ البقره

اې مؤمنانو! پر تاسو روژه داسي فرض کړی شوې لکه تر تاسو پر مخکینیو چي فرض کړی شوې وه؛ د دې لپاره چي ځان ساتنه مو کړې وي (تقوی او د ځان ساتني مضبوطه اراده مو په برخه شي).

تقوی یعني د ځان ساتلو، سمبالولو او اداره کولو وړتیا او استعداد؛ یعني مضبوطه اراده؛ په چا کي چي مضبوطه او قوي اراده نه وي مثال ئې هغه موټر ته ورته وي چي بریکونه ئې سست او شړېدلي وي.

٦. روژه په مخکینیو امتونو هم فرض وه؛ د روژې هدف دا دئ چي په تاسو کي د تقوی او ځان ساتني ماده پیاوړې شي، اراده مو مضبوطه شي، ځوك چي یوه میاشت له حلال رزق لاس اخیستل تمرین کړي، نفس ئې په وار وار له هغه مکرر غوښتني وکړي خو هغه ئې غوښتنو ته تسلیم نه شي، ځان وساتي، له ګنده خبرو، دروغ، افتراء، مکر، فریب او دوکې

ډېره کول تمرین کړي؛ په دې سره د ده اراده مضبوطه او پیاوړې شي او له روژې وروسته د نفس د ناجائزو او ناروا غوښتنو په وړاندي مقاومت او ځان ساتل ورته آسان شي.

۷. پیغمبر علیه السلام د روژې میاشت د صبر میاشت ګڼلې؛ یعني روژه په تاسو کي صبر راپیدا کوي؛ او د صبر اجر جنت دئ.

۸. هغه روژه چي انسان له بد فعل، ناروا کړني، ناوړه او حرامي وینا، حرام رزق او مال، فساد او ظلم منع نه کړي؛ د دین په معیارونو کي هیڅ ارزښت نه لري؛ دا روژه فقط لوږه او تنده ګالل دي؛ نه هغه روژه چي الله تعالی موږ پرې ګمارلي یو. د الله تعالی رسول فرمایي:

الصِّيَامُ جُنَّةٌ، فَإِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يَوْمًا صَائِمًا، فَلَا يَجْهَلْ، وَلَا يَرْفُثْ، فَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ» مسند احمد

روژه ډال دئ نو کله چي ستاسو کوم یو کومه ورځ روژه وي؛ نو نه به جاهلانه عملونه کوي؛ نه د بې حیائي خبري؛ او که څوك ورسره شخړه او جګړه کوي ودي وایي: زه روژه یم.

## د روژې میاشت یوه تربیتي دوره ده

روژه یوه داسي میاشتنۍ تربیتي دوره ده چي مسلمانان د قرآن په لارښوونو عمل کولو ته چمتو کوي، کټ مټ داسي لکه د یوه فوځ سرتېري؛ مخصوصاً د کوماندو جنګیالي چي د روزني په مهال په سختو سختو کارونو ګمارل کېږي او د همدې روزني له امله مضبوط او زړه ور جنګیالي ترې جوړېږي.

روژه په روژتي کي دوه مهم خصلتونه تقویه کوي: تقوی او صبر.

تقوی: یعني د ټولو هغو سرو کرښو مراعات او له ماتولو او تېرېدو ئې ډډه کول چي قرآن د ژوند په ټولو برخو کي زموږ په وړاندي ترسیم کړې.

صبر: یعني د قرآن د حاکمیت او د الهي نظام د تأسیس او د حق او

عدالت د تأمين لپاره چي قرآن موږ په کوم جهاد او مبارزې مکلف کړي يو په دې کي ثابت قدم او صابر اوسېدل.

قرآن د بقرې سوره کي د روژې يادونه او د هغې د فرضيت لاربښوونه کړې؛ او په همدې سوره کي ئې د بني اسرائيلو د يوې قبيلې قصه زموږ مخي ته ايښې؛ چي په ترځ کي ئې د روژې لپاره يو عملي او تاريخي مثال وړاندي شوی؛ او هغه داسي چي له موسی عليه السلام وروسته او هغه وخت چي بني اسرائيل په شرك او فساد اخته او له سمي لاري منحرف شول؛ نو د جالوت په نامه يو ظالم او بې رحمه پاچا پرې مسلط شو؛ ډېر ئې ووژل، د دوی کورونه ئې لوټ او تاراج کړل او دوی ئې له خپل کور کلي وشړل؛ په دې وخت کي اشموئيل عليه السلام د دوی لاربښوونه کوله؛ هغه ته ورغلل، له خپلو مخکينيو کړنو او د الله په لار کي د جهاد له نه کولو ئې ندامت وښودو او له هغه ئې د الله په لار کي د جهاد اجازه وغوښته؛ هغه د دوی مخکيني حالت ته په پام سره ورته وويل: مبادا جهاد درباندي فرض شي او بيا تاسو له هغه ډډه وکړئ؛ دوی ورته وويل: په داسي حال کي چي پر موږ ظلمونه شوي، له خپل کور او کلي شړل شوي يو؛ هيڅ داسي دليل نه گورو چي د الله په لار کي ونه جنگېږو؛ خو چي ورته وويل شو: نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنگېږئ؛ يوازي معدودو کسانو تياری وښود، نور ټول له خپلي ژمني او د الله په لار کي له جنگېدو په ډډه شول. د الله پيغمبر ورته وويل: تاسو د يوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه؛ دا دئ الله تعالی طالوت درته غوره کړی؛ د الله له دين اوښتي قوم ورته وويل: دی خو پر موږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخي او نه د مال او شتمنۍ له مخي؛ د ولس قيادت او زعامت خو بايد داسي چا ته وسپارل شي چي قيادت او زعامت له پلار نيکه ورته په ميراث پاته شوی وي، د کومي درنې او معتبري کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پيغمبر د دوی په ځواب کي وايي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قيادت وړتيا هغه ورکړې، ښه پوه دئ او د ښه صحت او قوي بدن خاوند دئ؛ د مشرتابه

غوره مواصفات خو همدا دي؛ خو دوی دې ته تيار نه وو چې د طالوت قيادت ومني، د دوی معيارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسې انګېرله چې بې دينه او لار ورکې قومونه ئې انګېري، د پيغمبر دا وينا ئې نه منله چې الله تعالی د دوی په خېر نه دئ چې نسب او مال د قيادت لپاره ضروري وګڼي او طالوت به سره له دې چې د مشرۍ وړ دئ؛ له دې کبله د مشر په توګه نه غوره کوي چې نادار دئ او پلار نيکه ئې د قوم مشران نه وو پاته شوي؛ بالآخره او په نه زړه ئې د هغه مشري ومنله؛ خو له هغه سره ئې چلن داسې وو:

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ البقره

نو کله چې طالوت لښکري راوايستې؛ وئې ويل: الله په يوې وياله سره ستاسو آزمويونکی دئ؛ نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما له ډلې به نه وي او چا چې (ئې خوند) ونه څکو؛ نو هغه زما دئ؛ مګر دا چې د خپل يوه لاس يوه لپه (اوبه) غوړپ کړي. خو د دوی له لږو پرته نورو هغه وڅښلې؛ نو کله چې دی او د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل؛ وئې ويل: نن خو موږ د جـالوت او د ده د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو؛ خو هغو چې باورمن وو له الله سره مخامخ کېدونکي دي؛ وويل: څومره لږکي ټولګي د الله په اذن سره پر ډېريو غالب شوي؛ الله خو له صابرانو سره دئ.

يعني جهاد د صابرانو کار دئ؛ بې صبره، بې همته، بې عزمه، بې

ارادې او هغه ضعيف النفس کسان چې د کړاوونو ګاللو همت او حوصله نه لري؛ هغه جهاد نه شي کولی؛ د جهاد مشران بايد خپل مجاهدين وآزمويي او وګوري چې په دوی کې څوك د ستونزو او کړاوونو ګاللو ته تيار دئ، پياوړې متې، غښتلی زړه، لوړ همت، کلك عزم لري او د صبر او زغم خاوند دئ؛ يوازې په دغو حساب وکړئ او د همدوی په ملګرتيا بسنه وکړئ؛ بې همته او بې صبره کسان د نيمې لارې ملګري وي او په سختو شېبو کې له خپل صف بېلېږي او خپل سنګر دښمن ته پرېږدي؛ د داسې کسانو ملګرتيا د ګټې پر ځای تاوان کوي؛ د همدې لپاره طالوت خپلو ملګرو ته وويل: له ما سره هغه څوك ملګرتيا کولی شي چې د دې راتلونکي نهر اوبه ونه څښي، په تنده کې صبر وکړي، هغه هم راسره تلی شي چې په يوه غوړپ اوبو اکتفاء وکړي، خو هغه چې ډك نس اوبه څښي؛ زما د ملګرتيا وړ نه دئ. (د طالوت دا آزموينه داسې ده لکه موږ چې په روژې مکلف شوي يو، دا په اصل کې د روژې لپاره يو مثال او بېلګه ده، په روژې سره په انسان کې د صبر او ځان ساتنې خصلت وده کوي)؛ د ده له لوی لښکر يوازې يو وړوکی ټولګی په دې آزموينې کې بريالي وختل او همدغو ته الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن بری ورکړ. يعني چې بری د صابرانو په برخه کېږي؛ هغه چې پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګې په لار وي، له الله په سنګر کې او د دښمن په وړاندې د صبر او استقامت غوښتنه کوي؛ نه د هغه چا په برخه چې د جنګياليو شمېر ئې زيات وي. دا په وار وار ليدل شوې چې يوه وړوکي ټولګي ته الله تعالی پر لوی لښکر فتح او بری ورکړی؛ دا ځکه چې الله د صابرانو مل دئ.

د روژې د فرضيت په لومړي آيت پسې متصل ويل شوي:

أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ ۚ وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾ البقره

څو شمېرلې ورځې؛ خو که څوك له تاسو بیمار وي او یا په سفر لګیا وي؛ نو بیا ئې له نورو ورځو د شمېر پوره کول دي؛ او پر هغه چا چي په تکلیف سره ئې نیولی شي؛ د یوه مسکین (د ورځني) خوراك فدیه ده؛ نو که څوك په خپله خوښه د خیر کار ترسره کړي؛ دا ورته غوره دئ او که روژه ونیسئ؛ دا درته غوره ده؛ که وپوهېږئ.

## روژه تا د وږو له حال خبروي

دا خبره د توجه وړ ده چي د روژې فدیه د یوه کس ورځنی خوراك ټاکل شوی؛ د روژې یو هدف دا دئ چي مسلمانان د وږو له حال خبر شي او له بې وزلو سره مرستي ته تیار شي؛ چا چي لوږه نه وي لیدلې د وږو له حال نه خبرېږي.

## په روژه کې څه جائز او څه ناجائز دي

قرآن د روژې د پیل او پای په اړه او دا چي څه کول په کې جائز دي؛ فرمایي:

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُوا۟ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا۟ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَـٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَـٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَـٰجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَـٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾ البقره

له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نژدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې؛ هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس یئ؛ الله په

دې پوه شوی چې تاسو له ځان سره خیانت کولو؛ نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوګرځېدو او عفو ئې درته وکړه؛ نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نیت نژدې والی وکړئ) او وخورئ او وڅښئ تر هغه چې د سباوون سپینه کرښه له توري درته څرګنده شي؛ بیا مو روژه تر شپې پوري پوره کړئ او له دوی سره په هغه وخت کې مباشرت مه کوئ چې په جوماتونو کې معتکف وئ؛ دا الهي حدود دي نو هغوی ته مه نژدې کېږئ؛ همدا راز الله خلکو ته خپل آیتونه بیانوي چې ځان وساتي.

په دې مبارك آیت کې څو مهمي لارښووني شوې:

- د روژې وخت د سحر د سپیني کرښي له راڅرګندېدو د شپې تر پیل پوري دئ.
- په روژه کې له څو شیانو منع شوي یو: خوراك، څښاك او له جنسي مباشرت؛ د مېرمني او مېړه تر منځ مباشرت.
- ځینو به داسي انګېرله چې د روژې په شپه کې هم باید له مباشرت ډډه وکړي؛ په دې آیت کې وضاحت شوی چې دا مباشرت جائز دئ.
- خو هغه مهال مباشرت مه کوئ چې په جوماتونو کې معتکف وئ.
- مسلمانانو داسي ګمان کاوو چې د روژې په شپه له ویدېدو وروسته باید له مېرمنو سره له نژدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوی ته کوم حکم نه وو شوی، که څه هم ځیني په دې باور دي چې دا کار په دوی حرام کړی شوی وو؛ خو نه په قرآن کې د داسي حرمت په اړه څه حکم راغلی او نه په حدیث کې؛ په خپله ئې همداسي انګېرله؛ خو احیاناً به ئې د خپل دغه ذهنیت خلاف کار وکړ او په دې سره به ئې د ګناه او خیانت احساس کاوو؛ الله تعالی ورته په صریحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمایل چې مېرمن د خاوند لپاره او خاوند د مېرمني لپاره له

ګناهونو د حفاظت سبب دئ؛ داسي لکه لباس چي انسان له تودوخي او يخنۍ ساتي.

- همدا راز ئې ورته وويل چي د مباشرت هدف او غايه بايد د اولاد درلودل وي؛ نه فقط د جنسي غريزې اشباع.
- دا وضاحت ئې هم وکړ چي د روژې وخت د سباوون د سپيني ګاري له راڅرګندېدو د شپې تر پيل پوري دئ؛ شپه د لمر په لوېدو سره پيل کېږي؛ د پيغمبر عليه السلام يو مبارك ارشاد په دې مفهوم دئ چي تر هغه چي زما امت په افطار کې تلوار او په سيمي (پيشلمي) کې تأخير کوي؛ د خير طمع ئې کېدی شي؛ دا ځکه چي دا کار د دې نښه ده چي دوی د بې ځايه تقوی په نامه په دين کې له ځانه څه نه دي زيات کړي؛ د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځای پيل شوی؛ مذهبي مشرانو او علماءو ئې له خپل لوري په دين کې زياتوالی راوستی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ئې درانه کړي او په لاس پښو کې ئې ورته زنځيرونه او زولنې اچولي؛ د هر پيغمبر يوه لويه دنده دا ګڼي چي راغلی دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځيرونه وشلوي. پيغمبر عليه السلام به د لمر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

## د روژې صحي او روغتيايي اغېز

ځيني ناپوه معترضين ادعاء کوي چي روژه د انسان صحت ته ضرر لري!! دا په داسي حال کې چي نن له ساينسي پلوه هم ثابته شوې چي روژه بې شمېره صحي ګټې لري؛ څو ئې دا دي:

د زړه بيماري، دويني فشار، د شکر لوړوالی او پړسوب (د وزن زياتوالی)؛ چي د اوسني دور ستر ستر او عام مرضونه دي او په مليونونو انسانان ترې ځورېږي؛ ستر عامل ئې په خوراك کې بد نظمي، عدم تعادل او توازن او اسراف دئ او چاره ئې روژه. د امريکا ٥٠٪ وګړي لويان د شکر په مرض (ديابت) اخته دي؛ دا د يوې تحقيقاتي ادارې نشر شوې وينا ده؛ عامل ئې دا ښودلی چي امريکايان د خوړو په خوراك کې اسراف

کوي او وزن ئې له طبيعي حالت زيات شوی. همدا مرض سټرګو، پښتورګو او د بدن عصبي مزو ته صدمه رسوي او له کاره ئې غورځوي.

روژه د انسان دماغ ته هغه فرصت ورکوي چې اضافي شحم او غوړ، ذخيره شوي غير ضروري مواد تجزيه، تصفيه او مصرف کړي.

انسان له يوې خوا تر ضرورت زيات خوراك کوي، داسې څه خوري چې کاذبه اشتهاء رامنځته کوي، لکه آچار او نور، داسې څه هم خوري چې نه يوازې ورته ضرورت نه لري بلکې ضرر لري.

دا خوراکونه د کال په اوږدو کې د ده په بدن کې تعادل له منځه وړي، په مضرو خواراکونو او توکو معتاد شي؛ لکه چای، پيپسي، مخدره مواد، تر ضرورت زيات خواږه، مالګه او غوړ.

د مثال په توګه: د انسان لپاره د غوړ، خواږه (ګلوکوز) او مالګې ضرورت دومره دئ لکه په شيدو کې چې شته؛ همدا مقدار کافي او متوازن مقدار دئ؛ ماشوم تر دوو کلونو پورې خپل ټول غذائي ضرورتونه له همدغو شيدو تر لاسه کوي او ورته کافي دي. موږ دا طبيعي اندازه او مقدار نه مراعاتوو، دا عدم مراعات مو يا په شکر مبتلا کوي او يا په پړسوب، زيات چاغوالي؛ او يا د ضعف او کسالت او نورو مرضونو باعث شي.

روژه له يوې خوا موږ ته فرصت راکوي چې په خوراك کې له اسراف، اعتياد او بدو عادتونو ځان وژغورو، له بلې خوا زموږ دماغ ته فرصت ورکوي چې په بدن کې له ناسمو او مضرو خوراکونو راپيدا شوې ستونزې حل کړي، تعادل رامنځته کړي، بدن مو طبيعي حالت ته واړوي، ذخيره شوي شحم او نور توکي يا مصرف کړي او يا ئې دفع کړي.

دماغ مو کله چې خوراك کوو نو له همدې د بدن ضرورتونه تأمينوي؛ او د مفيدو موادو له جذبولو او کارولو وروسته ئې فضله مواد له مختلفو لارو دفع کوي؛ د تنفس، خولو، ادرار او نورو لارو. خو کله چې اړ شي ذخيره شوي مواد وکاروي او د بدن ضروري انرژي او ويټامينونه

تأمین کړي، نو له ذخیره شوو توکو او شحم استفاده کوي او فضله ئې د خولې له لارې دفع کوي، په روژه کې د خولې د بوی یو دلیل همدا دئ.

دماغ مو په کال کې یوې میاشت فراغت ته ضرورت لري چې بدن مو تصفیه کړي؛ او طبیعي، سالم او متعادل حالت ته ئې راوګرځوي.

دا عدت داسي دئ لکه چې یوه مېرمن واده شي، د لومړي مباشرت په نتیجه کې د دې په بدن کې خاص تغییرات رامنځته شي، له نوي حالت سره ځان عیار کړي، ځانګړي هورمونونه ئې په بدن کې تولید شي، کله چې اولاد وزېږوي، یا ئې مېړه وفات شي یا طلاق کړی شي نو تر بل مباشرت؛ او بل ازدواج پوري باید د عدت په نامه یوه موده له مباشرت ډډه وکړي؛ په یوه حالت کې نژدې څلوېښت ورځې، په بل کې درې حیضه او په بل کې څلور میاشتي او لس ورځې؛ دا عدت ئې د دې لپاره دئ چې بدن ئې عادي حالت ته راوګرځي او د مخکیني مباشرت اغیز او تأثیرات په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي او نوي مباشرت ته چمتو شي؛ که په همدې موده کې مباشرت وکړي نو ستونزي ورته زېږوي او په هورمونونو کې ئې بدنظمي رامنځته کېږي.

نن ساینس ته ثابته شوې چې هر مباشرت د مېرمنو په بدن کې ځانګړي هورمونونه رامنځته کوي، که واده شوې مېرمن له پردي کس سره مباشرت وکړي نو د لابراتواري معایناتو له مخي دا تشخیص کېدی شي چې دې مېرمني له بل چا سره هم مباشرت کړی. موږ د خوراکونو په اړه همداسي عدت ته ضرورت لرو. روژه همداسي عدت دئ؛ د مضرو عادتونو د تصحیح او تعدیل او په سمو او رغنده عادتونو ئې د بدلولو موده او فرصت.

روژه موږ ته دا هم راښیي چې انسان کولی شي په دوه وخته خوراك بسنه وکړي؛ سحر او ماښام؛ او د شپې خوراك ئې باید له خوب څو ساعتونه وړاندې وي؛ او دا هغه څه دي چې نن ئې طبي متخصصین سپارښتنه کوي؛ او د ډېر چاغوالي یو عامل د شپې ناوخته خوراك او متصل ئې خوب بولي؛ که تاسو د ټولو مرغانو او حیواناتو د خوب او

خوراك طبيعي او فطري ترتيب او تنظيم ته ځیر شي نو وبه گورئ چي سحر وختي راپاڅي او خوراك کوي او ماښام خپل خوراك بندوي او څملي.

## روژه د خطرناکو بېماريو علاج

نژدې پنځوس کاله وړاندي؛ دقيقاً هغه مهال چي له زندان ووتلم؛ د روژې په اړه مي د يوه روسي طبيب کتاب ولوست؛ ده په روژې سره د گڼ شمېر خطرناکو بيماريو علاج کړی وو؛ څلوېښت ورځنۍ مسلسله روژه؛ خو داسي چي په دې موده کي به ئې تر علاج لاندي بيمار ته يوازي کله کله د تودو اوبو او خوږ چای څښلو اجازه ورکوله؛ په توبرکلوز اخته مريضان ئې چي د نوموړي طبيب په وخت کي ئې علاج نه وو موندل شوی؛ له همدې لاري تداوي کړي وو، حتی د هغو افرادو نومونه او عکسونه ئې په کتاب کي راوړي وو چي سپين وېښتان ئې د همدې روژې په طفيل بېرته تور شوي وو.

زه له خپلي تجربې تاسو ته وايم:

په روژه کي او مخصوصاً مازديگر لوري ته مي حالت تر بل وخت ښه وي او نشيط وم. ترجيح ورکوم چي پر يوې علمي موضوع بحث او وينا مي د روژې په حالت کي وي. دا ځکه چي د خوراك هضم، جذب او سلولونو ته انتقال د انسان مغز زيات مصروفوي او په روژه کي له دې مصروفيت فارغ وي.

ما په اويا کلنۍ کي يو ځل وغوښتل د خپلو روژو تخميني شمېر معلوم کړم؛ ما تر هغه مهال بايد ۵۵ مياشتي فرضي روژه نيولې وی؛ له بلوغ وروسته تر ۷۰ کلنۍ پوري؛ خو ما نژدې ۱۵۰ مياشتي روژه نيولې وه؛ اوس په ۷۵ کلنۍ کي يم؛ الحمد لله چي هيڅ مريضي نه لرم او گمان کوم چي يوه وجه ئې همدا روژه وه.

الله تعالی د انسان د بدن په هري حجرې کي داسي ماليکولونه خلق کړي چي ډېر مهم کاري معلومات او خاصو کارونو د ترسره کولو قدرت

او وړتیا په کې تعبیه شوې؛ تر ټولو مشهور مالیکول ئې د اِمتور په نامه یاد شوی؛ د انسان بدن له نژدې ۳۷،۲ تریلیون حجرو جوړ شوی؛ په هري حجرې کې هره ورځ دومره چاري تر سره کېږي چي ویلی شو د زمکي د ټولو انسانانو تر ورځني کار څو برابره زیات دي؛ د اِمتور مالیکولونه په دغو ټولو حجرو کې فعال او اغېزمن شتون لري؛ د ډېرو نورو وظائفو تر څنګ دوه مهم او اساسي کارونه تر سره کوي: ۱- زړې، ضعیفي او له صحي پلوه ناروغي حجرې تشخیصوي؛ او د رغولو هڅه ئې کوي؛ ۲- که د دې وړ نه وې چي ترمیم او ورغول شي نو له منځه ئې وړي او په نوو حجرو ئې تعویضوي. داکتر سباتیني چي د اِمتور کاشف دئ؛ د دې مالیکول د کار او دندي څرنګوالی؛ د یوه مثال په ترڅ کې داسي انځوروي:

فرض کړئ د یوه ستر ښار رغول او جوړول؛ یوه ډېر ماهر او پوه مهندس ته سپارل شوی؛ هغه به زاړه تعمیرونه یا رغوي او یا له منځه وړي او پر ځای به ئې نوي تعمیرونه جوړوي؛ هغه به دا پرېکړه کوي چي څومره تعمیرونه تخریب کړي، څومره ترمیم کړي، څومره نوي جوړ کړي، دا نوي څنګه وي، له کومو موادو ئې جوړ کړي، د هر کور او ټول ښار نقشه څنګه وي، څومره کارګران استخدام کړي؛ ښار باید تل له کثافاتو پاک وساتي؛ دې ته ئې پام وي چي د هر کور او ټول ښار؛ هواء صافه او سالمه وي؛ د اِمتور حیثیت او دنده په بدن کې دغه ماهر انجنیر ته ورته ده.

متخصصینو تر اوسه تقریباً ۴۸ هغه عوامل پېژندلي چي د امتور د فعالیتونو پر څرنګوالي اغېز لري. امتور د حجراتو د جوړولو او ودي تر څنګ د اتوفیجي تر نامه لاندي د حجراتو د ترمیم دنده هم په غاړه لري؛ که لازم مواد په واك کې ولري نوې حجرې جوړوي؛ خو که د دې موادو رسېدل وځنډېږي؛ د بیمارو او ضعیفو حجراتو له منځه وړلو او په نویو حجراتو ئې بدلولو ته مخه کړي؛ د اتوفیجي عملیې کاشف داکتر اوهسومي نومېږي چي په ۲۰۱۶ کې ئې د نوبل جائزه تر لاسه کړه؛ هغه

دا وموندله چې هر څومره بدن ته د نویو موادو رسېدل وځنډېږي؛ امتور ته د ترمیم فرصت په لاس ورځي؛ او د اتوفیجي عملیه مزید فعاله کېږي؛ په همدې کې د انسان او نورو ژوو د روغتیا، ښه صحت او اوږد عمر راز پروت دئ؛ هغوی عملاً دا وموندله چې د کوسه په نامه یو ډول ستر ماهیان؛ له دې کبله تر ٤٠٠ کلونو پورې عمر کوي چې په حجراتو کې ئې د اتوفیجي عملیه ډېره فعاله وي.

متخصصینو ته اوس دا واضح شوې چې هر څومره بدن ته هغه غذائي مواد ژر ژر ورسېږي چې پروتین او ګلوکوز لري؛ په همدې پیمانه امتور د نویو حجراتو په تولید مصروف شي او بې تناسبه چاغي رامنځته کېږي؛ خو که امتور ته تر اتو ساعتونو زیات وخت؛ د زړو او بیمارو حجراتو د ترمیم او له منځه وړلو فرصت ورکړی شي؛ د انسان په سلامتیا او اوږد عمر کې مرسته کوي؛ تر وخت وړاندې زړښت یو سبب او دلیل دا دئ چې بدن ته دا فرصت او مجال نه دئ ورکړی شوی چې زړې، کمزورې او بیماري حجرې له منځه یوسي او ځای ئې نویو حجرو ته تخلیه شي؛ روژه همدا فرصت او لازم شرائط د اتوفیجي عملیې لپاره چمتو کوي.

## د روژې معنوي ارزښت او اغېز

له معنوي پلوه د روژې ارزښت دومره دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: یوه ورځ روژه او هغه هم په سنګر کې؛ انسان د اویا کلونو په واټن له دوزخ لرې کوي. یعني له هغو عملونو ئې ساتي چې دوزخ ته ئې بیایي.

مخکې مو وویل چې روژه یوه مهمه تربیتي دوره ده؛ داسې لکه د سرتېرو او کوماندو ځواکونو د روزلو دوره چې په هغې کې سرتېري سخت مشقونه او تمرینونه کوي؛ منډې وهل، په سینه او څنګلیو خوځېدا، له دېوالونو اوښتل، د اور له لمبو ټوپ وهل، په ځنګله کې په یوازې سر شپې او ورځې تېرول، له خوراك څښاك پرته؛ او همداسې په ځنګله کې ځان ته

خوراك لټول، لوږه او تنده ګالل، په اوبو او چکړ کې تګ ... او دې ته ورته سخت سخت تمرينونه، په همدې سره له هغه يو مضبوط او زړه ور سرتېرى جوړېږي. د روژې يوه مياشتنۍ دوره همداسي تربيتي دوره ده. په همدې سره د الله د لارې هغه مجاهدين روزل کېدى شي چې د ستر قرآن د حملولو، پلي کولو، د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسولو او د خداى پر زمکه د خداى دين قائمولو وړتيا او همت ولري؛ د دوى د روزنې لپاره روژه يوه مهمه تربيتي دوره ده؛ لمونځ، زکات، حج او نور عبادات هم دې ته ورته د يوه مجاهد او داعي انسان په روزلو کې خپل خپل اغېز لري.

آيا پوهېږئ چې د قرآن خلاصه څه ده؟ ټول قرآن د فاتحې په سوره کې خلاصه شوى او د فاتحې محوري او مرکزي مضمون دا آيت دئ: إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ: يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو؛ موږ هره ورځ په لسګونو ځله او په لمانځه کې او د الله تعالی په وړاندې همدا ستر تعهد کوو؛ له الله تعالی سره په مکرره او مؤکده توګه ژمنه کوو چې يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو؛ له تا پرته نه بل چا ته سر ټيټوو او نه بل درشل ته لاس اوږدوو؛ د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام د رسالت او دعوت خلاصه همدا ده؛ نوح عليه السلام، هود، صالح، ابراهيم، موسى او عيسى عليهم السلام خپلو امتونو ته همدا ويلي: ... يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ: اې زما ولسه! د الله عبادت وکړئ؛ له هغه پرته بل معبود نه لرئ. رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي:

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۢ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ٦٤ آل عمران

ووايه: اې اهل کتاب! هغه خبرې ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ يو شانته ده او هغه دا چې: له الله پرته به (د بل چا) عبادت نه کوو او

هيڅ څه به ورسره نه شريكوو او زموږ ځيني به ځيني نور له الله پرته ارباب نه نيسي؛ خو كه ئې دغه وكړه نو ورته ووايئ: شاهد اوسئ چي موږ منقاد او مسلمان يو.

اهل كتاب ته بلنه وركړه چي راشئ هغې خبري ته چي ستاسو اصلي دين ئې هم غوښتنه كوي او زموږ دين هم؛ او هغه دا چي:

- يوازي د يوه الله عبادت به كوو، له ده پرته به نه د بل چا عبادت كوو او نه به بل ته دعاء.
- هيڅ څه به له الله سره نه شريكوو.
- ځيني به د ځينو نورو لپاره (رب) نه وي، دا غلطي به نه كوو چي د ځان په څېر يوه انسان ته د رب مقام او منزلت وركړو، دا ظلم به نه كوو چي ځيني د ځينو نورو لپاره له ځان اربابان جوړ كړي.

له دې آيت څو مهمي او اساسي خبري معلومېږي:

- د دين اصلي او بنيادي خبري همدا درې خبري دي. ټول الهي دينونه همدا خبري كوي. په كوم مذهب او دين كې چي د دغو دريو خبرو خلاف څه وموندل شي؛ هغه مُحَرَّف مذهب او دين دئ.
- كله انسان هومره جاهل او ذليل شي چي د ځان په څېر انسان ته د رب مقام وركړي!! د هغه بنده شي، هغه ورته حلال او حرام ټاكي او دى ئې مني!! هغه له الله سره په الوهيت او ربوبيت كې شريك كړي، هغه ته دعاء كوي او له هغه غيبي مرسته غواړي.

د داسي ټولني جوړول چي انسانان ئې له الله تعالى پرته بل ته نه د ذلت سر ټيټ كړي او نه د احتياج لاس اوږد كړي؛ د هغه چا دنده او رسالت دئ چي پر الله تعالى د ايمان دعوى او اراده لري او قرآن ئې د ژوند لارښود وي. او داسي ټولنه يوازي هغه مجاهدين جوړولى شي چي د كلك عزم، لوړ همت، د لوى زړه خاوندان او صابر وي؛ ستونزي ګاللى شي او خپل هوى او هوس مهارولى شي؛ روژه له روژتي همداسي مجاهد جوړوي.

## روژه الله تعالی ته د قرب وسیله او د دعاء اجابت ذریعه ده

قرآن د روژې د بحث په ضمن کې فرمايي:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾ البقره

او کله چې زما بندګان زما په اړه تا وپوښتي؛ نو زه یقیناً نژدې یم، کله چې دعاء کوونکی راته دعاء وکړي نو دعاء ئې قبلوم، نو زما بلنه دې ومني او پر ما دې ایمان راوړي؛ چې رشد او کمال ته ورسي.

د روژې په بحث کې د دې خبرې له کولو معلومېږي چې د روژې په حالت کې انسان خپل رب ته ډېر ورنژدې وي او دعاء ئې اجابت ته قریب.

## روژه له حرامو د ځان ساتنې مشق

د روژې د بحث په دوام کې د قرآن دا لارښوونه هم زموږ مخې ته ځلېږي:

وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُوا۟ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا۟ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾ البقره

او مالونه مو په خپلو کې په ناحقه مه خورئ او واکمنانو ته ئې د دې لپاره مه وړاندې کوئ چې د خلکو د مال کوم څه په ناروا وخورئ؛ په داسې حال کې چې پوهېږئ.

یعنې له ناروا معاملاتو ډډه وکړئ، یو د بل مال په ناروا مه خورئ، حاکمانو ته د دې لپاره رشوتونه مه ورکوئ چې د دوی په زور د بل مال په ناحقه غصب کړئ؛ په داسې حال کې چې ښه پوهېږئ دا د بل مال دئ او غصب کول ئې درته حرام دي.

د روژې په بحث کې دا الهي لارښوونه ښيي چې روژه په اصل کې له حرامو د ځان ساتنې او په حلال رزق د قناعت کولو لپاره فرض شوې،

ځوك چې د الله لپاره حلال رزق پرېږدي هغه به څنګه حرام خوري او د دې لپاره به حکامو ته رشوت ورکوي چې د بل مال په ناروا توګه غصب کړي.

## روژه په رواياتو کې

باید وګورو چې د روژې په اړه په رواياتو کې څه راغلي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم خپل امت ته څه لارښووني کړې؟ د دې لپاره مو له صحيح بخاري د روژې کتاب غوره کړی؛ ټول اړوند روايات له ژباړې او لازمي شرحي سره وړاندې کوو.

## د روژې کتاب

### ۱ باب: د روژې فضيلت

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلا يَرْفُثْ وَلا يَجْهَلْ وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ، يَتْرُكُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِي؛ الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا». (بخاری: ۱۹۸۱)

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (روژه ډال دئ؛ نو روژتی به نه د فحش وينا کوي (نه جماع)؛ او نه جاهلانه اعمال؛ که کوم کس ورسره جګړه وکړي او يا ئې وښکنځي؛ نو ودي وايي: زه روژه يم؛ دوه ځلي؛ قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دئ د روژتي د خولې بوی د الله تعالى په

نزد کې د مشکو تر بوی ښکلی او غوره دئ؛ (الله تعالی فرمايي): روژتي خپل خواړه، څښاک او شهوت زما لپاره پرېږدي؛ روژه خاص زما لپاره ده او خاص زه ئې بدله ورکوم؛ دا په داسي حال کې چي هره نېکي لس برابره ثواب لري؛ (خو د روژې ثواب به الله تعالی په خپله ټاکي).

دا روایت په بخاري کې يو ځل راغلی؛ غريب دئ؛ په ۵ طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: عَبْد اللَّهِ بْن مَسْلَمَة، مَالِك، أَبو الزِّنَادِ، الأَعْرَجِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ؛ له بخاري او مسلم پرته په بل هيڅ مهم کتاب کې نه دئ راوړل شوی؛ د دواړو راويان سره ورته دي؛ په متن کې ئې يوازي دومره توپير شته چي د صحيح مسلم په روايت کې د مرتين پر ځای إِنِّي صَائِمٌ، إِنِّي صَائِمٌ راغلي.

## ۲ باب: د ريان دروازه خاص د روژتيانو لپاره ده

عَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّ فِي الجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ، لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَقُومُونَ لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ " بخاری: ۱۸۹۶

له سهل رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (په جنت کې يوه دروازه ده چي رَيَّان ورته ويل کېږي؛ د قيامت په ورځ به روژتيان ترې داخلېږي او له دوی پرته به هيڅوک نه ترې ننوځي؛ وبه ويل شي: روژه نيوونکي چېري دي؟ نو هغوی به پاځي؛ له دوی پرته به هيڅوک نه ترې ننوځي؛ او کله چي هغوی ننوځي وبه تړل شي؛ او هيڅوک به ترې داخل نه شي).

(الريان) د (الرَّيُّ) مبالغې صيغه ده؛ چي د تندي ضد ده؛ او معنی ئې ښه ډېر تنده ماتوونکی ده. صائم تندي ګاللې نو جنت ته له دغې دروازې ننوتل ورسره ښايي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللَّهِ، هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ» فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ». (بخاری: ۱۸۹۷)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (ځوک چي د الله تعالی په لار کې دوه ګوني (دوه شيان؛ لکه دوه جوړه جامې، دوه درهم او دينار...)؛ انفاق کړي؛ د جنت له دروازو به غږ شي: اې د خدای بنده! دا دروازه غوره ده؛ نو ځوک چي د لمونځ کوونکو له ډلي وي د لمانځه له دروازې به وبلل شي، ځوك چي د مجاهدينو له ډلي وي؛ د جهاد له دروازې، روژتی به د ريان له دروازې او صدقه ورکوونکی به د صدقې له دروازې وبلل شي). ابو بکر رضي الله عنه وويل: يا رسول الله! مور او پلار مي تر تا جار؛ هغه خو څه ضرر نه کوي چي له دې ټولو دروازو وبلل شي؟ او آيا داسي ځوك به هم وي چي له ټولو دروازو وبلل شي؟ وئې فرمايل: هو؛ هيله لرم چي ته له همدغو وې).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۹۷ - ۳۲۱۶ - ۳٦٦٦

توپير: په يوه کې مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ په بل کې مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، په يوه کې مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا؛ او په بل کې مَا عَلَى هَذَا الَّذِي يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، وَقَالَ: هَلْ يُدْعَى

مِنْهَا كُلِّهَا أَحَدٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ راغلي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ». (بخاری: ١٨٩٨)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (د رمضان مياشت چي راشي نو د جنت دروازې پرانيستل شي).

وفى رواية عنه قال: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ». (بخاری: ١٨٩٩)

او په بل روايت کې ئې ويلي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: (کله چي رمضان راشي د آسمان دروازې پرانيستل شي، د دوزخ دروازې بندي شي او شيطانان په زنځيرونو وتړل شي).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٨٩٩ – ٣٢٧٧.

توپير: سره له دې چي د دواړو رواياتو إسناد يو شان او په اته طبقو کې يو يو راوي لري؛ خو په متن کې ئې دا توپير دئ چي په يوه کې إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ؛ او په بل کې إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الجَنَّةِ؛ راغلي. په نورو کتابونو کې هم دا روايت راغلی؛ په ځينو کې إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ راغلي؛ اما د ټولو لومړی راوي ابو هريره او په ځلورمي طبقې کې الزهري دئ؛ له ده وروسته راويان بېل بېل دي.

د دې روايت په ارتباط ځو پوښتني راولاړېږي چي ځواب ايجابوي:

- له دغو دريو روايتونو به کوم يو او د کوم دليل له مخي غوره کوو؟ ناچار او دې ته اړ يو چي يو به ترې غوره کوو؛ بايد وګورو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به کومه خبره کړې وي؛ د رمضان راتلو سره د جنت دروازې پرانيستل کېږي؛ که د آسمان او که د الله تعالى د رحمت؟

په دوی کې د رحمت دروازه له موضوع سره مناسبت لري؛ یعني د رمضان میاشت د الله تعالی رحمت ته د لاسرسي غوره فرصت دئ؛ کولی شو له خنډونو او موانعو تېر او د رحمن رب رحمت او پېرزوني تر لاسه کړو؛ دا ځکه چې د الله تعالی رحمت په نېکو عملونو تر لاسه کېدی شي او نېك فرصتونه او وختونه ئې ظرف شي.

- دلته باب په حقیقي معنی راغلی که په مجازي معنی او د یوې استعارې په توګه؟ ځواب کاملاً ځرګند دئ او هغه دا چې په ټولو هغو مواردو کې چې د غیر مجسم او معنوي امورو په ارتباط د مجسمو شیانو لپاره وضع شوي نومونه او الفاظ کارول کېږي؛ مجازي معنی ئې مراد وي او د استعارې په توګه راځي؛ د الله تعالی رحمت کوم مجسم شی نه دئ چې دروازه ولري او تړل کېدا او پرانیستېدا ایجابوي؛ معنی ئې فقط دا ده چې په روژې سره د الله تعالی رحمت ته د رسېدو لار راته پرانیستل کېږي.
- آیا د شیطان د تړل کېدو معنی دا ده چې لاس پښې ئې په زنځیرونو تړل کېږي او که دا چې د فعالیت مجال پرې تنګ شي او د خلکو د بې لارې کولو فرصت او مجال له لاسه ورکړي؛ همدا دوهمه توجیه سمه او دقیقه ده؛ دا ځکه چې عملاً ګورو په ملیونونو انسانان د روژې له برکته د شیطان له شرارتونو خوندي پاته کېږي؛ همدا دوی خپل شیطانان مهار کړي او د هغه وسوسو ته له تسلیمېدو ځان ساتي؛ اما نور د مخکې په څېر د شیطان په لار روان او د هغه تر بریدونو لاندې وي.

یو چا تر دې روایت لاندې په خپل تعلیق کې لیکلي:

قَالَ: (أَبْوَاب السَّمَاء)، وَفِي حَدِيث قُتَيْبَة الْمَاضِي قَالَ: (أَبْوَاب الْجنَّة)، وَقَالَ ابْن بطال: الْمُرَاد من السَّمَاء الْجنَّة بِقَرِينَة ذكر جَهَنَّم فِي مُقَابلَة. قلت: جَاءَ فِي رِوَايَة: (أَبْوَاب الرَّحْمَة)، وَلَا تعَارض فِي ذَلِك، فأبواب السَّمَاء يصعد مِنْهَا إِلَى الْجنَّة لِأَنَّهَا فَوق السَّمَاء، وَسَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحْمَن كَمَا ثَبت فِي (الصَّحِيح).

(فتحت) المراد حقيقة الفتح وقيل هو كناية عن كثرة الطاعات. (أبواب السماء) المراد بالسماء الجنة لأنها يصعد منها إلى الجنة لأنها فوق السماء وسقفها عرش الرحمن. (سلست الشياطين) شدت بالسلاسل ومنعت من الوصول إلى بغيتها من إفساد المسلمين بالقدر الذى كانت تفعله فى غير رمضان]؛

د دې وینا خلاصه دا ده چې د ده له نظره (فتحت) په حقیقي معنی راغلی او ګواکې عملاً د آسمان او جنت دروازې پرانیستل کېږي او د دوزخ دروازې تړل کېږي!! دا د اهل ظاهر رأی او ادعاء ده؛ دوی ته وایو:

• قرآن د جنت او دوزخ د دروازو په اړه وایي: دا به هغه مهال پرانیستل کېږي چې قیامت تېر شوی، نوې زمکه او نوی آسمان خلق شوي، انسانان له قبرونو راپاڅېدلي، د حشر میدان کې جمع شوي، محاسبه تر سره شوې، هر چا ته خپله عمل پاڼه ورکړی شوې، ډلې ډلې د فرشتو په معیت کې د جنت او دوزخ لوري ته خوځول شوي، جنت او دوزخ په همدغې نوې زمکې کې دوی ته رانژدې شوي، هره ډله به له خاصې لارې جنت او دوزخ ته ننوځي؛ دغه مهال به دا دروازې پرانیستل کېږي؛ قرآن فرمايي:

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنْكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾ الزمر

او هغه به د دوزخ په لوري ډلې ډلې وخوځول شي چې کفر ئې کړی، تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته پرانیستل شي او څارونکې ئې ورته

ووايي: آيا تاسو ته ستاسو له ډلې داسې پېغمبران نه وو درغلي چې ستاسو د رب آيتونه ئې درته لوستل او د خپلې دغې ورځې له مخامخېدو ئې وېرولئ؟ وبه وايي: ولې نه؛ خو د کافرانو په اړه د عذاب وينا تر سره شوه؛ وبه ويل شي: د دوزخ پر دروازو ننوځئ په هغه کې تلپاتې، نو د دغو کبرجنو مېشت ځاى څومره بد دئ!!

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴿٧٣﴾ الزمر

او هغه به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چې له خپل رب وېرېدلې؛ تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته پرانيستل شي او څارونکې ئې ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښېرازه اوسئ، نو د تلپاتو په شان ورننوځئ.

د جنت او دوزخ دروازې دغه مهال پرانيستل کېږي نه تر دې وړاندې؛ او يوازې دغه مهال ئې پرانيستل معنى لري نه تر دې وړاندې.

د قرآن دا يقيني او له شك وتلې وينا به منو که د هغه روايت ظني ادعاء چې په څلورو طبقو؛ صحابه وو، تابعينو او اتباع تابعينو کې يو يو راوي لري؛ او امام بخاري ته له اتم نسل رسېدلې؛ او هغه هم په متعارضي بڼې کې؛ يو ئې د ابواب السماء خبره کوي او بل ئې د ابواب الجنة؟!!

مګر قرآن موږ ته دا لارښوونه نه ده کړې چې د يوه مدعي ادعاء او وينا به هغه مهال معتبره ګڼو چې دوه، درې او حتى څلور شاهدان ولري؛ هغه هم په عادي مسائلو کې؛ د مهمو اعتقادي مسائلو په اړه به څنګه او ولې يوه فرد ته منسوب ظني ادعاء او وينا منو؟

مګر الله تعالى موږ ته دا لارښوونه نه ده کړې چې هر اختلاف به قرآن ته راجع کوو او وروستۍ پرېکړه به د قرآن له مخې کوو؟

که څوك پوښتنه وکړي: د روژې په مياشت کې د آسمان، جنت او دوزخ د دروازو تړل کېدا او پرانيستېدا به مؤمن ته څه ګټه رسوي او کافر ته څه تاوان؛ نه مؤمن اوس جنت ته درومي او نه کافر دوزخ ته!!؛

آیا اهل روایت د خپل منطق او اسلوب له مخې دې ته کوم معقول او د منلو وړ ځواب لري؟ د مُسند احمد روایت کې د ابواب السماء او ابواب الجنة پر ځای ابواب الرحمه راغلي چې د بخاري تر روایاتو ارجح دئ؛ ولې مو د دې پر ځای هغه روایات غوره کړي؛ د کوم دلیل له مخې؟! مُسند احمد کې دا روایت په دې صیغه راغلی:

۷۷۸۰ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ، فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ"

۳ باب: رمضان که د رمضان میاشت

په بخاري کي دا باب داسي دئ: هَلْ يُقَالُ رَمَضَانُ أَوْ شَهْرُ رَمَضَانَ، وَمَنْ رَأَى كُلَّهُ وَاسِعًا: رمضان وویل شي او که د رمضان میاشت او که هغه چي پراخ ئې نیسي او ټول سم بولي)؛ عنوان له روایاتو سره ئې اړخ نه لګوي؛ ارتباط ئې واضح نه دئ؛ په صحیح مسلم کې ئې باب داسي دئ: (وجوب صوم رمضان لرؤیة الهلال) او همدا له اړوند روایاتو سره واضح مناسبت لري.

عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ» يعنى: هِلاَلِ رَمَضَانَ. (بخارى: ۱۹۰۰)

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي واورېدل چي فرمایل ئې: (کله چي د رمضان میاشت سپوږمۍ ووینئ نو روژه ونیسئ او چي (بله نوې سپوږمۍ) ووینئ؛ ماته ئې کړئ؛ او که درباندي پټه شوه (سپوږمۍ نه لیدل کېده)؛ نو اندازه ئې ولګوئ؛ یعني د روژې میاشتي د سپوږمۍ.

له دې شرحي داسي معلومېږي چي که د روژې میاشتي (سپوږمۍ) مو د ورېځو او بل سبب له کبله ونه لیدله نو د شعبان میاشت پوره

کړئ او بیا روژه پیل کړئ؛ همداسې به د روژې په پای کې کوئ.

ځینو روایت داسې تعبیر کړی چې که د روژې میاشت په پای کې د شوال میاشتې هلال ونه ګورئ نو ورته تکړه شئ (دېرشمه هم ونیسئ).

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۰۰ - ۱۹۰۶

توپیر: په یوه کې إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، په بل کې لاَ تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلاَلَ، په یوه کې وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا په بل کې وَلاَ تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ په یوه کې فَاقْدُرُوا لَهُ (لِهِلاَلِ رَمَضَانَ) او په بل کې یوازې فَاقْدُرُوا لَهُ راغلې.

رسول الله صلی الله علیه و سلم د قمري میاشتې د عمر په اړه څوارلس پېړۍ وړاندې فرمایلې چې قمري میاشت ۲۹ ورځې ده؛ په داسې حال کې چې هغه مهال عام ذهنیت دا وو چې قمري میاشت دېرش ورځې ده!! دا هغه دقیقه او علمي وینا ده چې انسانان ئې اوس په حقیقت پوه شوي؛ ساینس پوهان وایي چې قمري میاشت ۲۹ ورځې ۱۲ساعتونه ٤٤ دقیقې او ۳ ثانیې ده؛ راشئ دې روایاتو ته لږ ځیر شئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ذَكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: "كَمْ مَضَى مِنَ الشَّهْرِ" فَقُلْنَا: مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي ثَمَانٍ فَقَالَ: "لا" بَلْ مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي سَبْعٌ؛ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ يَوْماً فَالْتَمِسُوهَا اللَّيْلَةَ" رواه ابن حبان

له ابو هریره روایت دئ چې وئې ویل: د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا ته مو د قدر شپې یادونه وکړه نو وئې فرمایل: د میاشتې څومره تېره شوې؟ ومو ویل: دوه ویشت ورځې تېرې شوې او اته پاته دي. نو وئې فرمایل: نه؛ بلکې دوه ویشت ورځې تېرې شوې او اوه پاته دي؛ میاشت نه ویشت ورځې ده؛ نو له مخې ئې دا شپه ولټوئ. (یعني د قدر شپه)

۱۰۸۰- عَنْ ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ: «الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً، لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، إِلَّا أَنْ يُغَمَّ عَلَيْكُمْ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ» مسلم، السنن الكبرى للبيهقى

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: مياشت نه ويشت ورځي ده؛ نو تر هغه روژه مه نيسئ چي وئې ګورئ او تر هغه ئې مه ماتوئ چي وئې ګورئ او که درباندي وپوښل شوه نو خپلي ټاکلې مودې ته ئې ورسوئ (۳۰ ورځي پوره کړئ).

دې ته ورته روايات زيات دي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په مختلفو مواردو کې ويلي چي مياشت ۲۹ ورځي ده؛ همدا بايد د روژې د مياشتي د روژو اصلي شمېر ونيسو او دېرشمه به ئې يوازي هغه مهال نيسو چي د سپوږمۍ ليدل تثبيت نه شي؛ د ليدني لپاره ئې هم د دوو مسلمانو شاهدانو شهادت کافي دئ؛ دې روايت ته ځير شئ:

۱۰۸۱- وحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِى، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُمِّيَ عَلَيْكُمُ الشَّهْرُ فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ»

۱۰۸۱- عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْهِلَالَ فَقَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا، فَإِنْ أُغْمِىَ عَلَيْكُمْ فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ» صحيح مسلم

عن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ قَالَ أَلاَ إِنِّى قَدْ جَالَسْتُ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم وَسَاءَلْتُهُمْ أَلَا وَإِنَّهُمْ حَدَّثُونِى أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم

قَالَ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ وَانْسُكُوا لَهَا فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَتِمُّوا ثَلاَثِينَ وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ مُسْلِمَانِ فَصُومُوا وَأَفْطِرُوا. مسند احمد

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وويل: په ليدو سره ئې روژه ونيسئ او په ليدو سره ئې ماته کړئ؛ او که مياشت درباندې شکمنه شوه نو دېرش ئې وګڼئ او که دوه عادل مسلمانان ئې د ليدو شهادت ورکړي نو روژه شئ او إفطار ئې کړئ.

راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه لارښوونه لري؛ قرآن فرمايي:

... شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ....

... د روژې مياشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندې نښې او فرقان (د حق او باطل د بېلولو لپاره معيار)؛ نو چې څوک دا مياشت مومي هغه دې روژه ونيسي...

په دې مبارک آيت کې څو اساسي لارښوونې مومو:

- د دې مياشتې روژه د دې لپاره فرض کړی شوې چې په دې کې قرآن نازل شوی، دا د خلکو لپاره لارښود کتاب، دا د څرګندو لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو لپاره روڼ څراغ په کې نازل شوی؛ د دې ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره بايد روژه ونيسئ.
- په دې روژې سره به تاسو د الله په لويي او عظمت اعتراف کړی وي او د همدې روژې او قرآن د درناوي له کبله به مو هدايت په برخه شي.

د مياشتو لپاره دوه معروف تقويمونه لرو؛ يو ئې د لمر پر محور د زمکې په حرکت پورې او بل ئې د زمکې پر محور د سپوږمۍ په حرکت پورې مربوط دئ؛ زمکه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو کې يو ځل د لمر پر محور څرخي؛ دې ته ځينو د يوه کال نوم ورکړی، هغه ئې په دولسو مياشتو وېشلې، ځينې ئې دېرش او ځينې

ئې يو دېرش ورځي دي. او سپوږمۍ په (۲۹ ورځو ۱۲ساعتونو ٤٤ دقيقو او ۳ ثانيو) کي د رؤيت پړاو بشپړوي؛ دا موده ثابته ده؛ که څوك علمي محاسبې ته ارزښت ورکړي نو د بشپړ کال ټولي قمري مياشتي داسي ټاکل کېدی شي چي کمی او زياتی به په کي نه راځي؛ د محاسبې له مخي دا معلومېدی شي چي سپوږمۍ کله خپل مياشتنی مدار بشپړوي، په کوم ځای کي، په کوم ساعت، دقيقه او ثانيه له سترګو پټېږي او چېري، په کوم ساعت، دقيقه او ثانيه راڅرګندېږي او د نوې مياشتي مدار پيلوي. دا چي اسلام د مياشتي د پيل او پای لپاره رؤيت ته اعتبار ورکړی دا ډېره دقيقه او علمي وينا ده، ځکه د سپوږمۍ په ليدو سره ثابتېږي چي هغه د نوې مياشتي مدار ته داخله شوې. څوك چي رؤيت ته اعتبار نه ورکوي او د هري سيمي لپاره د مستقل او بېل رؤيت خبره کوي له دين او علم ډېر بې خبر دئ. اوس او د مخکي تللو وسائلو په مرسته؛ هغه ثانيه او سيمه هم په دقيقه توګه معلومولی شو چي سپوږمۍ له محاق وځي، د مخکينۍ مياشتي مدار ئې بشپړېږي او د نوې مياشتي مدار پيلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چي د رؤيت لپاره د دوه متقي انسانانو شهادت کافي ګڼل شوی. ناپوهان او هغه ټګماران چي د دښمن له لوري ګمارل شوي چي په امت کي اختلافات راولاړ کړي؛ له دې موضوع هم د اختلاف وسيله جوړوي، شيعه او بريلويان له سعودي او سلفيانو سره د سياسي او مذهبي اختلاف له کبله روژه او اختر يوه او حتیٰ دوه ورځي وروسته اعلانوي!! احناف د سپوږمۍ د مطالع (راڅرګندېدو) اختلاف د اعتبار وړ نه ګڼي؛ د قرآن، حديث او علم وينا همدا ده.

راشئ دا هم وګورو چي قرآن خپل مخاطب ته د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه څه لارښووني لري؛ قرآن د روژې د بحث په لړ کي د سپوږمۍ د ورو ورو ستربدو په اړه فرمايي:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَـٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ البقره

د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: دا د خلکو لپاره د وختونو او د حج د تعیین وسیله ده؛ او ښېګڼه دا نه ده چې کورونو ته له شا راشئ؛ بلکې ښېګڼه دا ده چې څوك ځان ساتنه وکړي؛ او کورونو ته له دروازو ننوځئ او له الله ووېرېږئ چې بریالي شئ.

خلکو به له پیغمبر علیه السلام راز راز پوښتني کولې او دا انتظار ئې درلود چې د دوی د هري پوښتني ځواب به ورکوي؛ د سپوږمۍ په اړه ئې هم ترې پوښتنه کوله چې دا څنګه راڅرګنده شي، وړه وي، ورو ورو لویه شي، بېرته وړه شي او د میاشتي په پای کې له سترګو غائبه شي؟

دلته د دوی په ځواب کې دوه خبري شوې:

• الله تعالی سپوږمۍ د وخت تعیین لپاره په دې بڼه کې پیدا کړې، د وخت د تعیین لپاره داسي وسیله ده چې هر څوك، لوستی او نالوستی؛ هم د ساعتونو تعیین پرې کولی شي، هم د میاشتو او هم د کلونو؛ که ئې کوم کال د دوبي په لومړۍ میاشت کې روژه نیولې وه او سږ کال بیا په همدې میاشت کې روژه نیسي؛ ډېر ژر کولی شي پوه شي چې په دې باندي شپږ دېرش کاله تېر شوي؛ د وخت دا محاسبه او تشخیص له بلې لاري ډېر ګران دئ.

• خو دا چې د میاشتي حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي؛ قرآن هغوی ته ویلي: اوس په دې پوهېدل تاسو ته ګران کار دئ؛ په یوه څه پوهېدل ځانته وخت او ځانته خاصه لار او مراتب لري؛ په خپل وخت او له خپلي لاري ئې د پوهېدو لپاره صبر وکړئ؛ لکه چې کورونو ته باید له خپلي دروازې ننوځئ نه له شا ئې؛ همدا راز په دې پوهېدل چې د سپوږمۍ حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي؛ دا هم خپله خاصه لار او خاص وخت او داسي خاصي پوهي ته ضرورت لري چې اوس ئې تاسو نه لرئ؛ نو تر هغه صبر وکړئ چې په دې پوهېدل درته ممکن شي. احیاناً له خپل وخت مخکې د یوه څه په اړه پوښتني؛ د دې پر ځای چې ګټه وکړي

انسان ته ستونزي راولاړوي؛ قرآن دغه مطلب ته په دې آيت کې داسي اشاره کوي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ١٠١﴾ المائدة

اې مؤمنانو! د هغو شيانو په اړه پوښتني مه کوئ چي که درته څرګند شي نو خفه به مو کړي او که په اړه ئې هغه وخت پوښتنه وکړئ چي قرآن نازلېږي نو درته څرګند به شي؛ الله دي د دې عفو وکړي او الله حليم بخښونکی دئ.

نن انسانانو ته جوته شوې چي سپوږمۍ په ۲۹ ورځو، ۱۲ ساعتونو، ٤٤ دقيقو او ۳ ثانيو کې يو ځل د زمکي او لمر تر منځ داسي واقع کېږي چي تياره خوا ئې د زمکي لوري ته او رڼه ئې د لمر لوري ته وي؛ دا مهال سپوږمۍ زموږ له سترګو په بشپړه توګه پټه وي؛ او کله داسي وي چي رڼه خوا ئې په بشپړه توګه د زمکي لوري ته وي؛ په دې انځور کې ئې کتلی شئ.




د زمکي پر محور د سپوږمۍ څرخېدا بيضوي مدار کې وي؛ کله زمکي ته ډېره نژدې او کله ډېره لري وي؛ کله ۳۸۴۳۹۷ کيلومتره او کله ۴۰۶۷۳۱ کيلومتره وي؛ نو ځکه ئې کله حجم راته ستر برېښي او کله

ووړ.

سپوږمۍ په ۲۷,۳ ورځو کې یو ځل همهاله هم پر خپل محور راڅرخي او هم د زمکې پر محور او دا د دې باعث کېږي چې موږ تل د سپوږمۍ یوازې یو مخ کتلی شو او بل ئې تل له موږ بل لوري ته وي؛ که تاسو د شپې له لوري او هغه مهال سپوږمۍ ته ځیر شئ چې بشپړه وي نو تور تور ځایونه به پکې وګورئ؛ دا هغه ځایونه دي چې د لمر وړانګې نه پرې لګېږي؛ یا د کومې لوړې سیورۍ پرې پروت وي او یا کندې وي؛ تل به سپوږمۍ همداسې ومومئ؛ او دا ښیي چې تل ئې همدا مخ موږ ته وي؛ خو د دې معنی دا نه ده چې تل د سپوږمۍ روښانه مخ زموږ لوري او تیاره ئې بل لوري ته او د لمر له رڼا محروم وي؛ سپوږۍ پر خپل محور راڅرخي او په دې سره د زمکې په څېر شپه او ورځ لري؛ خو شپه ئې زموږ د دوو اونیو برابره وي او ورځ ئې هم؛ نو ځکه ئې د ورځې له لوري د حرارت درجه تر ۱۲۷ درجې سانتي ګراد رسي او د شپې له لوري تر منفي ۱۷۳ درجې سانتي ګراد. دا چې موږ تل د سپوږمۍ یو لورى ګورو وجه ئې دا ده چې د زمکې پر محور د سپوږمۍ چورلېدا او پر خپل محور د هغې چورلېدا ۲۷,۳ ورځو کې وي؛ خو له یوه رؤیت تر بل رؤیت پورې ئې ۲۹ ورځې ۱۲ ساعتونه ٤٤ دقیقې او ۳ ثانیې وخت نیسي. یعني د زمکې او سپوږمې وضعي او انتقالي حرکت داسې تنظیم شوی چې له کبله ئې د قمري میاشتو یو دقیق تقویم زموږ په وړاندې ترسیم شي.

## ٤ باب: په رمضان کې دروغ او درباندې عمل نه پرېښودل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ».(بخاری: ۱۹۰۳)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و

سلم فرمايلي: (څوک چي دروغ ويل او په دروغو عمل کول ترک نه کړي؛ نو الله تعالی دې ته هيڅ حاجت نه لري چي هغه خپل خوراک او څښاک پرېږدي).

تکرار: دا روايت په بخاري کې ٢ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٩٠٣ – ٦٠٥٧؛ غريب دئ؛ په ٤ طبقو کې يو يو راوي لري.

توپير: په إسنادو کې ئې توپير فقط دومره دئ چي په پنځمه طبقه کې ئې راويان بېل بېل او دوه دي؛ په متن کې ئې توپير دا دئ چي په يوه کې فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ او په بل کې فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ أَنْ يَدَعَ راغلي.

دا روايت ښيي چي د روژې موخه او هدف دا دئ چي انسان هم د خوراك څښاك په ارتباط خپله خوله سمبال کړي او هم د وينا او خبرو له پلوه؛ که څوك په روژه کې دروغ وايي او په دروغجنو خبرو عمل کوي؛ نو روژه ئې د الله تعالی په نزد کې هيڅ ارزښت نه لري.

٥ باب: چاته چي ښکنځلي وشي؛ نو آيا وايي به چي روژه يم؟

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ الزَّيَّاتِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَالَ اللَّهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ، إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ " «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ المِسْكِ» " لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا: إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ، وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ " (بخارى: ١٩٠٤)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((الله تعالی فرمايي: « د بني آدم هر عمل په خپله د ده

لپاره دئ؛ خو روژه ئې زما لپاره ده او زه به ئې بدله یا ثواب ورکوم او روژه ډال دئ؛ نو که څوک روژه وي؛ نو خوشې کچه خبري او شخړې دي نه کوي؛ او چیغې دي نه وهي؛ او که چا ښکنځلې ورته وکړې او یا ئې جګړه ورسره کوله، نو ودي وایي: زه روژه یم؛ قسم په هغه ذات چې د محمد سا ئې په واک کې ده؛ د روژتي د خولې بوی الله ته د مشکو تر بوی ډېر په زړه پوري دئ؛ او د روژتي لپاره دوې خوشحالۍ دي چې دی خوشحالوي: هغه مهال چې روژه ماته کړي او خوشحال شي او هغه مهال چې له خپل رب سره مخامخ شي او پر خپلې روژې (او بدله ئې) خوشحال شي)).

تکرار: دا روایت په بخاري کې ٤ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۰٤ - ۵۹۲۷ - ۷٤۹۲ - ۷۵۳۸ -

توپیر: په دغو روایاتو کې دا جدي توپیر مومو: په یوه کې كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ په بل کې لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ راغلي.

څو پوښتنې راولاړېږي چې ځواب غواړي:

- په داسي حال کې چې د انسان ټول عملونه بلا استثناء داسي دي چې ګټه او تاوان ئې ده ته رسي؛ هم په دنیا کې او هم په آخرت کې؛ په دې روایاتو کې ولې روژه له دې اصل مستثنی شوې؟
- په دغو روایتونو کې کوم یو ئې صحیح دئ؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوب دا وینا چې وایي: (كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ) او که دا چې وایي (لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ)؛ ما د بخاري د ډېرو شارحینو توجیهات لوستلي؛ ځینو په ډېر تکلف سره هڅه کړې چې د منلو وړ توجیه ورته وړاندې کړي؛ خو نه دي توانېدلي او داسي څه ئې ویلي چې د زړه دړه نه ورته پرانیستل کېږي!

مسند احمد کې دا روایت په دې صیغه راغلی:

٧١٩٥ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، يَذَرُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ بِجَرَّاي - قَالَ يَزِيدُ: مِنْ أَجْلِي - الصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ "

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: هره نېکي لس برابره ئې بدله لري؛ روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم؛ زما لپاره خوراك او څښاك پرېږدي؛ روژه زما لپاره ده؛ زه به ئې بدله ورکوم؛

د مسند احمد بل روايت داسې دئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ، بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنَ النَّارِ "

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي: ستاسو رب فرمايلي: اې د آدم اولاده! د هرې نېکۍ بدله کې لس ښېګڼې دي؛ تر اوو سوو زيات والې پورې او تر ډېرو ډېرو زياتوالو پورې. او روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم؛ او روژه د دوزخ د اور په وړاندې ډال ده.

بل ئې داسې دئ:

٩٨٨٨ - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ: «كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ، وَالصَّوْمُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاسو له رب روايت کوي او وايي: ټول عملونه کفاره دي او روژه زما لپاره ده؛ زه به ئې بدله ورکوم.

که د بخاري او مسند احمد په رواياتو کې غور وکړو نو څو خبرې

راته جوته کېږي:

- د ټولو لومړنی راوي ابو هریره دئ.
- د دې معنی دا ده چې ابو هریره ته منسوب دغو متعارضو روایاتو کې یوازې یو به ئې صحیح وي او یوازې یو ترې غوره کولی شو.
- آیا له متعارضو روایاتو د یوه انتخاب؛ او نور ئې نه منل؛ له حدیث انکار دئ؛ همغسې چې اهل حدیث خپل رقیبان پرې تورنوي او په خلاف ئې همدا فتوی ورکوي؟!! دا نن د امت تر ۹۰٪ زیات مسلمانان د لمانځه د ځینو برخو په اړه د امام بخاري له روایاتو سره نه یوازې موافق نه دي بلکې د هغه خلاف عمل کوي؛ د قرائت خلف امام په اړه د بخاري روایات مرجوح گڼي او د قرآن د دې آیت خلاف ئې گڼي چې وایي: (وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ الأعراف: ٢٠٤: کله چې قرآن لوستل کېږي نو غوږ ورته ونیسئ او خاموش اوسئ چې رحم دربانديي وشي)؛ د رکوع او سجدې په تکبیرونو کې لاسونه نه لوړوي، د طاق رکعتونو تر منځ لنډه ناسته نه کوي؛ په جهر او لوړ غږ آمین نه وایي.... آیا دا ټول منکر حدیث دي؟! ته چې د قرآن صریح او څرگند آیت نه منې او یوه غریب روایت ته د قرآن پر آیت ترجیح ورکوې؛ د قرآن منکر نه یې او بل چې ستا غریب روایات نه درسره مني هغه د حدیث منکر دئ؟! امام بخاري او هر محدث چې له لسگونو زرو روایاتو دوه درې زره؛ د منلو وړ گڼلي او نور ئې په خپل کتاب کې د راوړلو وړ هم نه دي منلي؛ آیا دوی د حدیث منکرین دي؟ ټول امت په یوه وادي کې او ته په بلي کې؛ ټول فقهاء او ائمه یو څه وایي؛ خو ته او ستا مذهب بل څه؛ هغه چې ټولو خلکو ته د لېونې په سترگه گوري؛ یقیناً چې تر ټولو لوی لېونی دی دئ.
- په واضح توگه معلومېږي چې د مسند احمد روایات تر بخاري غوره، واضح او له ابهاماتو عاري دي.
- د بخاري په روایاتو کې ویل شوي لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ؛ هر عمل کفاره

لري؛ دا مطلب مبهم دئ؛ کفاره معمولاً د گناهونو او اشتباهاتو د جبران لپاره کارول کېږي؛ نه د نېك عمل لپاره؛ د مسند احمد په روایت کې داسي راغلي: الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ،: هره نېکي لس برابره ئې بدله لري؛ روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم؛ دلته د روایت لومړۍ او وروستۍ فقرو کې واضح همغږي او مناسبت شته؛ د مسند احمد بل روایت مزید وضاحت کړی او وايي: بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، د هري نېکي بدله کې لس ښېگڼې دي؛ تر اوو سوو زیات والي پوري او تر ډېرو زیاتوالو پوري؛ او روژه زما لپاره ده زه به ئې بدله ورکوم.

- همدا راز د بخاري روایت دا برخه لِكُلِّ عَمَلٍ كَفَّارَةٌ په مسند احمد کې په دې صیغه راغلې كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ: هر عمل کفاره او جبیره ده؛ یعني هر عمل د یوه څه د جبران سبب شي؛ د انسان یو عیب اصلاح، یو نقص رفع، یوه غلطي تصحیح او یوه گناه جبیره کړي؛ دا فقره واضح مفهوم افاده کوي او هغه بله مبهمه ده.

د دې روایت په اړه څو پوښتونو ته باید ځواب وویل شي:

١- په روایت کې د دې فقرې مطلب او معنی څه ده: يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ؟ آیا دا مطلب په قرآن کې راغلی او که رسول الله صلی الله علیه و سلم ته مستقله وحی شوې؟ د اهل روایت ادعاء خو به حتماً دا وي چي گواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د بېلې او مستقلې وحي په ترڅ کې ویل شوي!! خو هغوی له ځانه دا خبره کوي او د خپلې ادعاء لپاره هیڅ ثبوت نه لري؛ دا ټول په قرآن کې راغلي.

٢- آیا د روایت دا فقره «كُلُّ الْعَمَلِ كَفَّارَةٌ»؛ په قرآن کې مومو که نه؟

٣- آیا دا مطلب هم په قرآن کې مومو: يَا ابْنَ آدَمَ، بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ؟

ځواب دا دئ:

هو؛ دا مطالب ټول په قرآن کې راغلي؛ اړوند آیتونه ئې دا دي:

مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلا يُجْزَى إِلا مِثْلَهَا وَهُمْ لا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ الأنعام

څوك چې نېکي وکړي نو ده ته ئې لس برابره بدله ده او څوك چې بد کار وکړي نو يوازې وَرته سزا به ورکول کېږي او ظلم به نه پرې کېږي.

يعني له بنده سره د الله تعالی معامله پر عدل او فضل ولاړه ده، چا چې نېك کار وکړ الله تعالی د خپل فضل له مخې لس برابره بدله ورکوي او چا چې بد کار وکړ د خپل عدل له مخې ګناه ته ورته سزا ورکوي.

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ البقرة

د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي؛ هغې دانې ته ورته دئ چې اوه وږي راوټوکوي، په هر وږي کې سل دانې او الله چې چا ته وغواړي ورته مضاعف کوي ئې او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ.

يعني څوك چې خپل مال د الله په لار کې لګوي، دا کار د ده پر زړه، دماغ او شخصيت ژوري اغېزې او اثرات پرېږدي، ډېر ناوړه او خراب صفات او عادات ئې په غوره صفاتو او عاداتو بدلوي، حرص، بخل، له مال سره افراطي مينه، کبر، د مال له کبله پر بل د لويې احساس، بې وزله او نادار انسان ته په سپکه سترګه کتل او ډېر نور اخلاقي رذائل له منځه وړي او پر ځای ئې ترحم، زړه سوی، ايثار، قناعت، په حلال رزق اکتفاء او ډېرو نورو انساني ارزښتونو او اخلاقو ته وده ورکوي، په پورتنې آيت کې د انفاق دا اثرات هومره ژور او پراخ ګڼل شوي لکه يوه دانه چې اوه داسې وږي راشنه کړي چې په هر يوه کې ئې سل دانې وي او تر دې هم زيات، دا ځکه چې الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ،

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ۝٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ۝٧١﴾ الاحزاب

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د الله پروا وکړئ او په صفا او سمي وینا سره وینا کوئ؛ چې په دې سره به ستاسو عملونه درته اصلاح کړي او ګناهونه به مو درته وبخښي؛ او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ نو یقیناً چې په ستري بریا سره بریالی شو.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ۝٢٩﴾ الأنفال

اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له منځه یوسي او بخښنه به درته وکړي او الله د لوی فضل خاوند دئ.

یعني د تقوی په نتیجه کې به الله تعالی څو عنایات ستاسو په برخه کړي:

- داسي روڼ څراغ، دقیق محك او معیار، ژور بصیرت او فراست درکوي چې کولی شئ په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفید او مضر، دوست او دښمن تر منځ توپیر وکړئ او په هر وخت او هر حالت کې مناسبه فیصله وکړئ او ګټور تصمیم ونیسئ. د ژورو حقائقو ادراك، د نظر وسعت، په پیچلیو مسائلو او پداسي قضایاوو پوهېدل چې د سطحي نظر خاوندان ئې نه شي درك کولی، د تقوی نتیجه ده.
- ستاسو ناخوالي به له منځه یوسي، ستاسو فردي او اجتماعي وضعیت به اصلاح کړي، د سیئاتو او بدیو هغه توري وربخې به له منځه یوسي چې ستاسو پر فردي او اجتماعي ژوند ئې خپل وزر غوړولی.
- ستاسو ګناهونه به درته وبخښي. دې ته مو باید پام وي چې د تکفیر

السیئات او تغفیر الذنوب تر منځ توپیر شته؛ یو ئې د ناخوالو او بدو خصلتونو د له منځه وړلو په معنی او بل ئې د ګناهونو د بخښني په معنی دئ.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ... ﴿٨٩﴾ المائدة

الله مو په لغو او خوشې قسمونو نه نیسي؛ خو په هغو قسمونو مو نیسي چې تړون مو پرې کلك کړی؛ نو کفاره ئې لسو مسکینانو ته د هغه طعام اوسط ورکول دي چې خپل ټبر ته ئې ورکوئ؛ یا جامې ورکول او یا د یوه مریي آزادول؛ نو چا چې دا ونه موندل نو درې ورځې روژه نیول دي؛ چې کله هم لوړه وکړئ؛ نو دا ستاسو د لوړو کفاره ده.

نو د دې وینا (ستاسو له رب روایت کوي او وایي: ټول عملونه کفاره دي او روژه زما لپاره ده؛ زه به ئې بدله ورکوم)؛ معنی همدا پورتنی مطلب دئ؛ نه هغه څه چې اهل حدیث ئې ادعاء کوي.

## ٦ باب: څوک چې په زنا کې د واقع کېدو وېره لري نو روژه دې نیسي

عَنْ عَبْدِاللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَنِ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ». (بخاری: ١٩٠٥)

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ملګري وو چې وئې فرمایل: ((څوک چې د نکاح وس لري نکاح دې وکړي؛ ځکه نکاح (له حرام نظره) د سترګو ساتونکې

او د فرج (شرم ځایونو) مهاروونکې ده؛ خو که څوک د نکاح وس نه لري؛ نو پر هغه روژه لازمه ده؛ ځکه هغه د شهوت ماتونکې ده.

دا روایت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۰۵ - ۵۰٦٥ – ٥٠٦٦؛ مطلق غریب دئ؛ په ٤ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: الأَعْمَش، إِبْرَاهِيم، عَلْقَمَة او عَبْد اللَّهِ بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. درې واړه د متن او سند له پلوه سره ورته دي.

## ۷ باب: د میاشتې په لیدو روژه نیسئ او په لیدو ئې عید کوئ

عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً فَلا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعِدَّةَ ثَلاثِينَ». (بخاری: ۱۹۰۷)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((میاشت نه ویشت شپې وي؛ تر هغه چې سپوږمۍ مو نه وي لیدلې؛ روژه مه نیسئ او که سپوږمۍ د وریځي یا غبار له امله ونشئ لیدلی؛ نو دېرش ورځي پوره کړئ)).

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رضى الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آلَى مِنْ نِسَائِهِ شَهْرًا، فَلَمَّا مَضَى تِسْعَةٌ وَعِشْرُونَ يَوْمًا غَدَا أَوْ رَاحَ فَقِيلَ لَهُ: إِنَّكَ حَلَفْتَ أَنْ لا تَدْخُلَ شَهْرًا فَقَالَ: «إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعَةً وَعِشْرِينَ يَوْمًا». (بخاری: ۱۹۱۰)

له ام سلمه رضي الله عنها روایت دئ چې: یو ځل رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلو مېرمنو سره یوه میاشت ایلاء (مقاطعه) وکړه؛ کله چې نه ویشت ورځي تېرې شوې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم سهار یا له غرمې وروسته خپلو مېرمنو ته راغی؛ ورته وویل شول: تاسو خو قسم خوړلی وو چې یوه میاشت به له خپلو مېرمنو سره نه یو ځای کېږې؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (میاشت نه ویشت ورځي وي).

## ٨ باب: د عیدونو میاشتې نه کمېږي

عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «شَهْرَانِ لَا يَنْقُصَانِ: شَهْرَا عِيدٍ رَمَضَانُ وَذُو الْحَجَّةِ». (بخاری: ۱۹۱۲)

ابو بكرة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم روایت کوي چې فرمایلي ئې دي: ((دوې میاشتې داسې دي چې نه کمېږي: د عیدونو دوه میاشتې: رمضان او ذوالحجه)).

دلته هغو دوو میاشتو ته اشاره شوې چې له عیدونو سره تړاو لري؛ د روژې میاشت چې د فطر (کمکی) عید ورپسې دئ او ذو الحجه چې لوی اختر په کې دئ. د دې معنی څه ده چې دا میاشتې نه کمېږي؟ آیا معنی ئې دا ده چې دا دواړه به دېرش دېرش ورځې وي؟ او که دا چې دواړه هممهاله نه کمېږي؛ داسې چې دواړه به په یوه کال کې له دېرشو نه کمېږي؛ یعني که یوه کمه شي بله به بشپړه وي؟ او که معنی ئې له دې دواړو پرته بل څه ده؟ دقیقه رأی دا ده چې د میاشتو عمر برابر دئ همغه څه دئ چې رسول الله صلى الله علیه و سلم فرمایلي؛ ۲۹ ورځې او انسانان اوس پرې پوه شوي چې عمر ئې دېرش نه بلکې ۲۹،۵ ورځې دئ؛ او ټولې په بشپړه توګه سره برابرې دي؛ یوه ثانیه توپیر هم په کې نشته؛ د کمېدو معنی دا ده چې که د روژې میاشتې پیل کې سپوږمۍ ونه لیدل شوه او په نتیجه کې ئې تاسو ۲۹ ورځې روژه ونیوله؛ په روژې کې مو هیڅ کمی او نقصان نه دئ رامنځته شوی او که د ذي الحجې سپوږمۍ د ورېځو او غبار له کبله ونه لیدل شوه او تاسو د حج په سفر ولاړئ او د همدې میاشتې په نهمه مو له عرفات د حج مناسك پیل او بشپړ کړل؛ او وروسته داسې معلومه شوه چې دا ورځ د ذي الحجې نهمه نه وه؛ نو ستاسو حج مقبول او منل شوی او کوم نقصان او کمی نه دئ په کې راغلی.

امام بخاری رحمه الله له إِسْحَاق بن رَاهْوَيْه؛ همدا وینا نقل کړې: ذكره البخاري عن إسحق أنهما تامان في الأجر والثواب وإن نقصا في

العدد.

## ۹ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا قول: نه لیک کولی شو او نه حساب

عن ابْن عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لا نَكْتُبُ وَلا نَحْسُبُ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا يَعْنِي مَرَّةً تِسْعَةً وَعِشْرِينَ وَمَرَّةً ثَلاثِينَ». (بخاری: ۱۹۱۳)

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((موږ نالوستی ولس یو؛ نه لیکل کولی شو او نه حسابول؛ میاشت داسي او داسي وي (د لاسونو گوتو ته ئې اشاره وکړه)؛ چې کله نه ویشت او کله دېرش ورځې وي).

د بخاري دا روایت له هغو دوو روایتونو (۱۹۰۷ او ٦۱۹۱) سره تعارض لري چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: میاشت نه ویشت شپې وي؛ د دواړو لومړی راوي هم عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دئ؛ کوم یو ئې صحیح دئ؟؛ بخاري نه دئ په گوته کړی؛ څه به کوو؛ د دوو متعارضو روایاتو له منځه یوازې یو به ئې احتمالاً صحیح وي؛ دې ته په پام سره چې نن علماً ثابته شوې چې قمري میاشتي دقیقاً ۲۹ ورځې ۱۲ ساعتونه، ٤٤ دقیقې او ۳ ثانیې وي؛ نو همغه روایت صحیح دئ چې دغه خبره کوي.

## ۱۰ باب: له رمضان یوه یا دوې ورځې مخکې روژه نشته

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَتَقَدَّمَنَّ أَحَدُكُمْ رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْمَهُ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الْيَوْمَ». (بخاری: ۱۹۱٤)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې نبي صلی الله علیه و سلم

فرمايلي: ((له تاسو دي هيڅوک له رمضان يوه يا دوه ورځې وړاندې روژه نه نيسي؛ مگر هغه چې (په همدغو ورځو کې ئې عادتاً) روژه نيوله؛ نو هغه دي روژه ونيسي)).

يعني د شك روژه نشته؛ خو هغه څوك چې عادتاً د اونۍ په کومو ورځو کې روژه نيسي او همدا ورځې ئې د شك له ورځو سره برابرې شي نو کولی شي خپله عادي روژه ونيسي؛ خو نه د روژې د مياشتې په نيت بلکې د مخکينيو عادي روژو په نيت.

## ١١ باب: د الله دا قول: (أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ)

عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَال: كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ صَائِمًا فَحَضَرَ الإِفْطَارُ فَنَامَ قَبْلَ أَنْ يُفْطِرَ لَمْ يَأْكُلْ لَيْلَتَهُ وَلا يَوْمَهُ حَتَّى يُمْسِيَ وَإِنَّ قَيْسَ بْنَ صِرْمَةَ الأَنْصَارِيَّ كَانَ صَائِمًا فَلَمَّا حَضَرَ الإِفْطَارُ أَتَى امْرَأَتَهُ فَقَالَ لَهَا: أَعِنْدَكِ طَعَامٌ؟ قَالَتْ لا وَلَكِنْ أَنْطَلِقُ فَأَطْلُبُ لَكَ وَكَانَ يَوْمَهُ يَعْمَلُ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَجَاءَتْهُ امْرَأَتُهُ فَلَمَّا رَأَتْهُ قَالَتْ: خَيْبَةً لَكَ فَلَمَّا انْتَصَفَ النَّهَارُ غُشِيَ عَلَيْهِ فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: (أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ) فَفَرِحُوا بِهَا فَرَحًا شَدِيدًا وَنَزَلَتْ: (وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ). (بخارى: ١٩١٥)

براء رضي الله عنه وايي: د محمد صلی الله عليه و سلم اصحاب داسې وو چې که به کوم سړي روژه نيولې وه او روژه ماتی به تيار شو او دی به تر روژه ماتولو وړاندې ويده شو؛ نو نه به ئې په همدغه شپه څه خوړل او نه سبا ورځ؛ تر هغه چې بل ماښام به پرې راغی؛ قيس بن صِرمَه انصاري رضي الله عنه روژه وو، د روژه ماتې وخت شو، خپلې

مېرمني ته ورغی او ورته وئې ویل: څه خواړه درسره شته؟ وئې ویل: نه؛ خو ځم چي درته وئې لټوم؛ قیس به د ورځي له لوري کار کولو؛ نو خوب پرې غالب شو؛ (سترګي ئې ویده شوې)؛ نو مېرمن ئې راغله او چي دی ئې ولید؛ وئې ویل: افسوس ستا پر حال؛ سبا چي ورځ نیمايي شوه بې سده شو؛ دا پېښه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یاده شوه؛ نو دا آیت نازل شو: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ: د روژې په شپه کې له خپلو مېرمنو سره نژدېکت (مباشرت) درته حلال کړی شوی؛ نو ډېر پرې خوشحاله شول او دا آیت نازل شو: وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ: او وخورئ وڅښئ تر هغه چي د سباوون سپینه ګاره له توري درته جوته شي؛

د روایت له یوې برخي داسي معلومېږي لکه چي یوازي یوه صحابي همدا کار کړی وي او آیت هم د ده په ارتباط نازل شوی وي!! خو د قرآن له آیت په واضح توګه معلومېږي چي د صحابه وو ډېرو همداسي انګېرله.

## ١٢ باب: د الله تعالی دا قول: ((وَكُلُوا وَاشْرَبُوا. . .))

**عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: (حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الخَيْطِ الأَسْوَدِ) عَمَدْتُ إِلَى عِقَالٍ أَسْوَدَ وَإِلَى عِقَالٍ أَبْيَضَ فَجَعَلْتُهُمَا تَحْتَ وِسَادَتِي، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ فِي اللَّيْلِ فَلا يَسْتَبِينُ لِي فَغَدَوْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ لَهُ ذَلِكَ فَقَالَ: «إِنَّمَا ذَلِكَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَبَيَاضُ النَّهَارِ». (بخارى: ١٩١٦)**

عدي بن حاتِم رضي الله عنه وايي: کله چي دا آیت نازل شو (حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ...) نو ما یو تور تار او یو سپین تار راواخیستل او تر بالښت لاندي مي کښېښودل، د شپې مي ورته کتل؛ خو نه راته جوتېدل؛ نو سهار رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورغلم او دا کیسه مي ورته

وکړه؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((دا د شپې تیاره او د ورځې رڼا ده (یعني د شپې او ورځې هغه دوه کرښې دي چې د سباوون په پیل او د لمرخاته لوري ته لیدل کېږي).

## ۱۳ باب: د پېشلمي او سهار لمانځه تر منځ څومره وخت وي

عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: تَسَحَّرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلاةِ قُلْتُ: كَمْ كَانَ بَيْنَ الأَذَانِ وَالسَّحُورِ؟ قَالَ: قَدْرُ خَمْسِينَ آيَةً.

(بخاری: ۱۹۲۱)

زید بن ثابت رضي الله عنه وایي: پېشلمی مو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره وکړ؛ بیا رسول الله صلی الله علیه و سلم لمانځه ته پاځېد. ومي ویل: د آذان او پېشلمي تر منځ څومره وخت وو؟ وئې ویل: د پنځوسو آیتونو (د تلاوت) په اندازه.

په روایت کې یوازې د ۵۰ آیتونو خبره شوې؛ نه دا ویل شوي چې د ۵۰ آیتونو تلاوت او نه دا چې مراد ئې لنډ، متوسط که اوږده آیتونه دي او دا هم نه ترې معلومېږي چې دا د ګهیځ لمانځه آذان وو او که د سحري د پای اعلان. دا مطالب باید د روایت په شرح کې وویل شي.

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی؛ غریب دئ؛ په ۵ طبقو کې یو یو راوي لري چې دا دي: مُسْلِم بْن إِبْرَاهِيم، هِشَام، قَتَادَة، أَنَسٍ او زَيْدِ بْنِ ثَابِت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

د روژې د پیل او پای په اړه د قرآن وینا ډېره واضح او کافي ده؛ د سباوون تر راختو پورې ئې د مباشرت، خوراك او څښاك اجازه ورکړې؛ او فرمایي:

... فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى

اللَّيْلِ ... ﴿١٨٧﴾ البقرة

...نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نیت نژدې والی وکړئ) او وخورئ او وڅښئ تر هغه چې د سباوون سپینه کرښه له توري درته څرګنده شي؛ بیا مو روژه تر شپې پوري پوره کړئ...

له دې لارښووني په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې د پېشلمي پای د سباوون تر راختو پوري دئ او د روژې پای د لمر تر لوېدو پوري دئ؛ یعني روژه د سباوون د سپیني ګاري له راڅرګندېدو د شپې تر پیل پوري ده؛ شپه د لمر په لوېدو سره پیل کېږي.

د زید بن ثابت رضي الله عنه له روایت یوازي دومره معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې په یوه پېشلمي کې داسي لیدلی چې له پېشلمي د سحر تر أذان پوري د ۵۰ آیتونو د تلاوت په اندازه فاصله وه؛ که دا د ۳۰ جزء د آیتونو په څېر لنډ لنډ وي؛ نو له ۵ تر ۱۰ دقیقو پوري نیسي؛ او که اوږده آیتونه وي نو د دې ٤- ۵ برابره زیات وخت نیسي؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لارښوونو په واضح توګه معلومېږي چې که أذان هم وشي او د چا په لاس کې اوبه وي او وئې څښي؛ په روژې کې ئې خلل نه رامنځته کېږي. (مشروط په دې چې أذان کې ځنډ نه وي شوی).

## ۱٤ باب: پېشلمی برکت لري؛ خو واجب نه دئ

عن أَنَس بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً». (بخاری: ۱۹۲۳)

له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((پېشلمی کوئ ځکه په پېشلمي کي برکت دئ)).

په پېشلمي کې هم له دې کبله برکت وي چې روژه به درته آسانه کړي؛ له تندي او لوږي به نه کړېږې او له دې پلوه هم چې کولی شې څو رکعته لمونځ

وکړې یا تلاوت او دعاء.

## ۱۵ باب: څوک چې د ورځې د روژې نیت وکړي

عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِي فِي النَّاسِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ: «إِنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلا يَأْكُلْ». (بخاری: ۱۹۲٤)

له سلمه بن اکوع رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د عاشوراء په ورځ یو سړی ولېږو چې خلکو ته دا پیغام ورسوي: ((چا چې څه خوړلي وي؛ نو پاته ورځ دي بشپړه کړي او یا دا چې روژه دي ونیسي او چا چې څه نه وي خوړلي هغه دي څه نه خوري (د روژې نیت دي وکړي)).

د عاشوراء ورځ او په دې کې د روژې نیولو په اړه د کتاب په پای کې تفصیلي بحث لرو؛ دلته او د دې روایت په اړه په اختصار سره څو عرائض لرو:

- له روایت معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه ئې نه د عاشوراء له ورځې خبر وو او نه ئې له روژې؛ په همدغه ورځ خبر شوی او د خلکو د خبرولو لپاره ئې څوك لېږلی. که خبر وی نو ډېر وړاندي به ئې صحابه وو ته ویلي وو؛ له ځینو روایاتو همدا معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په مدینه کې یهودان لیدلي یا چا ورته ویلي چې دوی په دې ورځ روژه نیسي؛ او دا ځکه چې گمان کوي موسی علیه السلام په دې ورځ بریالی شوی او فرعون غرق شوی؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي چې موږ تر دوی ډېر احق یو چې دا ورځ روژه ونیسو؛ ... دا ئې هم ویلي چې له دوی سره د عدم مشابهت لپاره به راتلونکی کال یوه بله ورځ هم پرې علاوه کوو؛ خو تر دې وړاندي ئې رحلت وکړ. او له دې معلومېږي چې دا کار د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حیات په آخري کال کې شوی!! دا روایات له

هغو سره تناقض لري چې وايي: رسول الله صلی الله علیه و سلم حتی په مکه کې دا روژه نيوله؛ او قريشو به هم نيوله او ګواکې قريشو به همدغه ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړولو. کوم يو ئې صحيح دئ؟

- دا روژه نه فرض ده او نه واجب؛ د فرضيت او وجوب لپاره ئې هيڅ دليل نه مومو؛ نه په قرآن کې او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لارښوونو کې؛ که فرض وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً صحابه پرې خبر کړي وو؛ ولې به ئې له سباوون وروسته څوك لېږلو چې خلك خبر کړي.
- څوك چې د ورځې په پيل کې څه وخوري؛ او پاته ورځ روژه شي؛ په دې روژې ئې فرضي ذمه نه اداء کېږي؛ بايد قضائي روژه ونيسي؛ خو که يوازې نيت ترې پاته وي او څه ئې نه وي خوړلي نو په نيت سره ئې روژه مقبوله ده.

## ۱۶ باب: که په جُنُب روژتي سهار شي

عَنْ عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ رضی الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم كَانَ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ أَهْلِهِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ وَيَصُومُ. (بخاری: ۱۹۲۵)

عائشه رضي الله عنها او ام سلمه رضي الله عنها وايي: کله کله به پر رسول الله صلی الله علیه و سلم له خپلو مېرمنو سره د نژدېکت له امله غسل لازم شوی وو او ورباندې سهار به شو، بيا به ئې غسل کولو او روژه به ئې نيوله.

يعني که پر چا غسل لازم شوی وي؛ د روژې نيت وکړي، غسل وکړي او روژه ونيسي؛ دا ورته جائز دي.

## ۱۷ باب: په روژه کې خپله مېرمن په غېږ کې نيول

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ

وَهُوَ صَائِمٌ وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ. (بخاری: ۱۹۲۷)

عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وایي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به په روژه کې هم ښکولول کول او هم په غېږ کې نیول؛ او هغه د خپل هوس مهارولو کې تر تاسو ډېر زیات واکمن وو.

## ۱۸ باب: که څوک په هېره څه وخوري یا وڅښي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا نَسِيَ فَأَكَلَ وَشَرِبَ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللَّهُ وَسَقَاهُ». (بخاری: ۱۹۳۳)

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمایلي: ((که ترې هېر وو او خوراك او څښاك ئې وکړل؛ نو خپله روژه دې بشپړه کړي؛ دا ځکه چې الله تعالی پرې خوراك او څښاك کړی)).

یعني په روژه کې په هېره سره څه خوړل او څښل؛ روژې ته زیان نه رسوي.

## ۱۹ باب: که چا په روژه کې جماع وکړه ...

عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْتُ، قَالَ: «مَا لَكَ؟» قَالَ: وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي وَأَنَا صَائِمٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا؟» قَالَ: لا، قَالَ: «فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟» قَالَ: لا، فَقَالَ: «فَهَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟» قَالَ: لا، قَالَ: فَمَكَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهَا تَمْرٌ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ قَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ؟» فَقَالَ: أَنَا، قَالَ: «خُذْهَا فَتَصَدَّقْ

بِهِ» فَقَالَ الرَّجُلُ: أَعَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَوَاللَّهِ مَا بَيْنَ لابَتَيْهَا ـ يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ ـ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي، فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ ثُمَّ قَالَ: «أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ».

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي وئې ویل: موږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره ناست وو چي یو سړی راغی او وئې ویل: یا رسول الله! هلاک شوم؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((څه دربانديِ شوي؟)) وئې ویل: په داسي حال کي چي روژه وم له خپلي مېرمني سره مي نژدېکت کړی؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((آیا کوم مریې مومې چي آزاد ئې کړې؟)) وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: ((کولی شې دوې میاشتي پر له پسې روژه ونیسې؟)) وئې ویل: نه؛ وئې فرمایل: ((آیا شپېتو مسکینانو ته د خوړو ورکولو وس لرې؟)) وئې ویل: نه؛ راوي وویل: نو رسول الله صلی الله علیه و سلم څه درنگ وکړ؛ موږ لا همداسي وو چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یوه غټه ټوکرۍ راوړل شوه چي خرما په کي وې ( عَرَق هغي پیمانې ته وایي چي ۱۵ صاع وي او هره صاع نژدې دوه کیلوگرامه کېږي او ځیني ئې ۳۰ صاع بولي)؛ یا خو یوه پنډه خرما وې؛ وئې فرمایل: هغه سائل چېري دئ؟ وئې ویل: دغه یم؛ وئې فرمایل: ((وائې خله او صدقه ئې کړه)) هغه سړي وویل: یا رسول الله! آیا تر ما زیات فقیر ته؟ قسم په خدای چي د مدینې د دوو شگلنو او له ډبرو ډکو بېدیاوو تر منځ؛ زما تر ټبر زیات فقیر نشته؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي مسکی شو چي د انیاب غاښونه ئې ښکاره شول؛ بیا ئې وفرمایل: ((د خپلي کورنۍ پر غړو ئې وخوره)).

څو خبري باید په پام کي ولرو:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم د قرآن د لارښووني مطابق هغه سړي ته ویلي چي د روژې د قصدي خوړلو کفاره؛ یا د یوه غلام آزادول دي، یا پر له پسې شپېته روژې او یا شپېته مسکینانو ته خواړه ورکول

دي.

- د خرما دغه پيمانه يا پنډه به دومره وه چې د ٦٠ تنو د يوه ورځني خوراك لپاره كافي وې. نن كه څوك د قصدي روژې خوړلو فديه وركوي نو همدومره به وركوي.
- صدقه كول ئې پر مسكينو خپلوانو جائز دي.

## ٢٠ باب: په روژه كي ښكر لګول

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَاحْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ. (بخارى: ١٩٣٨)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې: رسول الله صلى الله عليه و سلم په داسي حال کې هم ښكر لګولی چې په احرام كي وو او په داسي حال كي هم چې روژه وو.

د حديث مطلب دا دئ چې نه د احرام حالت کې د ويني ايستل منع دي او نه د روژې حالت کې. خو كه په روژه کې د ويني ايستل؛ د روژتې د ضعف او كسالت باعث كېږي او روژه پرې سخته كوي؛ نو ځنډول ئې غوره دي.

## ٢١ باب: د مسافر روژه

عَنِ عبدالله بنِ أَبِي أَوْفَى رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَالَ لِرَجُلٍ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الشَّمْسُ قَالَ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الشَّمْسُ قَالَ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» فَنَزَلَ فَجَدَحَ لَهُ فَشَرِبَ ثُمَّ رَمَى بِيَدِهِ هَا هُنَا ثُمَّ قَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ». (بخارى: ١٩٤١)

له عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: موږ له رسول

الله صلی الله علیه و سلم سره په یوه سفر کې وو چې یوه سړي ته ئې وفرمایل: ((کوز شه او زما لپاره ستوان (د اوربشو دلده په اوبو کې یا شیدې په اوبو کې) برابر کړه؛ هغه وویل: یا رسول الله! لمر لا شته؛ وئې فرمایل: ((کوز شه او ستوان راته جوړ کړه)) هغه بیا وویل: یا رسول الله! لمر لا شته؟! وئې فرمایل: ((کوز شه او ستوان راته جوړ کړه)) نو له اوښ کوز شو او ستوان ئې جوړ کړ؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم وڅښل؛ بیا ئې په خپل لاس سره اشاره وکړه چې هلته (د مشرق لوري ته) او وئې فرمایل: ((کله چې تاسو شپه ولیده چې له دې لوري راښکاره شوه؛ نو همدا مهال دې روژتی افطار وکړي)).

یعني د لمر له لوېدو او د شپې د نښې له راڅرګندېدو سره سم د روژه ماتی وخت رارسېږي.

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۳ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۹٤۱ – ۱۹۵۸ - ۵۲۹۷

توپیرونه: په یوه کې كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَالَ لِرَجُلٍ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» په بل کې كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَصَامَ حَتَّى أَمْسَى قَالَ لِرَجُلٍ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لِي» په یوه کې قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ الشَّمْسُ؟ په بل کې قَالَ: لَوِ انْتَظَرْتَ حَتَّى تُمْسِيَ؟ په بل کې قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ أَمْسَيْتَ، إِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا، په یوه کې ثُمَّ رَمَى بِيَدِهِ هَا هُنَا، ثُمَّ قَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» په بل کې إِذَا رَأَيْتَ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» په بل کې ثُمَّ أَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى المَشْرِقِ، فَقَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»

دا روایت په صحیح مسلم کې په دې صیغه راغلی:

٥٢ -عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، فَلَمَّا غَابَتِ الشَّمْسُ قَالَ: «يَا فُلَانُ، انْزِلْ

فَاجْدَحْ لَنَا» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا، قَالَ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا» قَالَ: فَنَزَلَ فَجَدَحَ، فَأَتَاهُ بِهِ، فَشَرِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: بِيَدِهِ «إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَا هُنَا، وَجَاءَ اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»

له عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د روژې په میاشت کې په سفر کې وو؛ کله چې لمر پرېوت؛ وئې فرمايل: اې فلانيه! کوز شه او موږ ته ستوان (په اوبو يا شيدو کې وربشې، غنم يا وريژې ګډول) جوړ کړه؛ هغه وويل: يا رسول الله! لا تا باندې ورځ ده؛ وئې فرمايل: کوز شه او موږ ته ستوان جوړ کړه؛ نو کوز شو جوړ ئې کړ او ورئې کړ او رسول الله صلی الله علیه و سلم وڅښلو؛ بيا ئې وفرمايل: او په لاس سره ئې اشاره وکړه: کله چې لمر له دې ځای غائب شو او شپه له دې ځای راغله؛ نو همدا د روژتي د روژه ماتي وخت دئ.

لکه چې ګورئ په صحيح مسلم کې دا روايت نسبت صحيح بخاري ته په واضح توګه راغلی او په کې ويل شوي چې دا سفر د روژې مياشت کې وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د لمر له لوېدو سره سم له يوه صحابي سَوَيق غوښتي خو د جمع په صيغه (لنا) يعني چې نور هم روژه وو او د ټولو لپاره ئې خواړه غوښتي؛ د بخاري په روايت کې دا وضاحتونه نه مومو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَأَصُومُ فِي السَّفَرِ؟ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ فَقَالَ: «إِنْ شِئْتَ فَصُمْ وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ». (بخاری: ۱۹۴۳)

د رسول الله صلی الله علیه و سلم له مېرمني عائشې رضي الله عنها روايت دئ چې وايي: حمزه بن عمرو اسلمي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وويل: آيا په سفر کې روژه ونيسم؟ او دی ډېر روژه نيوونکی

وو؛ وئې فرمايل: ((که دي نيول غوښتل وئې نيسه او که دي نه نيول غوښتل وئې خوره)).

## ۲۲ باب: د روژې په دوران کې سفر

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُما أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فِى رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الْكَدِيدَ. أَفْطَرَ فَأَفْطَرَ النَّاسُ. (بخارى: ١٩٤٤)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د رمضان په مياشت کي د مکې په لوري روان شو؛ روژه ئې نيولې وه؛ تر هغه چي (کديد) ته ورسېد؛ روژه ئې ماته کړه او خلکو هم ماته کړه.

تکرار: دا روايت په بخاري کې ۳ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ١٩٤٤ - ٢٩٥٣ - ٤٢٧٦ -

توپيرونه: په يوه کې خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فِي رَمَضَانَ په بل کې خَرَجَ فِي رَمَضَانَ په بل کې خَرَجَ فِي رَمَضَانَ مِنَ المَدِينَةِ په يوه کې فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الكَدِيدَ، أَفْطَرَ فَأَفْطَرَ النَّاسُ په بل کې فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ الكَدِيدَ أَفْطَرَ په بل کې وَمَعَهُ عَشَرَةُ آلاَفٍ، وَذَلِكَ عَلَى رَأْسِ ثَمَانِ سِنِينَ وَنِصْفٍ مِنْ مَقْدَمِهِ المَدِينَةَ، فَسَارَ هُوَ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ المُسْلِمِينَ إِلَى مَكَّةَ، يَصُومُ وَيَصُومُونَ، حَتَّى بَلَغَ الكَدِيدَ، لکه چي گورئ وروستی روايت جامع دئ او د سفر تفصيلات په کې راغلي؛ خو دوه لومړني روايات ډېر مجمل او غير واضح دي؛ په داسي حال کې چي د ټولو لومړی راوي يو او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دئ!! د جامع روايت په شتون کې د ناقص او مجمل روايت راوړل کله کله د گټې پر ځای تاوان کوي؛ اصولاً بايد په جامع روايت اکتفاء وشي.

## ۲۳ باب:

عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ رضى الله عنه قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى بَعْضِ أَسْفَارِهِ فِى يَوْمٍ حَارٍّ حَتَّى يَضَعَ الرَّجُلُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ وَمَا

فِينَا صَائِمٌ إِلَّا مَا كَانَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنِ رَوَاحَةَ. (بخاری: ١٩٤٥)

ابو درداء رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره په يوه سفر کې په داسي گرمه ورځ روان شوو چې سړي به له ډېري تودوخي لاس پر سر ايښود او له رسول الله صلى الله عليه و سلم او ابن رواحه پرته هيچا هم روژه نه وه نيولې.

دا روايت په صحيح مسلم کې په دې صيغه راغلی:

عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ، حَتَّى إِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ، وَمَا فِينَا صَائِمٌ، إِلَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ»

د دواړو تر منځ توپيرونه دا دي: په بخاري کې داسي راغلي: وَمَا فِينَا صَائِمٌ إِلَّا مَا كَانَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنِ رَوَاحَةَ او په مسلم کې داسي: وَمَا فِينَا صَائِمٌ، إِلَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ؛ د مسلم صيغه ډېره غوره او واضح ده.

## ٢٤ باب: (په سفر کې روژه غوره کار نه دئ)

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللَّهِ رضى الله عنه قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَرَأَى زِحَامًا وَرَجُلاً قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» فَقَالُوا: صَائِمٌ، فَقَالَ: «لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّوْمُ فِي السَّفَرِ». (بخاری: ١٩٤٦)

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم په يوه سفر کې وو؛ چې يوه گڼه گوڼه ئې وليده او يو سړی چې سيوری پرې جوړ شوی؛ وئې فرمايل: ((دا څه دي؟))

هغوی وویل: دا روژه دئ؛ نو وئې فرمایل: ((په سفر کې روژه نیول؛ د ښېګڼو له زمرې؛ نه ده)).

یعني داسې سفر کې چې له تندې او لوږې سره د مخامخ کېدو اندېښنه وي؛ صحیح نه ده چې څوك نفلي روژه ونیسي؛ دا ځکه چې الله تعالی هسې هم مسافر او مریض د روژې له نیولو معاف کړی او د قضائي نیولو سپارښتنه ئې ورته کړې؛ که په فرضي روژو کې الله تعالی موږ ته دا رخصت راکړی؛ ولې به په نفلي روژو کې ترې استفاده نه کوو؛ الله تعالی زموږ لپاره سوکالي او آساني خوښوي؛ زموږ د کړولو اراده نه لري؛ (... وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ...) البقرة ١٨٥

... او څوك چې بېمار او په سفر وي؛ نو له نورو ورځو دې شمېر پوره کړي؛ الله ستا لپاره آسانتیا غواړي او کړاو نه غواړي...

## ٢٥ باب: په سفر کې د روژې خوړلو او نیولو په اړه..

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ. (بخاری: ١٩٤٧)

له انس بن مالک رضي الله عنه روایت دئ چې وایي: له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره به مو سفرونه کول؛ نه به روژتي پر بې روژې نیوکه کوله او نه بې روژې پر روژتي.

یعني نه به روژتي هغو ته په ټیټه سترګه کتل چې روژه به ئې نه وه نیولې؛ او نه به بې روژې د روژه والو په اړه داسې انګېرل چې غلط کار ئې کړی. خو دا هم باید په پام کې ولرو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه چا روژه نیول سم کار نه دئ ګڼلی چې په سخته ګرمي کې ئې روژه نیولې وه او بېهوشي پرې راغلې وه.

## ٢٦ باب: څوک چې مړ شي او روژهورباندې قرض وي

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ». (بخاری: ١٩٥٢)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((څوک چې مړ شي او روژه ورباندې قرض وي؛ نو د هغه ولي دې؛ د ده په عوض روژه ونیسي)).

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَأَقْضِيهِ عَنْهَا قَالَ: « نَعَمْ، فَدَيْنُ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ يُقْضَى». (بخاری: ١٩٥٣)

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: یو سړی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! مور مې مړه شوې او یوه میاشت روژه پرې قرض وه؛ نو آیا زه ئې د هغې لپاره قضائي راوړم؟ وئې فرمایل: ((هو؛ د الله تعالی قرض اداء کول تر نورو زیات وړ دئ)).

په دې اړه د فقهاءو او محدثینو تر منځ اختلاف دئ؛ ابن عباس رضي الله عنهما ته دوه متعارض روایات منسوب شوي؛ بل ئې دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ رسول الله صلى الله عليه و سلم: «لَا يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ، وَلَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلَكِنْ يُطْعِمُ عَنْهُ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مُدًّا مِنْ حِنْطَةٍ» سنن الكبرى للنسائی

له ابن عباس روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: هیڅوك دې د بل په عوض کې لمونځ نه کوي او هیڅوك دې د بل پر ځای روژه نه نیسي؛ خو د هرې ورځې پر ځای دې یو مد غنم صدقه ورکړي.

احناف خپلو دلائلو ته په پام سره وایي: څوك چې ومري او روژه ئې

پر ذمه پاته وي؛ هیڅوك دي د هغه په عوض روژه نه نیسي؛ خو که مړي وصیت کړی وي نو د هغه وارث دي د هري ورځي په بدل کې یوه مسکین ته نیمه پیمانه غنم یا یوه پیمانه کجوري یا اوربشي ورکړي.

قرطبي وايي: مالك ځکه د بخاري دا روایات نه دي راوړي چي وايي: د مدینې اوسېدونکي ئې نه دي لیدلي چي عمل ئې پرې کړی وي؛ بل دلیل ئې دا دئ چي د سند او متن په اړه ئې اختلاف شوی؛ په رد کې ئې په دې آیت هم استناد شوی: ((وَلا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى... الانعام: ١٦٤)

## ٢٧ باب: روژتي به څه وخت روژه ماتوي

حَدِيثُ عَبْدِاللَّهِ بْنَ أَبِى أَوْفَى رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ وَقَوْلُ النَّبِيِّ: «انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا» تقدَّمَ قَرِيبًا وَفِى هَذِهِ الرِّوَايَةِ: «إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ قِبَلَ الْمَشْرِقِ. (بخارى: ١٩٥٦)

د ابن ابي اوفی رضي الله عنه هغه حدیث او د نبي صلی الله علیه و سلم هغه قول تېر شو چي فرمایلي ئې وو: ((کوز شه او زما لپاره خواړه برابر کړه))؛ او په دې روایت کې: ((کله چي وګورئ شپه له دې ځای رابره شوه؛ نو همدا د روژه ماتي وخت دئ)) او په خپلي ګوتي سره ئې د مشرق لوري ته اشاره وکړه.

## ٢٨ باب: په روژه ماتي کي بیړه

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ». (بخارى: ١٩٥٧)

له سهل بن سعد رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: ((خلک تر هغه په خیر دي چي په روژه ماتي کي بیړه کوي)).

یعني له بې ځایه تقوی؛ او په دین کې له څه زیاتولو ډډه کول او له

خپل ځان څه نه پرې علاوه کول؛ د دې نښه ده چې دوی خپل دین پېژندلی؛ د حلال او حرام پولې مراعاتوي؛ نه څه پرې زیاتوي او نه ئې کموي.

حقیقت دا دئ چې په دین کې د انحراف لړۍ هغه مهال پیل کېږي چې دوکه مار مذهبي مشران؛ په دې موخه په دین کې لاسوهني کوي؛ حلال حراموي چې وښيي دوی ډېر متقي دي؛ لکه دا چې په روژې کې د ماښام اذان څو دقیقې وروسته کوي او پېشلمی تر نورو او تر خپل آخري وخت ډېر وړاندي کوي؛ په دې توګه د خلکو د دیني وجائبو پېټی درنوي او آزادی ئې محدودوي؛ دا په حقیقت کې تقوی نه؛ بلکې انحراف او ریاء ده؛ قرآن د پیغمبرانو علیهم السلام په اړه فرمايي: یوه دنده ئې دا وې چې دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو کوز او زنځیرونه مات کړي:

... وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ الأعراف

... او پاك شیان ورته حلال او ناولې ورته حرام ګرځوي او بارونه ئې د دوی له اوږو راکوزوي او هغه زنځیرونه (شلوي) چې د دوی په لاسونو او پښو کې لوېدلې وو، نو چا چې پر هغه (پیغمبر) ایمان راوړ، د ده مرسته ئې وکړه او په هغې رڼا پسې ولاړل چې پر ده نازله شوې؛ همدا دوی برلاسي او بریالي دي.

ګورئ چې پیغمبر د خلکو بارونه سپکوي، زنځیرونه شلوي، انسانان آزادوي، ټول پاك شیان چې پخوا د دوی ټګمارو مذهبي مشرانو یوه برخه ورته حرام کړي وو؛ حلال ګرځوي او ټول ناولې شیان حرام شمېري، خلکو ته داسي نور او ځراغ ورکوي چې له تیارو او خرافاتو وړباندي ووځي او د حقیقت روښانه دنیا ته لاړ شي. د قرآن له دې وینا په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د مخکینیو امتونو مذهبي مشرانو په دین

کې زیادت کړی، له خپل لوري ئې مذهبي مراسم رااېستلي، ډېر حلال شیان ئې پر خلکو حرام کړي، د خلکو آزادي ئې محدوده کړې، نوي قیود ئې وضع کړي او دا ئې د الله تعالی د دین برخه معرفي کړې. د ډېرو انحرافي مذاهبو خرافات او له ځانه جوړ شوي حلال او حرام به د قرآن د دغې وینا مصداق ومومئ.

## ۲۹ باب: له لمر لوېدو مخکې روژه ماتول

عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَتْ: «أَفْطَرْنَا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ غَيْمٍ، ثُمَّ طَلَعَتِ الشَّمْسُ» (بخاری: ۱۹۵۹)

اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها وايي: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کې مو یوه ورځ چې ورېځ وه روژه ماته کړه؛ وروسته بیا لمر را ښکاره شو.

لکه چې ګورئ دا روایت ناقص دئ؛ دا مطلب نه دئ په کې راغلی چې د لمر له ځرګندېدو وروسته ئې څه کړي؛ روژه ئې نیولې که نه؛ او دا روژه ئې صحیح او منل شوې ده که قضائي به ئې نیسي؟. د دغې ستونزې حلولو لپاره تر روایت وروسته دا مطلب راغلی: قِيلَ لِهِشَامٍ: فَأُمِرُوا بِالقَضَاءِ؟ قَالَ: «لاَ بُدَّ مِنْ قَضَاءٍ» وَقَالَ مَعْمَرٌ: سَمِعْتُ هِشَامًا لاَ أَدْرِي أَقَضَوْا أَمْ لاَ: هشام ته وویل شول: آیا په قضائي روژې وګمارل شول؟ وئې ویل: قضاء ئې حتمي ده؛ او مَعْمَر وویل: له هِشام مي اورېدلي: نه پوهېږم چې قضائي ئې ونیوله که نه.

خو څه چې په دې اړه ویل کېدی شي؛ هغه دا دي: د ورځې پاته برخه به روژه نیسي او بیا به د همدې ورځې قضايي راوړي.

## ۳۰ باب: د ماشومانو روژه

عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ قَالَتْ: أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ عَاشُورَاءَ

إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ: «مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ» قَالَتْ: فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. (بخاری: ۱۹٦۰)

له رُبَيِّع بنت مُعَوِّذ رضي الله عنها روايت دئ وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم د عاشوراء په سهار د انصارو کليو ته خبر ولېږو چي: ((که چا سهار څه خوړلي وي؛ نو پاته ورځ دي بشپړه کړي (څه دي نه خوري) او څوك چي روژتي پاتېدلی (څه ئې نه وي خوړلي)؛ نو روژه دي بشپړه کړي))؛ هغې وويل: موږ به له دې وروسته د عاشوراء په ورځ روژه نيوله او په ماشومانو به مو هم نيوله؛ له وړيو به مو يوه نانځکه ورته جوړوله؛ که به کوم يوه له لوږي وژړل؛ نو هغه به مو ورکړه؛ تر هغه چي د روژه ماتي وخت به شو.

د عاشوراء او په دې ورځ روژې په اړه مو تفصيلي بحث کړی؛ په اړوند روایاتو کې ئې دومره ژور او پراخ تقابل او تعارض دئ چي يو ترې غوره کول او صحيح ئې ګڼل ناشونی دئ؛ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په دې ورځ روژه نه نيوله؛ مګر دا چي د ده له نفلي روژو سره به برابره شوه؛ خو دا به د ده عادي نفلي روژه وه؛ نه د عاشوراء د ورځي په نيت روژه؛ دې ته په پام سره هغه روايت صحيح ګڼلی شو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته له تګ وروسته او هغه مهال چي يهودان ئې داسي ليدلي چي دغه ورځ د جشن په توګه لمانځي او دا څکه چي ګمان ئې کولو په دغي ورځ فرعون غرق شوی او دوی د موسى عليه السلام په مشری بريالي شوي؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: له موږ سره دا ښايي چي د موسى عليه السلام د بريا يادونه وکړو؛ خو چي روژه فرض شوه؛ وئې فرمايل: د هر چا خپله خوښه چي په دې ورځ روژه نيسي يا ئې نه نيسي.

## ٣١ باب: د پیشلمي تر وخته د روژې دوام

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لا تُوَاصِلُوا فَأَيُّكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوَاصِلَ فَلْيُوَاصِلْ حَتَّى السَّحَرِ». (بخارى: ١٩٦٣)

له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دئ چي له رسول الله صلی الله علیه و سلم مي اورېدلي: ((د یوې ورځي روژه له بلي سره مه وصلوئ؛ که څوک غواړي وصل ئې کړي؛ تر پېشلمي پوري دې وصل کړي)).

له روایت داسي معلومېږي چي له یوې خوا رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسي روژې له نیولو ممانعت کړی چي دوه ورځي سره وصل شي؛ په یوه پېشلمي دوه روژې ونیول شي؛ خو له بلي خوا ویل شوي چي که څوك ئې وصلول غواړي نو تر پېشلمي پوري دې وصل کړي؛ یعني د دوو پېشلمیو تر منځ دي څه نه خوري؛ دوه پوښتني راولاړېږي: ١- ولي به دا کار کوي؛ دا خو د ثواب کار نه دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې ممانعت کړی او دا ئې هم فرمایلي چي په افطار کې عجله وکړئ؟ ٢- الله تعالی فرمایي چي روژه د شپې تر پیل (ماښام) پوري بشپړه کړئ ((.... ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ...) البقرة ١٨٧؛ یعني د روژې اتمام او بشپړېدا د شپې تر پیل پوري ده؛ او موږ ئې په اتمام ګمارلي یو؛ تر ماښام وروسته روژې ته دوام ورکول؛ د (أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ) له امر مخالفت دئ؛ او داسي دئ لکه چي موږ د فجر په دوه رکعته فرض لمونځ مکلف شوي یو او څوك دوه رکعته نور هم پرې علاوه کړي؛ ولي به د دې الهي لارښووني مخالفت کوو؛ او دا به د ثواب کار ګڼو؟ ٣- دا روایت غریب دئ او په صحابه وو کې یوازي یو راوي لري چي أبو سعید خدري دئ؛ آیا کولی شو دا روایت په داسي حال کې معتبر وګڼو او عمل پرې وکړو چي هم د قرآن له صریح آیت سره تعارض لري او هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم له نورو احادیثو سره؟ مخکینی روایت په افطار کې د تلوار سپارښتنه کوي او ورپسې روایت د روژو له وصلولو ممانعت کوي.

## ۳۲ باب: د روژې وصلوونکې سزا

عَنِ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِصَالِ فِى الصَّوْمِ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ: إِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «وَأَيُّكُمْ مِثْلِى إِنِّى أَبِيتُ يُطْعِمُنِى رَبِّى وَيَسْقِينِ». فَلَمَّا أَبَوْا أَنْ يَنْتَهُوا عَنِ الْوِصَالِ وَاصَلَ بِهِمْ يَوْمًا ثُمَّ يَوْمًا ثُمَّ رَأَوُا الْهِلالَ فَقَالَ: «لَوْ تَأَخَّرَ لَزِدْتُكُمْ» كَالتَّنْكِيلِ لَهُمْ حِينَ أَبَوْا أَنْ يَنْتَهُوا. وفى رواية عنه قال لهم: «فَاكْلَفُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ». (بخارى: ۱۹٦٥ ـ ۱۹٦٦)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژې له وصلولو نهي وکړه؛ نو له مسلمانانو يوه سړي ورته وويل: يا رسول الله! ته خو ئې وصلوې؟ وئې فرمايل: ((له تاسو کوم يو زما په څېر دئ؟ زه چي د شپې ويده شم رب مي هم خواړه راکوي او هم اوبه)) خو کله چي هغوی له دې ډډه وکړه چي له وصلولو لاس واخلي؛ نو يوه ورځ ئې پرې وصل کړه او بيا بله ورځ؛ بيا ئې د نوې مياشتي سپوږمۍ وليده؛ نو وئې فرمايل: ((که ځنډېدلې وی نو درباندي زياتوله مي))؛ کله چي ئې له عدم وصلولو ډډه وکړه نو د دوی د ترټلو لپاره ئې همداسي وکړل؛ او په بل روايت کي راغلي چي وئې فرمايل: ((هغه کار پر ځان لازم کړئ چي توان ئې لرئ)).

تکرار: دا روايت په بخاري کي ۵ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۱۹٦٥ - ۱۹٦٦ - ٦٨٥۱ - ۷۲٤۲ – ۷۲۹۹؛ غريب دئ؛ په صحابه وو کي يو او په نورو طبقو کي کله يو او کله دوه راويان لري؛ له بخاري پرته په بل هيڅ کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ يعنی هم غريب دئ او هم شاذ. او د روايت دا فقره (وَأَيُّكُمْ مِثْلِي، إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِ)؛ د بخاري په داسي مطلق غريب روايت کي راغلې؛ چي فقط په بخاري کي يو ځل راغلی؛ او په ۵ طبقو کي يو يو راوي لري چي دا دي: أَبُو اليَمَان، شُعَيْب،

الزُّهْرِيِّ، أَبُو سَلَمَةَ بْن عَبْدِ الرَّحْمَنِ او أَبو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

په متن کې ئې څو ستونزې دي:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه د روژو له وصلولو منع کړي؛ ګواکې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له ممانعت سره سره؛ صحابه وو دا کار کړی؛ د دې خبرې منل ځکه ګران دي چې صحابه د قرآن د وینا له مخې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دومره مطیع وو چې په سختو کارونو کې ئې هم د ده له لارښوونو مخالفت نه دئ کړی؛ ولې به په داسې کار کې مخالفت کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې ممانعت کړی؛ نه مستحب کار دئ او نه د ثواب؟!
- د دې منل هم ګران دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم به د غصې له کبله او د صحابه وو د ترټلو په موخه؛ هغوی په دوو ورځو مسلسل روژو ګمارلي وي او که سپوږمۍ نه وی رابره شوې نو نوري ئې هم پرې زیاتولې!!
- د دې فقرې (إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِ)؛ په اړه دا توجیه وړاندې شوې: معناه یجعل الله تعالی فِيَّ قوة الطاعم والشارب: معنی ئې دا ده چې الله تعالی په ما کې هومره توان او قوت اچوي چې د طعام خوړونکي او اوبو څښونکي په برخه کېږي؛ په دې توجیه کې ډېر تکلف شوی.
- په داسې حال کې چې الله تعالی روژه موږ ته په واضح توګه تعریف کړې او اندازه ئې له سحر تر ماښام پوري ښودلې؛ ولې به رسول الله صلی الله علیه و سلم دوه روژې سره وصلولې او ولې به صحابه وو دا کار کولو؟ او که دا مستحب کار وی؛ ولې به رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې ممانعت کولو؟ او ولې به ئې هغه ترټل چې دوه روژې ئې سره وصلولې؟!!

## ۳۳ باب: څوک چې بل ته د نفلي روژې د ماتولو قسم ورکړي

عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: آخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ سَلْمَانَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، فَزَارَ سَلْمَانُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، فَرَأَى أُمَّ الدَّرْدَاءِ مُتَبَذِّلَةً فَقَالَ لَهَا: مَا شَأْنُكِ؟ قَالَتْ: أَخُوكَ أَبُو الدَّرْدَاءِ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ فِي الدُّنْيَا، فَجَاءَ أَبُو الدَّرْدَاءِ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا، فَقَالَ: كُلْ، قَالَ: فَإِنِّي صَائِمٌ، قَالَ: مَا أَنَا بِآكِلٍ حَتَّى تَأْكُلَ، قَالَ: فَأَكَلَ فَلَمَّا كَانَ اللَّيْلُ ذَهَبَ أَبُو الدَّرْدَاءِ يَقُومُ، قَالَ: نَمْ، فَنَامَ، ثُمَّ ذَهَبَ يَقُومُ، فَقَالَ: نَمْ، فَلَمَّا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ قَالَ سَلْمَانُ: قُمِ الآنَ فَصَلَّيَا، فَقَالَ لَهُ سَلْمَانُ: إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا: وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا: وَلأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَدَقَ سَلْمَانُ». (بخاری: ۱۹۶۸)

ابو جُحَيفه رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د سلمان او ابو درداء تر منځ د ورورۍ تړون وکړ؛ بيا سلمان د ابو درداء کور ته ورغی او هلته ئې ام درداء رضي الله عنها د کار جامه کې وليده؛ ورته وئې ويل: څه درباندي شوي؟ هغې وويل: ستا ورور ابو درداء؛ دنيا ته هيڅ حاجت نه لري؟ بيا ابو درداء راغی او ده ته ئې خواړه تيار کړل؛ سلمان ورته وويل: وخوره؛ وئې ويل: زه روژه يم؛ سلمان وويل: تر هغه ئې نه خورم چې ته ئې وخورې؛ نو وئې خوړل؛ او چې شپه شوه؛ ابو درداء وغوښتل چې لمانځه ته پاځي؛ ورته وئې ويل: ويده شه؛ نو ويده شو؛ بيا ئې وغوښتل چې لمانځه ته پاځي؛ ورته وئې ويل: ويده شه؛ نو ويده شو؛ کله چې شپه پای ته رسېدلې وه؛ سلمان وويل: اوس پاځه؛ دواړه پاځېدل او لمونځ ئې وکړ؛ بيا سلمان ورته وويل: ستا رب پر تا خاص حق لري، ستا نفس پر تا خاص حق لري، ستا اهل (مېرمن) پر تا خاص حق لري؛ نو هر حقدار ته خپل حق ورکوه؛ بيا ابو درداء رسول

الله صلى الله عليه و سلم ته ورغی او دا کیسه ئې ورته بیان کړه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((سلمان رښتيا ويلي)).

## ۳٤ باب: د شعبان روژه

عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لا يُفْطِرُ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لا يَصُومُ فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ إِلَّا رَمَضَانَ وَمَا رَأَيْتُهُ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِى شَعْبَانَ. (بخارى: ۱۹٦۹)

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي وو چي كله به ئې دومره روژې نيولې چي موږ به ويل: ښايي هيڅ به ئې نه خوري (تل به ئې همداسي نيسي)؛ او كله به ئې دومره ورځې نه نيولې چي موږ به ويل: نور به ئې هيڅ نه نيسي؛ نو ما رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي نه دئ ليدلی چي كومه مياشت به ئې په بشپړه توګه روژه نيولې؛ مګر د رمضان مياشت؛ او نه مي دئ ليدلی چي تر شَعْبَانَ به ئې په بلي مياشتي كي زياتي روژې نيولې وي.

دا روايت له مشهورو رواياتو دئ؛ په صحابه وو كې څلور راويان لري: عائشه، ام سلمه، ابن عباس، انس رضي الله عنهم؛ او د صحاح سته په شمول ټولو مهمو كتابونو كې راغلی؛ او ښيي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژې له مياشتي پرته بله هيڅ مياشت په بشپړه توګه روژه نه ده نيولې؛ تر ټولو زياتي روژې به ئې په شعبان كې نيولې؛ ښايي د روژې مياشتي ته د تياري او ښه چمتو والي په موخه؛ همداسي لكه چي موږ تر فرض لمانځه وړاندي نوافل كوو.

وعَنْها رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا وفى رواية زيادة وَكَانَ يَقُولُ: «خُذُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ فَإِنَّ اللَّهَ لا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا» وَأَحَبُّ الصَّلاةِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ مَا دُووِمَ عَلَيْهِ وَإِنْ قَلَّتْ، وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلاةً دَاوَمَ عَلَيْهَا. (بخاری: ۱۹۷۰)

او له عائشې رضي الله عنها په بل روایت کي دا زیاتوالی هم شته چې: رسول الله صلی الله علیه و سلم به فرمایل: ((له عملونو هغه او هومره خپل کړئ چې توان ئې لرئ؛ ځکه الله تعالی نه ستومانه کېږي تر هغه چې تاسو ستړي شئ)). او رسول الله صلی الله علیه و سلم ته تر ټولو محبوب او په زړه پوري لمونځ هغه وو چې په دوامداره توګه به اداء کړی شو؛ که څه هم لږ به وو؛ وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلاةً دَاوَمَ عَلَيْهَا او په خپله داسي وو چې کله به ئې کوم لمونځ وکړ نو هغه به ئې بیا بیا کولو.

دا روایت په بخاري کې ٦ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۳۲ - ۳۸۳ - ۹۳۰ - ۱۱۵۱ - ۱۹۷۰ - ۵۸٦۱- د ټولو لومړی راوي عائشه رضي الله عنها ده؛ یعني چې غریب دئ؛ او د احنافو د اسلوب له مخي هغه مهال معتبر ګڼل کېدی شي چې له قرآن سره مطابقت ولري؛ خو په قرآن کې الله تعالی ته ملالت نه دئ منسوب شوی او ستړیا او ستومانتیا چې له ملالت سره تړلی صفت دئ؛ نفی شوی. د روایت د دې برخي (فَإِنَّ اللَّهَ لا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا) په اړه باید څو خبري په پام کې ولرو:

معنی ئې دا ده: که تاسو په خپل نېك عمل کې ستومانه نه شئ نو الله تعالی په ثواب ورکولو کې نه ستومانه کېږي؛ او که تاسو ستومانه شئ یا په نه زړه نېك عمل کوئ نو له الله تعالی ئې د ثواب طمع مه کوئ.

متأسفانه ځینو دلته هم د خپل غلط مسلك او منهج له مخي ویلي: دا (ملال: ملالت، بېزاري او خوابدي) هم د الله تعالی یو ثابت صفت دئ!! ملال د نشاط عکس حالت او ستومانتیا ته وایي؛ دا په داسي حال کې چې قرآن فرمایي:

... وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ البقرة

.... (د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکي حاوي ده او د

دوی دواړو (زمکې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ دئ.

ملالت یو انساني عیب او منفي تأثر او غبرگون دئ؛ الله تعالی له عیب منزه دئ؛ حق نه لرو الله تعالی ته داسي صفت منسوب کړو چي عیبجن وي؛ لکه خوب، ستړیا، لوږه، تنده، مرگ، زړښت، د مکان او زمان محدودیت؛ اجزاء، اعضاء او جوارح، پلار او اولاد درلودل او خوابدي. حتی حق نه لرو الله تعالی په داسي صفت یاد کړو چي الله تعالی په خپله ځان نه دئ پرې ستایلی؛ ځکه د الله تعالی د پېژندو لپاره موږ یوازې او فقط یوه مرجع لرو چي هغه په خپله الله تعالی او د هغه له لوري لېږل شوی کتاب دئ؛ قرآن همداسي فرمایي: ((سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ) الصافات ١٥٩؛ الله ته له هغه څه پاکي ده چي دوی ئې توصیفوي؛ په قرآن کې د دې لپاره هیڅ شاهد نه مومو چي صراحتاً یا اشارتاً ئې الله تعالی ته ملالت منسوب کړی وي.

نو د دې روایت په اړه به څه کوو چي وایي: (فَإِنَّ اللَّهَ لا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا)؟ او له هغو سره به څه کوو چي دا معکوسه نتیجه ترې اخلي چي گواکې الله تعالی هغه مهال ملول او ناخوښ کېږي چي تاسو په خپل عبادت کې ملالت وښيئ!! ځواب دا دئ: روایت وایي: تر خپل توان زیات نوافل مه کوئ؛ دومره ئې وکړئ چي درته آسان وي او په شور شوق او نشاط سره ئې کوئ؛ هغه عبادت چي له نشاط او شوق پرته وي او له ملالت سره توأم وي؛ الله تعالی ئې نه خوښوي؛ نه دا چي ملول کېدا د الله تعالی صفت دئ!!

د اهل ظاهر اصلي ستونزه دا ده چي الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي؛ په ټولو انساني صفاتو ئې متصف کوي؛ له غړو نیولې تر رداء او إزار، له گوتو نیولې تر قدم او ساق، له خندا نیولې تر ملالت؛ دوی الله تعالی ته قدم هم منسوبوي او په هغه روایت استناد کوي چي په کې راغلي: د قیامت په ورځ به الله تعالی دوزخ ته ووایي: آیا ډك شوې؟ هغه به په ځواب کې ووایي: هل من مزید: آیا مزید څه هم شته؟ په

پای کې به ګواکې الله تعالی خپل قدم پرې کښېږدي او خاموش به شي!! او الله تعالی ته د ساق (پنډۍ) ثابتولو لپاره د قرآن په داسي آیت استناد کوي چي په اصل کې د مشرکینو په اړه دئ او د دوی د وېري او اضطراب هغه حالت بیانوي چي د قیامت په ورځ به ئې لري؛ له وېري به تښتي، پیڅې به ئې پورته کړې وي، پنډۍ به ئې لوڅي شوې وي، سجدې ته به بلل کېږي خو نه به شي کولی... آیتونه دا دي:

يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ القلم

هغه ورځ چي پنډۍ بربنډه کړی شي؛ او دوی به سجدې ته راوبلل شي؛ خو توانېدی به نه شي. سترګي ئې خړې او ټيټې، ذلت پرې سیوری غوړولی؛ یقیناً چي له دې مخکي سجدې ته بلل کېدل په داسي حال کې چي روغ رمټ ول.

په دې آیتونو کې له ٣٥ تر ٤٣ پورې؛ یوازې د مشرکینو په اړه بحث شوی؛ د الله تعالی او د هغه د ذات څرنګوالي په اړه هیڅ څه حتی اشارتاً هم نه دي ویل شوي؛ له دې آیت دا رااېستل چي الله تعالی ساق لري؛ ساق ئې په لونګ پټ دئ؛ د قیامت په ورځ به د ده ساق لوڅ کړی شي!!! یوازې هغه انسان به دا ترې راباسي چي هم ئې د مخ سترګي ړندې وي او هم د زړه سترګي؛ ډېر ناپوه انسان به نه د داسي تعبیر جسارت وکړي او نه به ئې ومني؛ خو د بېمارو زړونو خاوندان؛ د خپلو ناسمو افکارو او باورونو د ثابتولو لپاره؛ هغه داسي تعبیروي چي ګواکې دلته د الله تعالی ساق ته اشاره شوې؛ هغه به لوڅ کړی شي او همدا مشرکین به د دغه ساق په وړاندي سجدې ته وبلل شي!!! په داسي حال کې چي د پنډۍ لوڅول او پایڅې بر وهل هم په عربي کې یوه استعاره ده او هم په پښتو کې او مراد ئې له وېري تېښته ده؛ او دا آیتونه په بشپړ صراحت او وضاحت سره ښيي چي د قیامت په ورځ د مشرکینو د

وېرې، تېښتې.... حالت په کې انځور شوی.

قرآن د الله تعالی د ذات په اړه فرمايي: (... لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ... ) الشورى ١١: د عالم هيڅ شی او مخلوق هغه ته ورته نه دئ؛ نه په ذات کې او نه په صفاتو کې؛ الله تعالی له هغو ذاتي او فعلي صفاتو منزه دئ چې په مخلوق کې ئې ګورو؛ مخلوق جسم لري، له اجزاء جوړ شوی، پيدا شوی او مري، د مکان او زمان تابع دئ؛ اما الله تعالی له دې ټولو عيبونو منزه دئ. د مخلوق حالت بدلېږي؛ د وضعيت له بدلېدو سره سم په هغه کې تبديلي راځي؛ کله خوښ شي کله خفه، کله نشيط وي او کله ستومانه او خوابدی؛ کله ئې يخ کېږي او کله ګرمي، کله بخارۍ ته اړ وي او کله ايرکنډيشن ته؛ اما الله تعالی نه بدلېدونکی دئ؛ مخلوق په يوه وخت کې يوازې يو ځای وي؛ د مکان په وړاندې محکوم دئ؛ له يوه مکان بل ته د رسېدو لپاره خوځېدو او زمان ته ضرورت لري؛ خو الله تعالی داسې نه دئ؛ هم په عرش کې وي او هم له موږ سره هر ځای؛ د قرآن په يوه آيت کې همدا دواړه هممهال او يو ځای راغلي.

أبو حاتِم رحمه الله د روايت د دغې فقرې په اړه وايي: دا هغه الفاظ دي چې د مخاطَب او اورېدونکي علم او پوهه ئې په هدف او مقصد؛ له همدغو الفاظو پرته؛ په نورو الفاظو احاطه نه شي کولی: قَالَ أَبُو حَاتِمٍ قَوْلُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا" مِنَ الْأَلْفَاظِ الَّتِي لَا يُحِيطُ عِلْمُ الْمُخَاطَبِ بها فِي نفس القصد إلا به" او همدا په متشابهاتو کې د ده مسلك دئ. او حقيقت همدا دئ چې په متشابهاتو او استعارو کې کارول شوي الفاظ قطعاً په متبادره او ظاهري معنی نه شو اخيستلی؛ که نه نو د اهل ظاهر په څېر به اشتباه کوو او الله تعالی به له مخلوق سره تشبيه کوو. که په روايت کې راغلي (... الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، والْعَظَمَةُ إِزَارِي، فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ") يعني کبرياء زما رداء (هغه څادر دئ چې د بدن برنۍ برخه پرې پټېږي) او عظمت زما إزار (هغه لونګ دئ چې د بدن لاندينۍ برخه پرې پټېږي)؛ نو څوك چې په دغو دواړو کې د کوم يوه په اړه له ما سره منازعه وکړي؛ په اور

کې ئې اچوم؛ د دې معنی دا نه ده چې الله تعالی د انسان په څېر جامه لري؛ معنی ئې فقط دا ده چې کبریاء او عظمت فقط له ده سره ښایي او بس او فقط ده ته مختص ده؛ لکه انسان چې خپله جامه له ځانه نه باسي او بل چا ته ئې نه ورکوي؛ الله تعالی هم په کبریاء او عظمت کې بل څوك له ځان سره نه شریکوي. عجیبه ده چې څوك له کبریاء او عظمت د جامې معنی اخلي او د دې روایت له مخې الله تعالی ته د رداء او إزار ثابتولو خوشې هڅه کوي!!!

## ٣٥ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د روژې او نه روژې بیان

عن حُمَيْد قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ صِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «مَا كُنْتُ أُحِبُّ أَنْ أَرَاهُ مِنَ الشَّهْرِ صَائِمًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ مُفْطِرًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ مِنَ اللَّيْلِ قَائِمًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ نَائِمًا إِلَّا رَأَيْتُهُ، وَلاَ مَسِسْتُ خَزَّةً وَلاَ حَرِيرَةً، أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلاَ شَمِمْتُ مِسْكَةً، وَلاَ عَبِيرَةً أَطْيَبَ رَائِحَةً مِنْ رَائِحَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» بخاری ١٩٧٣

له حُمَيد روایت دئ چې له انس رضي الله عنه مې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د روژې په اړه وپوښتل؛ نو وئې ویل: که به مې زړه غوښتل چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په کومه میاشت کې د روژې په حال کې ووینم؛ نو وبه مې لیدو او نه بې روژې؛ مگر وبه مې لیدو؛ او نه د شپې په لمانځه ولاړ مگر وبه مې لیدو او نه ویده؛ مگر دا چې وبه مې لیدو؛ او نه مې د وړیو او وریښمو په داسې نرمې ټوټې لاس راکاږلی چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر لاس زیاته نرمه وې او نه مې داسې مِشک او عنبر بوی کړې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر خوږ بوی؛ زیات خوږ وو.

د دې روايت معنی دا ده چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم نفلي روژو او لمونځونو؛ نه خاصي مياشتي درلودې او نه ځانګړې شپې؛ کله مي د روژې حالت کې ليدلی او کله بې روژې؛ کله مي د شپې له لوري په لمانځه ليدلی او کله ويده. او دا چې رسول الله صلی الله عليه و سلم تل ښايسته عطر کارول.

حديث عَبْدُاللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا تَقَدَّمَ.

د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه حديث مخکي تېر شو.

## ۳۶ باب: په روژه کي د بدن حق

وَقَالَ فى هَذِهِ الرواية: فَكَانَ عَبْدُاللَّهِ يَقُولُ بَعْدَ مَا كَبِرَ يَا لَيْتَنِى قَبِلْتُ رُخْصَةَ النَّبِىِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

او په دې روايت کي راغلي: کله چې عبدالله سپين ږيری شو؛ نو ويل به ئې: کاش د رسول صلی الله عليه و سلم رخصت مي منلی وی.

دلته د بخاري ۱۹۷۵ روايت ته اشاره شوې چې په هغه کې راغلي: رسول الله صلی الله عليه و سلم له ده پوښتنه کړې وه: آيا همداسي ده چې ته هره ورځ روژه نيسي او هره شپه نفل لمونځونه کوې؟ هغه ويلي وو: هو؛ يا رسول الله؛ ورته فرمايلي ئې وو: داسي مه کوه؛ کله روژه نيسه او کله نه، کله د شپې نفلي لمونځونه کوه او کله ويدېږه؛ ستا جسد، مېرمن او ستا ملاقات کوونکي دوستان؛ پر تا حق لري؛ په مياشت کي درې ورځي روژه نيسه او همدا په ثواب کي داسي ده لکه چي ټول عمر دي روژه نيولې وي؛ ځکه هر نېك عمل لس برابره اجر لري؛ خو ده دا کافي نه ده ګڼلې او تر دې زيات ئې غوښتي... خو بيا په زړښت کي پښېمان وو او ويل ئې کاش د رسول الله صلی الله عليه و سلم سپارښتنه مي منلې وی.

## ٣٧ باب: په روژه کې د کورنۍ حق

وفی روایة عنه: أَنَّهُ لما ذکر صِيَامَ دَاوُدَ علیه السلام قَالَ: وَكَانَ وَلا يَفِرُّ إِذَا لاقَى قَالَ عبدالله: مَنْ لِي بِهَذِهِ يَا نَبِيَّ اللَّهِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا صَامَ مَنْ صَامَ الأَبَدَ مَرَّتَيْنِ. (بخاری: ١٩٧٧)

او له همده (عبدالله بن عمرو بن العاص) په بل روایت کې راغلي: کله چې ئې د داؤد علیه السلام د روژې یادونه وکړه وئې فرمایل: ((او هغه داسي وو چې کله به (له دښمن سره) مخامخ شو نو نه به تښتېدو))؛ عبدالله بن عمرو وویل: اې د الله نبي! څوک به په دې کې زما ضامن وي؟ نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((څوک چې تل روژه نیسي؛ داسي دئ لکه چې هیڅ روژه ئې نه وي نیولې))؛ دا خبره ئې دوه ځلي تکرار کړه.

په دې روایت کې پر روژتي د کورنۍ حق نه دئ بیان شوی؛ خو دا روایت د ١٩٧٥ روایت یوه برخه ده چې د کورنۍ حق یادونه هم په کې شوې.

## ٣٧ باب: که څوك د نورو لیدو ته ورشي خو خپله روژه ماته نه کړي

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ فَأَتَتْهُ بِتَمْرٍ وَسَمْنٍ قَالَ: «أَعِيدُوا سَمْنَكُمْ فِي سِقَائِهِ، وَتَمْرَكُمْ فِي وِعَائِهِ، فَإِنِّي صَائِمٌ» ثُمَّ قَامَ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَصَلَّى غَيْرَ الْمَكْتُوبَةِ فَدَعَا لأُمِّ سُلَيْمٍ وَأَهْلِ بَيْتِهَا فَقَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي خُوَيْصَّةً قَالَ: «مَا هِيَ؟» قَالَتْ: خَادِمُكَ أَنَسٌ، فَمَا تَرَكَ خَيْرَ آخِرَةٍ وَلا دُنْيَا إِلَّا دَعَا لِي بِهِ قَالَ: «اللَّهُمَّ ارْزُقْهُ مَالاً وَوَلَدًا وَبَارِكْ لَهُ فِيهِ» فَإِنِّي لَمِنْ أَكْثَرِ الأَنْصَارِ مَالاً وَحَدَّثَتْنِي ابْنَتِي أُمَيْنَةُ أَنَّهُ دُفِنَ لِصُلْبِي مَقْدَمَ حَجَّاجٍ الْبَصْرَةَ بِضْعٌ وَعِشْرُونَ وَمِائَةٌ. (بخاری: ١٩٨٢)

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د ام سُلَيم کور ته ورغی (دا ئې رضاعي خاله وه)؛ هغې خرما او غوړي ورته راوړل؛ وئې فرمایل: ((غوړي مو د هغه ژې ته ستانه کړئ او خرما خپلې پنډې ته ئې؛ ځکه زه روژه يم)). بيا پاڅېد او د کور په يوې گوښه کې ئې نفلي لمونځ وکړ؛ بيا ئې ام سليم او د هغې کورنۍ ته دعاء وکړه؛ نو ام سُلَيم وويل: يا رسول الله! زه خو ستا خدمت ته مختص شوی يو وړوکی او نازولی لرم! وئې فرمايل: ((هغه څه دئ؟)) هغې وويل: ستا خادم انس؛ (انس وايي): نو نه ئې د آخرت کوم خير پرېښود او نه د دنيا مگر دا چې زما لپاره ئې وغوښتل؛ وئې فرمایل: ((خدايه! مال اولادونه ورکړې او په هغوی کې ده ته برکت واچوې))؛ نو نن زه له هغو انصارو يم چې تر نورو ئې مال او شتمني زياته ده؛ او لور مي ((أُمَيْنَه)) راته ويلې: بصرې ته د حَجَّاج تر راتگ وړاندې زما له اولادې څه باندې يو سل شل تنه دفن شوي.

## ۳۸ باب: د مياشتې د پای روژه

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ سَأَلَهُ أَوْ سَأَلَ رَجُلاً فَقَالَ: «يَا أَبَا فُلانٍ أَمَا صُمْتَ سَرَرَ هَذَا الشَّهْرِ؟» قَالَ الرَّجُلُ: لا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ» وفى رواية عنه قال: «مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ». (بخاری: ۱۹۸۳)

له عمران بن حُصَين رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم له ده يا کوم بل سړي؛ وپوښتل: ((اې فلانيه! د دې مياشتې په وروستيو کې دې روژه نه ده نيولې؟)) هغه سړي وويل: نه؛ يا رسول الله! وئې فرمايل: ((کله چې دې روژه پای ته ورسوله؛ دوه ورځې روژه ونيسه)) او په بل روايت کې ويل شوي: ((د شعبان مياشتې له وروستيو)).

د بخاري د دې روایت اصلي بڼه داسې ده:

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ سَأَلَهُ - أَوْ سَأَلَ رَجُلًا وَعِمْرَانُ يَسْمَعُ -، فَقَالَ: «يَا أَبَا فُلاَنٍ، أَمَا صُمْتَ سَرَرَ هَذَا الشَّهْرِ؟» قَالَ: - أَظُنُّهُ قَالَ: يَعْنِي رَمَضَانَ -، قَالَ الرَّجُلُ: لاَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمَيْنِ»، لَمْ يَقُلِ الصَّلْتُ: أَظُنُّهُ يَعْنِي رَمَضَانَ، قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: وَقَالَ ثَابِتٌ: عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عِمْرَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ»

له عمران بن حُصَین رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له ده یا کوم بل سړي؛ وپوښتل او عمران اورېدل: ((اې فلانیه! د دې میاشتې د پای (چې سپوږمۍ ئې د پټېدو حالت کې وي)؛ روژې دې نه دي نیولې؟)) راوي وایي: ګمان کوم وئې ویل: یعني د رمضان میاشت؛ هغه سړي وویل: نه؛ یا رسول الله! وئې فرمایل: ((کله چې دې روژه پای ته ورسوله؛ دوه ورځې روژه ونیسه)) صَلْت بن محمد دا نه دي ویلي چې ګومان کوم د رمضان میاشت ئې یاده کړه؛ ابو عبد الله وویل: ثابت له مُطَرِّف او هغه له عمران روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: «مِنْ سَرَرِ شَعْبَانَ» د شعبان له وروستیو.

لکه چې ګورئ په دې روایت کې ډېر ابهام او اضطراب تر سترګو کېږي؛ په یوه کې د روژې میاشت د پای روژې او په بل کې د شعبان میاشت د پای؛ ویل شوي؛ په داسې حال کې چې نه د شعبان میاشتې د پای روژې نیول صحیح دي؛ ځکه د شك په روژو کې راځي او نه د روژې میاشتې په پای کې او متصل روژه نیول جائز دي؛ ځکه په دواړو عیدونو کې روژه نیول منع دي. له دقیقي شرحې پرته نه د دې روایت ابهامات رفع کولی شو او نه ئې له الفاظو په مطلب په سمه توګه پوهېدلی شو؛ اصلي مطلب ئې دا دئ چې دې سړي د هرې میاشتې پای کې دوه نفلي

روژې نیولې؛ کله چې پوه شو د شك روژه به نه نیسي؛ نو دا ځل ئې د شعبان میاشتې هغه دوه روژې نه وې نیولې؛ د رسول الله صلی الله علیه و سلم د پوښتنې په ځواب کې ئې همدا ویلي او هغه ورته فرمایلي: د روژې له میاشتې وروسته هغه دوه ورځې نفلي روژې دې ونیسه. یعنې که څوك کوم نفلي عبادت پر ځان لازم کړي او ونه توانېږي په خپل وخت ئې اداء کړي؛ بل وخت دې دا نقص جبیره کړي.

## ۳۹ باب: د جمعې د ورځې روژه

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ؟ قَالَ: نَعَمْ. (بخاری: ۱۹۸٤)

له محمد بن عباد رضي الله عنه روایت دی چې وايي: له جابر رضي الله عنه مې وپوښتتل: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د جمعې په ورځ له روژې نیولو نهې کړې ده؟ وئې وویل: هو.

د دې روایت په اړه دا پوښتنه راولاړېږي چې آیا د جمعې په ورځ روژه نیول جائز نه دي؟ ښایي داسي څوك به هم پیدا شي چې گمان وکړي د روژې په میاشت کې به هم د جمعې په ورځ روژه نه نیسو؛ که څه هم په روایت کې دا وضاحت نه دئ شوی چې د جمعې په ورځ به نفلي روژه نه نیول کېږي؛ خو په راتلونکي روایت کې دا ابهام رفع شوی:

۹٦۷ ـ عَنْ جُوَيْرِيَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهِيَ صَائِمَةٌ فَقَالَ: «أَصُمْتِ أَمْسِ؟» قَالَتْ: لا، قَالَ: «تُرِيدِينَ أَنْ تَصُومِي غَدًا؟» قَالَتْ: لا، قَالَ: «فَأَفْطِرِي». (بخاری: ۱۹۸٦)

له ام المؤمنین جویریه بنت حارث رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د جمعې په ورځ په داسې حال کې د دې کور ته راغی چې دا روژه وه؛ وئې فرمایل: ((آیا پرون دې روژه نیولې وه؟)) هغې وویل: نه؛ بیا ئې وفرمایل: ((سبا روژه نیسې؟)) هغې وویل: نه؛

وئې فرمایل: ((نو روژه دې ماته کړه)).

له دې معلومېږي چې د جمعې په ورځ په اختصاصي او منفرده توګه روژه نیول؛ جائز نه دي.

په صحیح مسلم کې دا روایت تر دې باب لاندې راوړل شوی: باب النهي عن صوم يوم الجمعة منفردًا: دا عنوان له روایت سره ډېر مناسب دئ.

## ٤٠ باب: د روژې لپاره ځانګړې ورځې

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّها سُئِلَتْ: هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْتَصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا؟ قَالَتْ: لا، كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً، وَأَيُّكُمْ يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيقُ. (بخاری: ١٩٨٧)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وپوښتل شوه: آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې وو چې خاصې ورځې وټاکي؟ وئې ویل: نه؛ عملونه به ئې دائمي وو؛ او له تاسو به څوك دومره توان او طاقت ولري چې رسول الله صلی الله علیه و سلم درلود؟!

تکرار: دا روایت په بخاري کې ۲ ځلې په دغو شمېرو راغلی: ۱۹۸۷ - ٦٤٦٦ – له دغو توپیرونو سره: په یوه کې قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په بل کې سَأَلْتُ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ، په یوه کې كَيْفَ كَانَ عَمَلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، هَلْ كَانَ يَخُصُّ شَيْئًا مِنَ الأَيَّامِ؟ په بل کې هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَخْتَصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا؟ په یوه کې وَأَيُّكُم يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيقُ په بل کې وَأَيُّكُمْ يَسْتَطِيعُ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَطِيعُ راغلي. سره له دې لفظي توپیرونو د روایاتو اصلي موضوع دا ده چې آیا رسول الله صلی الله علیه و سلم د نفلي عباداتو لپاره خاصې ورځې ټاکلې وې که نه؛ د عائشې رضي الله عنها ځواب داسې ګڼل شوی چې نه؛ نوافل ئې هم دائمي وو؛ خو دا وضاحت ته ضرورت لري؛ ځکه په نورو روایاتو کې دا مومو چې

رسول الله صلی الله علیه و سلم هم په خپله خاصي ورځي او وختونه د نوافلو لپاره درلودل او هم ئې خپل امت ته د دې سپارښتني کړې؛ لکه چي ده د شعبان مياشت کې تر نورو زياتي روژې نيولې؛ روايت ئې لړ وړاندي تېر شو؛ راوي ئې هم عائشه رضي الله عنها، د عرفې روژه، د ايام بيض درې ورځې، د شوال مياشت شپږ ورځې، د هري اونۍ په دوه نۍ (دوشنبه) او پنځنۍ (پنجشنبه) روژې؛ ما ته داسي برېښي چي د دې رواياتو د تلفيق؛ يو صورت کېدی شي او هغه دا چي ورځي به ئې داسي نه مختص کولې چي په يوې اونۍ، مياشت او کال کې ئې مراعات کړي او په نورو اونيو، مياشتو او کلونو کې نه؛ او دا هغه څه دي چي ده ئې توان درلود او موږ ئې نه لرو؛ موږ ته ئې سپارښتنه دا ده چي پر ځان ئې لازم نه کړو.

## ٤١ باب: د تشريق د ورځو روژه

عَنْ عَائِشَةَ و ابنِ عُمَرَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالا: لَمْ يُرَخَّصْ فِى أَيَّامِ التَّشْرِيقِ أَنْ يُصَمْنَ إِلَّا لِمَنْ لَمْ يَجِدِ الْهَدْىَ. (بخارى: ١٩٩٧ـ ١٩٩٨)

له عائشې او ابن عمر رضي الله عنهم روايت دئ چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم هيڅا ته د تشريق په ورځو کي د روژې اجازه نه ده ورکړې مگر هغه قارن او متمتع حاجي ته چي د هدي (حج د قربانۍ) توان نلري.

ايام تشريق هغو دريو ورځو ته ويل کېږي چي د لوی عيد تر لومړۍ ورځي وروسته دي؛ يعني د ذي الحجې ١١-١٢-١٣؛ احناف او شوافع په دغو ورځو کي روژه نيول مکروه تحريمي گڼي؛ د هغو رواياتو په استناد چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم په دغو ورځو کې د روژې له نيولو ممانعت کړی؛ خو د امام بخاري له نظره هغه حاجي کولی شي په دغو ورځو کې روژه ونيسي چي د تمتع او قران حج نيت ئې کړی؛ گواکې دوی ايام تشريق؛ له هغو ورځو مستثنیٰ کړې چي روژه به نه په کې

نيول کېږي؛ دا استثناء د هغو په اړه ګڼي چې د يوه څاروي ذبح کولو توان نه لري؛ نو درې ورځې به د حج په دوران کې روژه نيسي او اوه ورځې خپل کور ته له ستنېدو وروسته.

احناف په هغه روايت هم استناد کوي چې په سنن ترمذي کې راغلی: (عن عُقبةَ بن عامر رضي الله عنه أنّ النبيّ صلى الله عليه و سلم قال: (يومُ عرفةَ ويومُ النحرِ وأيامُ التشريقِ عيدنا أهلَ الإسلامِ، وهيّ أيامُ أكلٍ وشربٍ)؛ يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: د عرفې ورځ، يوم النحر او ايام تشريق د اهل اسلام عيد دئ؛ او دا د خوراك او څښاك ورځې دي؛ او په دې روايت هم: عن أمّ عمر بن سُلَيم: (بعث رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ عليَّ بنَ أبي طالبٍ رضيَ اللهُ عنه في أواسطِ أيامِ التشريقِ يُنادِي في الناسِ لا تصومُوا في هذه الأيامِ فإنها أيامُ أكلٍ وشربٍ)): له ام عمر روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم علي رضي الله عنه د ايام تشريق په منځ کې ولېږو چې د خلکو منځ کې دا اعلان وکړي: په دغو ورځو کې روژه مه نيسئ ځکه دا د خوراك او څښاك ورځې دي. او امام شافعي رحمه الله په هغه روايت استناد کوي چې په صحيح مسلم کې راغلی (أنّ النبيّ صلى الله عليه و سلم قال: (أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ))

د دغو رواياتو راويانو کې عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، ابو هريره، ابن عباس، نُبَيْشَةَ، عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْعَدَوِيّ شامل دي؛ له صحيح بخاري او سنن ابی داؤد پرته نورو ټولو مهمو کتابونو راوړي.

امام مالك او امام احمد حنبل؛ هغه متمتع او قارن حاجي ته په ايام تشريق کې د روژې نيول جائز ګڼي چې د هدي (څاروي ذبح کولو) توان نه لري؛ دوی په هغه روايت استناد کوي چې په بخاري کې راغلی:

عن أمّ المؤمنين عائشة رضى الله عنها و ابن عمر رضى الله عنهما؛ أنّ النبيّ صلى الله عليه و سلم قال: (لَمْ يُرَخَّصْ فِى أَيَّامِ التَّشْرِيقِ أَنْ يُصَمْنَ، إِلاّ لِمَن لَمْ

يَجِدِ الهَدْیَ)، او عن عائشة رضی الله عنها: (أَنَّ النَّبِيَّ صلَّ اللهُ عليهِ وسلَّمَ رخَّصَ للمتمتعِ إذا لم يجدِ الهدیَ ولم يصمْ الثلاثةَ فی العشرِ: أن يصومَ أيامَ التشريقِ).

د دواړو رواياتو خلاصه دا ده چې ګواکې هغه متمتع حاجي ته په دغو ورځو کې د روژې نيولو رخصت ورکړی شوی چې د هدي توان نه لري.

د بخاري د روايت راويان په صحابه وو کې يوازې عائشه او ابن عمر رضي الله عنهم دي. او له صحاح سته يوازې په صحيح بخاري او سنن ابي داؤد کې راغلی؛ مصنف ابن ابي شيبه او سنن الکبری للبيهقي کې هم راغلي خو داسي چې په هغوی کې دواړه متعارض روايات راوړل شوي.

دې ته په پام سره چې احنافو په هغه روايت استناد کړی چې هم ئې په صحابه وو کې راويان اته تنه او د بخاري په پرتله څلور ځله زيات دي او هم په هغوی کې دوه ستر شخصيتونه؛ دوه امير المؤمنين؛ عمر او علي رضي الله عنهما دي او د دوی د امارت په وخت کې پرې عمل شوی؛ نو دا رأی ارجح او اصح ده. ځينو په تکلف سره هڅه کړې چې د بقره سورې د ۱۹٦ له دې برخي (... فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ...)؛ داسي څه راوباسي چې د بخاري د رأی لپاره مستمسك ترې جوړ شي؛ حال دا چې په دې کې (ثَلاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ) راغلي نه (ايام التشريق)؛ هيڅوك په دې کې اختلاف نه لري چې داسي حاجي به د حج په ټولو ورځو کې درې ورځې روژه نيسي؛ اختلاف په دې کې دئ چې احنافو او شوافعو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ډېر مشهور روايت استناد کړی او ايام التشريق کې ئې د روژو نيول مکروه تحريمي ګڼلي؛ اما بخاري په مرجوح او د سند له پلوه کمزوري روايت استناد کړی.

آيا ډېره عجيبه نه ده چې ځيني داسي څرګند حقائق له پامه غورځوي او د تعصب او تعنت له مخي احناف او جليل القدر ائمه او

فقهاءو ته ئې کله د اهل الرأی خطاب کوي او کله د متروك او د حدیث منکر؟!!! په ټول یقین سره ویلی شو چي په ټولو او لږ تر لږه په اکثرو دغسي مواردو کې د احنافو ائمه وو په هغو روایاتو استناد کړی چي د بخاري تر روایاتو اصح او ارجح دي.

امام ابو حنیفه رحمه الله او احنافو ته دوی ځکه اهل رأی او د حدیث منکر وایي چي ١- احناف قرآن اصل ګڼي او حدیث فرع او د قرآن شرح او تفسیر؛ هغه روایات چي راویان ئې یو یا لږ وي؛ په هغه صورت کې ئې معتبر ګڼي چي له قرآن سره مطابقت ولري، د عدم مطابقت په صورت کې د قرآن په صریح نص اکتفاء کوي؛ د بخاري اکثر روایات آحاد دي؛ پورتنی روایت ئې یو مثال دئ؛ ډېر ئې غریب دي چي په یوه طبقه کې یوازي یو یو راوي لري؛ احناف غریب روایات د استناد وړ نه ګڼي او یوازي په هغه صورت کې ئې مني چي په قرآن کې ورته شاهد ومومي. امام بخاري رحمه الله او استادان ئې له دې سره موافق نه دي؛ دا خبره نه مني چي د روایت د صحت لپاره له قرآن سره ئې مطابقت شرط دئ؛ دوی د ثقه راویانو لپاره خپل معیارونه لري او له مخي ئې د هغوی یو فهرست جوړ کړی؛ له دوی چي کوم روایت تر لاسه کوي؛ هغه ته صحیح وایي؛ حتی هغه هم چي له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري؛ خو د دوی له دې فهرست سره نه یوازي ټول محدثین موافق نه دي بلکي ورسره اختلاف لري او ډېر راویان ئې متروك، ضعیف او غیر ثقه ګڼي؛ هغوی د ثقه راویانو ځان ته نوملړ او فهرست لري؛ ځیني همداسي دي؛ که څوك د دوی په معیارونو برابر کوم روایت ورسره ونه مني نو د حدیث منکر، زندیق او حتی مرتد په نامه ئې یادوي؛ عادي افراد خو پرېږدئ حتی داسي ائمه او فقهاء هم تکفیروي چي په ملیونو مؤمن پلویان لري!! تکفیري ډلي له همدې تفکیر راټوکېدلې دي. احناف د روایاتو د صحت لپاره اصول او شرائط لري؛ امام ابو حنیفه وایي: کوم روایت چي صحیح ثابت شي؛ همدا زما مذهب دئ؛ یعني که کوم روایت له قرآن سره مطابقت ولري او د صحت په

ټولو شرائطو برابر وي؛ همدا به زموږ مذهب وي. د اهل ظاهر يو مبلغ مي پر منبر ليدو چي ويل ئې: آيا ابو حنيفه دا نه دي ويلي: کوم روايت چي صحيح ثابت شي؛ همدا زما مذهب دئ؟ او آيا ټول دا نه وايي او په دې ټول امت اجماع نه ده کړې چي بخاري او روايات ئې ټول صحيح دي؟ نو معنی ئې دا ده چي صحيح بخاري د ابو حنيفه مذهب دئ!! عجيبه ده!! مغالطه هم يو حد لري؛ دا د تعصب په بېمارۍ اخته؛ له ټولو پولو اوړي؛ حقيقت دا دئ چي امام ابو حنيفه د بخاري ډېر روايات غير صحيح او مرجوح ګڼي؛ لکه پورتني روايات ئې او امام بخاري ډېر هغه روايات نه دي منلي او نه ئې په خپل کتاب کې راوړي چي احناف ئې د بخاري تر رواياتو اصح او ارجح ګڼي. ۲- د اهل روايت دوهمه ستونزه دا ده چي احناف د قرآن او صحيح حديث تر څنګ؛ او ترې وروسته؛ رأی (درايت او فراست) هم مهم او معتبر ګڼي؛ هغه راوي ته ترجيح ورکوي چي د صائب رأی خاوند او په درايت او فراست کې تر نورو وړاندي وي؛ هغه روايت مني چي له عقل سره اړخ لګوي؛ د عقل او علم خلاف خبره نه مني او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې له انتساب ډډه کوي؛ خو اصحاب ظاهر؛ درايت او په مرسته ئې د روايت د صحت په اړه د قرآن او صحيح حديث په رڼا کې قضاوت او پرېکړه؛ نه يوازي نه مني بلکې دې ته له حديث د انکار په سترګه ګوري؛ او د دې فکر او اسلوب خاوند د منکر حديث او اهل رأی په تکفيري فتوی استقبالوي!!!

متأسفانه دا روايت ځيلي داسي دي چي کله څوك ووايي: قرآن کافي او کامل دئ؛ هر څه ئې په تفصيل سره بيان کړي؛ حق په قرآن کې خلاصه شوی؛ نو داسي غبرګون ښيي چي وېښتان ئې ځيږ شي؛ دا په داسي حال کې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله، په خپلي آخري مهمي خطبې؛ حجة الوداع خطبې کې؛ چي ډېرو مهمو او اساسي مسائلو ته ئې په کې اشاره کړې ده؛ فرمايي: په تاسو کې هغه څه پرېږدم چي که منګولي پرې ولګوئ؛ هيڅکله به بې لاري نه شئ؛ چي هغه د الله کتاب دئ؛ د

کتاب الله تر څنګ د بل څه نوم نه اخلي؛ که د بل څه یادول ضروري او حتمي وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً په دې مهمې وروستۍ خطبې کې د هغه یادونه کړې وی؛ نه ئې دا وویل چې دوه شیان په تاسو کې پرېږدم: کتاب الله او زما سنت، یا زما حدیث، یا زما عترت، یا زما اهل بیت؛ یوازې د کتاب الله یادونه ئې وکړه؛ یعني چې فقط همدا د الله تعالی کتاب ستاسو د هدایت لپاره کافي دئ؛ دا روایت د إسنادو له پلوه دومره دروند او معتبر دئ چې د صحیح بخاري لړ روایات ورسره برابري کولی شي؛ تر اتو زیاتو صحابه وو روایت کړی؛ او له صحیح بخاري پرته د حدیث په ټولو کتابونو کې بلا استثناء راغلی؛ په دې صیغه:

... أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ ترکت فیکم ما إن اعْتَصَمْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا: كِتَابَ اللَّهِ:

... اې خلکو! په تاسو کې مې هغه څه پرېښود چې که منګولې پرې ټینګې کړئ هیڅکله به بې لارې نه شئ: د الله کتاب.

دا ئې په هغې خطبې کې ویلې چې تر یو لك زیات خلك په حج کې راغونډ شوي وو؛ او د رسول الله صلی الله علیه و سلم آخري خطبه ئې اورېدله؛ او لنډه موده وروسته ئې له دې نړۍ رحلت وکړ.

دا هم عجیبه ده چې امام بخاري رحمه الله ولې دا ډېر مهم او معتبر روایت په خپل کتاب کې نه دئ راوړی؟ یقیناً چې دا روایت به ده ته رسېدلی وي؛ ځکه چې د ده ملګري او شاګرد امام مسلم رحمه الله؛ او تر ده مخکې او هم دوره محدثینو؛ ټولو ته رسېدلی او ټولو په خپلو کتابونو کې راوړی؛ امام بخاري هغه روایات هم نه دي راوړي چې د کتاب الله تر څنګ د سنة نبیه یادونه په کې شوې؛ او یوازې دوه راویان لري: یو ئې امام مالك رحمه الله دئ او روایت ئې داسې:

عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ "

له مالك روايت دئ چې وايي: ده ته دا خبره رسېدلې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: په تاسو کې دوه امور پرېږدم؛ كه منگولې پرې ولگوئ نو هيڅكله به بې لارې نه شئ: د الله كتاب او د هغه د نبي سنت.

د دې روايت په اړه څو ملاحظات وړاندې كېږي:

- امام مالك ولې هغه څوك نه دئ ياد كړی چې دا روايت ئې ترې اورېدلی؛ او همدا ئې د ضعف ټكی دئ او د روايت اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي.
- د حجة الوداع له ډېر معتبر او صحيح حديث سره مغايرت لري.
- دا روايت په همدې صيغه او له (أَمْرَيْنِ) او (سُنَّةَ نَبِيِّهِ) سره؛ د امام مالك په څنگ کې يوازې يو ځل بيا د حديث په ټولو كتابونو کې تر سترگو كېږي؛ او هغه هم داسې چې په څلورو طبقو کې يو يو راوي لري؛ درې تنه ئې زوی، پلار او نيكه دي؛ روايت او راويان ئې دا دي:

عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "

دا روايت غريب دئ؛ په ۳ طبقو کې يو يو راوي لري چې دا دي: كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، او د ده پلار او نيكه؛ د حجة الوداع روايت په وړاندې هيڅ وزن او اعتبار نه لري؛ په بشپړ يقين سره ويلی شو چې د كتاب الله تر څنگ؛ د امرين، ثقيلتين، خليفتين، سنة نبيه، اهل بيتي، عترتي... الفاظ له ځانه په کې علاوه شوي.

قرآن په مكرره توگه او په گڼ شمېر آيتونو کې همدا وايي چې قرآن كافي دئ؛ حتى په تعجب سره رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وايي: آيا دا كتاب چې پر تا نازل شوی؛ دوی ته كفايت نه كوئ؟!!

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً

وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ العنکبوت

همد راز فرمایي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴿١٠٣﴾ آل عمران

او ټول د الله په رسئ (قرآن) منګولې ولګوئ او مه متفرق کېږئ.

یعنې چې ټول مؤمنان؛ یوازې په دې ګمارل شوي چې په قرآن؛ تمسك او اعتصام ولري؛ همدا په قرآن تمسك د دوی د یووالي ضامن دئ؛ که منګولې پرې ولګوي نو متحد به وي او که نه نو متفرق او په اختلاف اخته.

دې روایت ته هم ځیر شئ:

۱۱۰۹۲ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا قُعُودًا نَكْتُبُ مَا نَسْمَعُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: «مَا هَذَا تَكْتُبُونَ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ مِنْكَ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ مَعَ كِتَابِ اللَّهِ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ غَيْرُ كِتَابَ اللَّهِ؟ امْحِضُوا كِتَابَ اللَّهِ وَأَخْلِصُوهُ» قَالَ: فَجَمَعْنَا مَا كَتَبْنَا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ؛ ثُمَّ أَحْرَقْنَاهُ بِالنَّارِ.... مسند احمد

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې وئې ویل: ناست وو او هغه څه مو لیکل چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم مو اورېدل؛ وئې فرمایل: دا څه دي چې لیکئ ئې؟ ومو ویل: هغه څه چې له تا ئې اورو؛ وئې فرمایل: آیا د الله د کتاب خوا ته بل کتاب؟ ومو ویل: فقط هغه څه چې مونږ ئې اورو (هیڅ څه له ځانه نه پرې زیاتوو)؛ وئې فرمایل: مګر د الله له کتاب پرته بل کتاب؟ د الله کتاب خالص او منفرد ونیسئ. ابو هریره وویل: څه چې مو لیکلي وو ټول مو راغونډ کړل او په اور کې مو وسوزول.

له دې روایت په کامل صراحت او قاطعیت سره معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې ممانعت کولو چې څوك د ده

حديث وليکي؛ او حتى تعجب ئې کړی چي څوك د الله تعالى د کتاب تر څنگ په بل کتاب ځان مصروف کړي؛ تأکيد ئې کړی چي د الله په کتاب بسنه او اکتفاء وکړئ او بل کتاب ئې خوا ته مه نيسئ. دا سپارښتنه ئې؛ د دې روايت له مخي؛ لږ تر لږه؛ د رسالت په ۲۱ کلنۍ کې کړې؛ دا ځکه چي ابو هريره د اوم هجری کال په لومړيو کې؛ د خيبر جنگ په کال ايمان راوړی؛ له دې روايت چي راوي ئې ابو هريره دئ معلومېږي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د رسالت په ۲۰ کلونو کې؛ د بعثت له ورځي بيا تر اُوَم هجري کال؛ هيچا ته د احاديثو د ليکلو اجازه نه وه ورکړې؛ او چا چي د ده له اجازې پرته څه ليکلي وو؛ ټول ئې وسوزول؛ روايت صراحت لري چي يوازي ابوهريره دا کار نه دئ کړی؛ بلکي د ده تر څنگ نور هم لگياوو د رسول الله صلى الله عليه و سلم ويناوي ئې ليکلې؛ او بيا ټولو په گډه ليکلي احاديث يو ځايي سوزولي.

دا روايات ډېر زيات دي او له بخاري پرته تقريباً ټولو کتابونو کې راغلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ويلي: له قرآن پرته بل څه له ما مه ليکئ؛ د امام بخاري شاگرد؛ امام مسلم دا روايت راوړی:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تَكْتُبُوا عَنِّي، وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ، وَحَدِّثُوا عَنِّي، وَلَا حَرَجَ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ - قَالَ هَمَّامٌ: أَحْسِبُهُ قَالَ - مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ " صحيح مسلم

له ابو سعيد خدري روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: له ما کوم څه مه ليکئ؛ او چا چي له قرآن پرته بل څه له ما ليکلي وي؛ هغه دي حتماً محو کړي؛ زما حديث واوروئ؛ په دې کې څه حرج او ستونزه نشته؛ خو چا چي زما په اړه دروغ وويل؛ (راوي وايي: گمان کوم دا ئې هم وويل: عمداً او قصداً ئې دا کار وکړ)؛ نو هغه دي خپل ځای په جهنم کې ولټوي.

له يوه مشهور محقق؛ أبو إسحاق الحويني مي په يوې ويډيو کې

واورېدل چې ويل ئې: له نژدې اويا صحابه وو دا روايت نقل شوی!!

يعني چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث له ليکلو ممانعت کړی؛ او د حديث بيانولو او نورو ته د اورولو اجازه ئې ورکړې؛ خو دا تأکيد ئې هم کړی چې پام کوئ ما ته داسي خبره منسوب نه کړئ چې ما نه وې ويلې؛ چا چې زما په اړه دروغ وويل؛ نو هغه دې خپل ځای په جهنم کې ولټوي. نو کله چې اورو چا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته کومه وينا منسوب کړه؛ کوم روايت مو مخې ته راغی؛ تر هغه به ئې له منلو او بل ته له ويلو ډډه کوو چې په بشپړه توګه مطمئن او ډاډه شو؛ متن به ئې د قرآن په تله تلو؛ د راوي د صداقت په اړه به ځان مطمئن کوو؛ هغه بايد په خپلې خوا کې دوه، درې او څلور شاهدان ولري؛ روايت ئې بايد له قرآن سره مطابقت ولري؛ د عقل، علم او واقعيتونو خلاف خبره ئې نه وې کړې؛ او ټول هغه شروط بايد په پام کې ونيسو چې محدثينو او محققينو د روايت د صحت لپاره وضع کړي.

د مؤمن انسان درايت او عقل ته چې کوم ارزښت او اعتبار ورکړی شوی؛ او رسول الله صلی الله عليه و سلم چې په دې ارتباط کومې لارښوونې کړې؛ ځينې ئې دا دي:

۲۳٤٤۳- عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: لَمَّا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، قَالَ: يَا مُعَاذُ بِمَ تَقْضِي؟ قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللهِ، قَالَ: فَإِنْ جَاءَكَ أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ؟ قَالَ أقضى بما قضى به نبيه صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَإِنْ جَاءَكَ أَمْرٌ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ نَبِيُّهُ وَلَمْ يَقْضِ فِيهِ الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: أَؤُمُّ الْحَقَّ جَهْدِي؛ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ يَقْضِي بِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولُ اللهِ. مُصَنَّف ابن ابی شيبه

امام شافعي وايي:

١٩٧٦٥ - قَالَ الشَّافِعِيُّ:... فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُمْ بِطَاعَةِ اللَّهِ، ثُمَّ رَسُولِهِ، ثُمَّ الِاجْتِهَادِ، فَيُرْوَى أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاذٍ: «بِمَ تَقْضِى؟» قَالَ: بِكِتَابِ اللَّهِ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟» قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فَإِنْ لَمْ يَكُنْ؟» قَالَ: أَجْتَهِدُ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِهِ» معرفة السنن و الآثار

د دې دواړو رواياتو خلاصه دا ده: کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ مُعاذ بن جبل يمن ته د والي يا قاضي په توګه لېږلو نو هغه ته ئې وفرمايل: د څه له مخې به قضاوت او پرېکړې کوې؟ وئې ويل: د الله په کتاب سره؛ وئې فرمايل: که ئې د الله په کتاب کې ونه مومې؟ وئې ويل: د پيغمبر عليه السلام د سنت مطابق به پرېکړه کوم؛ وئې فرمايل: که داسې څه درته راشي چې نه ئې د الله په کتاب کې ومومې او نه د پيغمبر په سنت کې؟ وئې ويل: خپله اجتهاد او هڅه به له حق سره برابروم. نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: الحمد لله چې د پيغمبر استازي ته ئې توفيق ورکړی او داسې ئې ګرځولی چې پرېکړه ئې د رسول الله د رضايت مطابق وي.

دې ته مو بايد پام وي چې هيڅوك به له داسې پېښې او قضيې سره مخامخ نه شي چې په قرآن او سنت کې ئې په اړه داسې لارښوونه نه وي چې له ده سره ئې په حل و فصل کې مرسته وکړي؛ حتماً به يا په بشپړ صراحت سره واضح لارښوونې ومومي او يا داسې اشارې چې له ده سره د حق په موندلو کې مرسته کولی شي؛ په روايت کې دا فقره (که ئې ونه مومې) همدې ظريف ټکي ته اشاره کوي؛ يعني که ته ئې د الله په کتاب يا د رسول الله په سنت کې ونه مومې؛ لارښوونه به وي خو ته به ورته متوجه شوی نه وې؛ بيا به څه کوې؛ او هغه ويلي: هڅه به کوم چې د حق مطابق رأی وړاندې کړم.

په دې ارتباط؛ په دغه روايت کې لا زيات واضح هدايات مومو:

١٦٠٥٨ - عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ، وأَبِي أُسَيْدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ، وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ قَرِيبٌ، فَأَنَا أَوْلَاكُمْ بِهِ، وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ، وَتَنْفِرُ أَشْعَارُكُمْ، وَأَبْشَارُكُمْ، وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ» مسند احمد

له ابو حُميد او ابو اُسید روایت دئ چي نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل: که مو ما ته منسوب داسي حدیث واورېد چي ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي؛ او داسي ئې مومئ چي تاسو ته نژدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولی یم؛ او که مو ما ته منسوب داسي حدیث واورېد چي ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ترې نفرت کوي؛ (ورته څیږ شي) او داسي ئې مومئ چي له تاسو لري دئ؛ نو زه تر تاسو زیات له هغه لري یم.

دا روایت د مسند احمد او صحیح إبن حبان تر څنگ په ځینو نورو کتابونو کې هم راغلی؛ راویان ئې ثقه او صادق گڼل شوي؛ او محققینو ویلي: رجاله رجال الصحیح: راویان ئې د صحیح روایاتو معیار مطابق دي.

یعني چي الله تعالی مؤمن بنده ته داسي درایت او فراست ورکوي چي په مرسته ئې کولی شي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د یوه منسوب روایت په اړه سم قضاوت وکړي او پوه شي چي دا به پیغمبر علیه السلام ویلي وي که نه. همغسي چي قرآن فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩ الأنفال

اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له

منځه یوسي او بخښنه به درته وکړي او الله د لوی فضل خاوند دئ.

دلته د تقوی څو نتائج په ګوته شوي:

الله تعالی به د تقوی په نتیجه کې داسي فرقان، فِراست او بصیرت ستاسو په برخه کړي چي په هغه سره د حق او باطل تر منځ ژر او په آسانۍ سره توپیر کولی شئ، یعنی تقوی تاسو ته داسي روڼ څراغ، دقیق محك او معیار، ژور بصیرت او فراست درکوي چي کولی شئ په هغه سره په پوره آسانۍ د حق او باطل، ښه او بد، مفید او مضر، دوست او دښمن تر منځ توپیر وکړئ، په هر وخت او هر حالت کې مناسبه فیصله وکړئ او ګټور تصمیم ونیسئ. د ژورو حقائقو ادراك، د نظر وسعت، په پیچلیو مسائلو او پداسي قضایاوو پوهېدل چي د سطحي نظر خاوندان ئې نه شي درك کولی؛ د تقوی نتیجه ده. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه و سلم "اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ، فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بنورِ اللَّهِ" ثُمَّ قَرَأَ: إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِلْمُتَوَسِّمِينَ. رواه الترمذی

له ابو سعید خدري رضی الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د مؤمن د فراست پروا کوئ؛ ځکه چي هغه د الهي نور په رڼا کې لیدل کوي. بیا ئې دا آیت ولوست: یقیناً چي په دې کې د فراست خاوندانو ته څرګندي نښي دي.

د قرآن دا آیتونه او د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا لارښووني کافي دي چي باور وکړو الله تعالی مؤمن او متقي بنده ته داسي درایت او فراست ورپه برخه کوي چي په مرسته ئې حق او باطل پېژندی او په توپیر ئې پوهېدی شي.

## ٤۲ باب: د عاشوراء روژه

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. (بخاری: ۲۰۰۲)

عائشه رضي الله عنها وایي: قریشو به د جاهلیت په زمانه کې د عاشوراء په ورځ روژه نیوله او رسول الله صلی الله علیه و سلم به هم په دې ورځ روژه نیوله او کله چې ئې مدینې ته هجرت وکړ؛ نو بیا ئې هم دا ورځ روژه نیوله او نورو ته ئې د روژې نیولو امر وکړ؛ خو کله چې د رمضان روژه فرض شوه؛ د عاشوراء د ورځې روژه ئې پرېښوده؛ بیا د هر چا خپله خوښه وه چې په دې ورځ ئې روژه نیوله او که نه.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَرَأَى الْيَهُودَ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» قَالُوا: هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللَّهُ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ فَصَامَهُ مُوسَى، قَالَ: «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ» فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. (بخاری: ۲۰۰٤)

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته راغی؛ یهودان ئې ولیدل چې د عاشوراء په ورځ روژه نیسي؛ وئې فرمایل: ((دا څه دي؟)) یهودانو وویل: دا غوره ورځ ده؛ په دې ورځ الله تعالی بني اسرائیل له خپل دښمن ژغورلي؛ نو له همدې امله موسی علیه السلام په دې ورځ روژه نیوله. وئې فرمایل: ((زه د موسی علیه السلام په متابعت کې تر تاسو زیات وړ او احق یم))؛ بیا ئې (په دغه ورځ) روژه ونیوله او د نیولو امر ئې وکړ.

لکه چې ګورئ په دې دواړو روایاتو کې؛ د عاشوراء د ورځې او په

هغې کې د روژې نیولو په ارتباط ژور تعارض مومو؛ یو ئې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم مدینې ته له تګ وروسته او هغه مهال چې یهودان ئې لیدلي په دې ورځ ئې روژه نیولې؛ پوښتنه ئې ترې کړې چې دا ولې؛ د دوی له ځواب پوه شوی چې دا د عاشوراء ورځ ده او موسی علیه السلام په کې بریالی شوی او له همدې امله ئې روژه نیولې؛ نو ده هم د روژې نیولو پرېکړه کړې او نورو ته ئې هم د روژې نیولو امر کړی؛ خو بل روایت وایي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم حتی په مکه کې هم دا روژه نیوله او په مدینه کې هم؛ په بخاري کې به د دې دواړو روایاتو خلاف دا هم وګورئ چې وایي: یهودان ئې داسې لیدلي چې دا ورځ د عید په توګه لمانځي او خوشحالي کوي؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم له نورو پوښتلي: دا د څه عید دئ؛ کله چې پوه شو نو وئې ویل: موږ به له یهودانو سره د عدم مشابهت لپاره په دې ورځ روژه نیسو؛ او بیا په بل کې ویل شوي: د دې ورځې تر راسېدو وړاندې؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم رحلت وکړ!!!

څوک شته چې دا څرګند او ژور تعارض توجیه او تلفیق کړي؟!؛ ما داسې شارح نه دئ موندلی چې په توجیه ئې توانېدلی وي. له همدې کبله مې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه رأیه غوره ګڼلې چې په دې ورځ به ئې روژه نه نیوله.

په ځینو ناپوه متعصبینو دا خبره ښه نه لګېږي؛ په ناپېړیتو سر شي؛ داسې بده دفاع کوي چې د مخالفینو تر بد اعتراض هم ډېره بده وي؛ د ځینو دفاع فقط دا وي: صحیح البخاري د الله تعالی تر کتاب وروسته اصح کتاب دئ او ټول امت پرې اجماع کړې!!؛ دا په داسې حال کې چې محققین د قرآن او سنت په رڼا کې وایي: یوازې د الله کتاب کامل او له عیب منزه دئ؛ هر انسان خطأ کار دئ؛ په شخصي آراء او افکارو کې ئې هم او په لیکنو کې ئې هم خطأ او اشتباه د ده د فطرت جزء ده؛ ځیني فیسبوکي ښاغلي وایي: مسلم، ابو داؤد، نسائي، ترمذي، ابن ماجه، نووي، ابن منده... ویلي چې بخاري د الله تعالی له کتاب وروسته تر ټولو اصح

کتاب دئ!! راشئ وګورو چي دا ادعاء څومره سمه ده او حقيقت لري که نه؟ آيا دغو شخصيتونو د بخاري په اړه دا خبره کړې که نه:

د دې فيسبوکي ښاغلي د غلطي ادعاء خلاف؛ امام نووي د صحيح مسلم د شرحي په مقدمه کي ليکي: (ما تحت أديم السماء كتاب أصح من كتاب مسلم): تر آسمان لاندي هيڅ کتاب د مسلم تر کتاب زيات صحيح نه دئ؛ إبن منده او أبو علي النيشاپوري؛ همدا خبره کړې. شوکاني د سنن الترمذي په ستايني کي ليکي: د ترمذي کتاب تر ټولو نورو کتابونو غوره، تر ټولو زيات مفيد؛ تر ټولو په ښه او مضبوط ترتيب کي، او تر ټولو لږ تکراري رواياتو کتاب دئ؛ په ترمذي کي هغه څه شته چي په نورو مذاهبو او استدلالي وجوهاتو کي نشته: يقول الشوكاني مثنيًا على سنن الترمذي: كتاب الترمذي أحسن الكتب وأكثرها فائدة، وأحكمها ترتيبًا، وأقلها تكرارًا، وفيه ما ليس في غيره من المذاهب ووجوه الاستدلال.

امام مسلم تر نورو ټولو محدثينو امام بخاري ته نژدې او حتی څه موده د هغه شاګرد پاته شوی؛ خو په بخاري ئې اکتفاء ونه کړه او بېل کتاب ئې وليکلو؛ که ئې بخاري د اصح کتاب په توګه منلی وی نو هيڅکله به ئې صحيح مسلم نه وو ليکلی؛ انسان هغه مهال د يوې موضوع په اړه نوې ليکنه کوي چي مخکينۍ ليکنه کافي ونه ګڼي؛ امام مسلم يوازي په ۱۵۱۹ رواياتو کي له امام بخاري سره موافق دئ؛ چي محققينو د متفق عليه په نامه ياد کړي؛ يعني امام مسلم د بخاري له پاته ۶۰۰۰ مکرر او غير مکرر رواياتو سره ئې توافق نه لري؛ يا د إسنادو له پلوه، يا د الفاظو له پلوه او يا د محتوی له پلوه ورسره موافق نه دئ؛ ځيني روايات په صحيح بخاري کي مومو خو په صحيح مسلم کي نه؛ او ځيني د دې عکس؛ د هغو رواياتو شمېر چي بخاري راوړي خو مسلم نه دي راوړي ۴۱۴ دي او د مسلم دا ډول روايات ۵۷۴. ټول هغه محدثين چي له امام بخاري وروسته ئې د احاديثو کتابونه ليکلي؛ د مُسْنَد، سُنَن، جامع، مُصَنَّف او په نورو نومونو؛ صحيح بخاري ئې کافي نه دئ موندلی او په ځينو رواياتو کي ورسره موافق نه وو؛ عدم توافق ئې هم تر امام

مسلم ډېر زیات؛ له همدې امله هر محدث د بېل کتاب لیکلو پرېکړه کړې؛ له صحیح بخاري سره د دوی د کتابونو د عدم توافق کچه؛ تر صحیح مسلم ډېره لوړه ده.

باید دې ته متوجه وو چې دا د (صحیح) نوم؛ دغو محدثینو خپل کتاب ته په خپله نه دئ غوره کړی؛ وروستنیو په دې نامه ستایلي او یوازي په شپږو کې نه دي خلاصه شوي؛ د صحیح ابن حبان، صحیح إبن خزیمه په شمول نور هم په دې نامه یاد شوي؛ دا ټولي نومَوَني او توصیفونه د منفردو اشخاصو له لوري شوي؛ نه د کومي ثابتي او منل شوې مجمع او هیئت له لوري؛ هر چا د خپلي خوښي، سلیقې، فهم او مذهب له مخي یوه ته پر بل ترجیح ورکړې؛ له قرآن پرته د بل کتاب د بشپړ صحت په اړه د امت اجماع؛ هسي تبلیغاتي او د امت د عملي وضعیت خلاف ادعاء ده؛ د امت عملي وضعیت داسي دئ چي نژدې اویا سلنه ئې احناف دي؛ چي په ډېرو مواردو کې له امام بخاري سره موافق نه دي؛ که د نورو مذاهبو پلویان هم ورسره یو ځای کړو نو په یقین سره ویلی شو چي د ټول اسلامي امت نژدې ۹۶٪ د صحیح بخاري له ډېرو روایاتو؛ مخصوصاً د لمانځه اړوند روایاتو سره موافق نه دي؛ د لمانځه د څرنګوالي په اړه دا ۹۶٪ سلنه؛ په جهري لمونځونو کې په امام پسې قرائت (قرائت خلف امام)، د رکوع تکبیراتو کې لاسونه لوړول (رفع الیدین)، په قیام کې لاس پر سینه او پښې ډېري لري ایښودل، له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته، ... دې ټولو کې په هغو روایاتو عمل کوي چي په بخاري کې نه دي راوړل شوي.

دغو جنابانو ته وایو: له غلو او مبالغو ډډه وکړئ؛ هم د خپل محبوب په اړه او هم د معتوب په اړه؛ په پټو سترګو نښي مه ولئ او تیري مه شړئ؛ راشئ د دې لپاره ملا وتړو چي د حدیث په اړه واقعي اجماع رامنځته کړو؛ اجماع یعني دا چي په دغه مجلس کې ټول په یوې قضیې کې د توافق لاسونه اوچت کړي او هیڅوك مخالفت ونه کړي؛ خو که دوه درې مخالف وي؛ دې ته شبه اجماع وایي؛ موږ داسي اجماع

رامنځته کول غواړو چې د حديث موجود ٤٣٥ کتابونه په يوه جامع، صحيح او ټول امت ته مقبول کتاب کې راغونډ شي؛ چې په هغه کې به ضعيف، غريب، له قرآن سره متصادم او متعارض، د علم او عقل خلاف هيڅ روايت نه وي؛ او له تکراري رواياتو به هم منزه وي.

## آيا د عاشوراء لمانځل او په دې ورځ روژه نيول جائز دي؟

د عاشوراء اړوند روايات د اسنادو او متن له پلوه دومره ضعيف او متعارض او يو د بل خلاف دي چې له منځه ئې صحيح او ثقه موندل محال دي؛ د دغو متعارضو رواياتو تر منځ ځيني تعارضات او توپيرونه دا دي:

ځيني ئې وايي چې د عاشوراء روژه قريشو هم نيوله او رسول الله صلى الله عليه و سلم هم له همغه مهاله نيوله او ګواکې قريشو به په دغي ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړاوو!! ځيني ئې د دې خلاف وايي کله چې رسول الله صلى الله عليه و سلم مدينې ته راغی يهودان ئې وليدل چې په دې ورځ روژه نيسي وئې پوښتل چې ولې په دې ورځ روژه نيسئ؟ هغوی وويل: دا يوه ستره ورځ ده، فرعون په کې غرق شوی او موسى عليه السلام ته بری ورپه برخه شوی، موږ د دغي ورځې د درناوي لپاره روژه نيسو، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل چې موږ تر يهودانو زيات د دې وړ يو چې د دې ورځې درناوی وکړو، نو په خپله ئې هم د روژې نيول پيل کړل او نورو ته ئې هم امر وکړ، ځيني ئې وايي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم تر رحلت لږ وړاندې د دې روژې نيول پيل کړل، چا ورته وويل: دا خو له يهودانو سره شباهت راځي، رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د شباهت ختمولو لپاره به راتلونکی کال يوه ورځ مخکې هم روژه نيسم، خو هغه د دغي ورځې تر بيا رارسېدو وړاندې رحلت وکړ!! ځيني ئې وايي: يهودانو به دغه ورځ د عيد او خوشحالۍ د ورځې په توګه لمانځله، رسول الله صلى الله عليه و

سلم له يهودو سره د مخالفت په موخه وفرمايل: چي تاسو په دې ورځ روژه ونيسئ!! ځيني ئې وايي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د عاشوراء د ورځي سحر مهال اعلان وکړ او کليو ته ئې ځوك ولېږو چي خلك خبر کړي او ورته ووايي: چا چي څه نه وي خوړلي روژې ته دي دوام ورکړي او چا چي څه خوړلي وي تر ماښامه دي څه نه خوري!! ځيني ئې وايي چي د روژې تر فرضېدو پوري دا روژه نيول کېده خو د روژې له فرضېدو وروسته پرېښودل شوه او ځيني ئې د دې خبري تر څنگ دا هم علاوه کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د هر چا خپله خوښه چي په دې ورځ روژه نيسي که نه!! په يوه کي دا هم ويل شوي چي قريشو به په دغي ورځ د روژې تر څنگ د کعبې غلاف هم بدلولو!!

د دغو متعارضو رواياتو له منځه د يوه انتخاب محال او ناممکن دئ، امام بخاري هم نه دي ويلي چي په دغو متعارضو او متضادو رواياتو کي کوم يو ئې د متن، محتوى او اسنادو له پلوه صحيح او تر نورو غوره دئ؛ او په کوم دليل، د بخاري هيڅ شارح هم نه ويلي او نه ويلی شي چي کوم روايت تر نورو غوره دئ!! دا د يوه اصل په توگه په پام کي ولرئ چي کله د يوې موضوع په اړه متعارض روايات مومو داسي چي تر منځ ئې نه تلفيق ممکن وي او نه داسي دليل موندلی شو چي يوه ته پر بل ترجيح ورکړو، په قرآن کي کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو رواياتو کي هم د ترجيح وجه پيدا نه کړو نو په کار دا ده چي ټول يوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووايو او نه کوم يو د خپلي سليقې له مخي غوره کړو. په قرآن کي نه د عاشوراء يادونه شوې او نه په دې ورځ د روژې نيول.

راشئ وگورو چي په رواياتو کي د عاشوراء په ارتباط څه راغلي. په دې اړه د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي

الجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ المَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ» بخاری

له عائشې (رضي الله عنها) روایت دئ چي وايي: قریشو به د جاهلیت په زمانه کي د عاشوراء په ورځ روژه نیوله او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به هم په دې ورځ روژه نیوله او کله چي ئې مدینې ته هجرت وکړ نو بیا ئې هم دا ورځ روژه نیوله او نورو ته ئې د روژې نیولو امر وکړ خو کله چي د رمضان روژه فرض شوه نو د عاشوراء د ورځي روژه پرېښودل شوه، بیا د هر چا خپله خوښه وه چي په دې ورځ ئې روژه نیوله او که نه.

دا روایت په بخاري کي شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۹۲، ۱۸۹۳، ۲۰۰۱، ۲۰۰۲، ۳۸۳۱، ٤۵۰۲، د دغو روایاتو تر منځ جدي او ژور توپیرونه او تعارضات تر سترګو کېږي، دومره چي یو په هغه صورت کي ترې غوره کولی شي چي نور ټول رد کړي، په ځینو کي ویل شوي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ په بل کي كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، په بل کي صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ، په بل کي أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ په بل کي كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَمَرَ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ. په بل کي كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ. په بل کي كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ، فَلَمَّا

قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لاَ يَصُومُهُ په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ » په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ » په بل کې قَدِمَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، فَرَأَى الْيَهُودَ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ « مَا هَذَا ». قَالُوا هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللهُ بَنِى إِسْرَائِيلَ مِنْ عَدُوِّهِمْ، فَصَامَهُ مُوسَى. قَالَ «فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل کې قَالَ كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » په بل کې لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَهُمْ يَصُومُونَ يَوْمًا، يَعْنِى عَاشُورَاءَ، فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، وَهْوَ يَوْمٌ نَجَّى اللهُ فِيهِ مُوسَى، وَأَغْرَقَ آلَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوسَى شُكْرًا لِلَّهِ. فَقَالَ « أَنَا أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ ». فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. په بل کې أَنَّ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِى فِى النَّاسِ، يَوْمَ عَاشُورَاءَ « أَنْ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلاَ يَأْكُلْ په بل کې أَرْسَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ « مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ ». قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ، حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ. په بل کې قَالَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ عَاشُورَاءَ « إِنْ شَاءَ صَامَ » په بل کې أَمَرَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ أَنْ أَذِّنْ فِى النَّاسِ « أَنَّ مَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيَصُمْ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ، فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ » په بل کې أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ « أَذِّنْ فِى قَوْمِكَ أَوْ فِى النَّاسِ يَوْمَ عَاشُورَاءَ أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ » په ځينو کې ويل شوي: مَا رَأَيْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه وسلم يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، إِلاَّ هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ. يَعْنِى شَهْرَ رَمَضَانَ !! په ځينو کې قَالَ دَخَلَ النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَإِذَا أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ يُعَظِّمُونَ عَاشُورَاءَ وَيَصُومُونَهُ فَقَالَ النَّبِىُّ

صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَحَقُّ بِصَوْمِهِ ». فَأَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى أَظْفَرَ اللهُ فِيهِ مُوسَى وَبَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى فِرْعَوْنَ، وَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ ». ثُمَّ أَمَرَ بِصَوْمِهِ. په بل کې قَدِمَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا ». په بل کې لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ، وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ، فَسَأَلَهُمْ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ » په بل کې قَالَ صَامَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ. فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ. وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لاَ يَصُومُهُ، إِلاَّ أَنْ يُوَافِقَ صَوْمَهُ. په بل کې د دې خلاف ويل شوي: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيدًا، قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » يعني يهودانو دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله صلى الله عليه و سلم له هغوی سره د مخالفت ښودلو په توګه وويل چي تاسو روژه ونيسئ؛ او دا د ټولو نورو رواياتو خلاف دئ.

په يوه روايت کې دا هم ويل شوي: وَكَانَ عَبْدُ اللهِ لاَ يَصُومُهُ، إِلاَّ أَنْ يُوَافِقَ صَوْمَهُ: عبد الله بن مسعود داسي وو چي په دې ورځ به ئې روژه نه نيوله؛ مګر دا چي د ده له عادي نفلي روژو سره به برابره شوه؛ په دې اړه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دريځ او منهج بايد تر نورو غوره او دلائل ئې مضبوط وګڼو؛ دا ځکه چي هغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم هغه زوړ يار او ملګری وو چي هم په مکه کې ورسره وو او هم په مدينه کې؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم د مکې له حالت هم ښه خبر وو او د مديني له حالت او وضعيت هم؛ نور مهم راويان؛ عبد الله بن عباس، ابن عمر، ابو هريره او انس رضي الله عنهم؛ يا د مديني په وروستيو کلونو کې بلوغ ته رسېدلي او يا ئې همدا مهال

ايمان راوړی؛ ولې به د عبد الله بن مسعود روايت او منهج نه منو؟

موږ په الله تعالی، رسول او قرآن ئې ايمان لرو؛ له قرآن او لارښوونو ئې پوه شوي يو چې د دې ستر او عظيم کتاب حامل حتماً د الله تعالی رسول دئ؛ څه چې له هغه موږ ته په امانت سره رارسېدلي؛ د ثقه او معتبرو راويانو په لاس او پر صحت ئې د قرآن لارښوونې شهادت ورکوي؛ له ځنډ او تعلل پرته ئې منو او عمل پرې کوو؛ خپل شخصي افکار، آراء، سليقه او مزاج پر دېوال وهو او لرې ئې غورځوو. د صحت لپاره ئې دا کافي ګڼو چې په قرآن کې ورته شاهد ومومو يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري؛ حتی که راوي ئې ضعيف هم وي؛ متن ته ئې په پام سره هغه منو؛ د قرآن په احترام ئې منو؛ د قرآن مطابق خبره چې د هر چا له لوري وي؛ په منلو کې ئې ځنډ نه کوو. هيڅکله به رسول الله صلی الله عليه و سلم ته متعارضې ويناوې منسوب نه کړو او له هيچا به ئې ونه منو؛ نه په قرآن کې متعارض آيتونه شته او نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم په ويناوو کې؛ هغه د الله تعالی رسول دئ؛ شأن ئې تر دې ډېر لوړ چې په ويناوو او لارښوونو کې ئې تعارض وي؛ د يوه روايت د ضعف لپاره دا کافي ده چې مطالب ئې متعارض او يو د بل خلاف وي.

دغو دلائلو ته په پام سره زه دې نتيجې ته رسېدلی يم چې په دې ورځ نه په خپله روژه نيسم او نه بل ته د روژې نيولو مشوره ورکوم، دا راته غوره برېښي چې نفلي روژې يوازې په دې توګه وي: د عرفې ورځ خو نه د حج په دوران کې، د شوال شپږ ورځې، ايام بيض (د هري مياشتې ديارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه)، هره دوشنبه او پنجشنبه او يوه ورځ تر منځ. خو دې ته مو پام وي چې د دې ورځو هره روژه په ثواب کې يوه مسکين ته د يوې ورځې خوراك ورکولو حد ته نه رسېږي، د هغو واعظانو له مبالغو ډکو ويناوو ته ارزښت مه ورکوئ چې داسې روژې د جنت کيلي ګڼي او له ټولو مخکينيو او وروستنيو ګناهونو د پاکېدو وسيله!! او مقام ئې دومره لوړ ښيي چې نه په جهاد سره تر لاسه کېدی شي، نه په شهادت سره او نه په زکات او نورو فرائضو سره.

په دې ورځ خیراتونه مه کوئ، دا ځکه چې نه رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې خیراتونه کړي او نه صحابه وو، داسې روایت نه مومو چې کوم صحابي دې د مړو لپاره خیرات کړی وي، په دې ورځ د ماتم غونډو او جلسو ته مه ورځئ، که ورځئ نو باید خپل شرعي مسئولیت اداء کړئ او د ټولو هغو شرکي ویناوو او حرکاتو په اړه خلکو ته حق وینا وکړئ چې هلته ئې اورئ او ګورئ، لکه یا علي مدد، یا حسین، ځانونه په زنځیرونو وهل، ماتم کول، مذهبي رقصونه او نور خرافات او د دین، مذهب او عقل ضد حرکات. که داسې ونه کړئ نو له دوی سره به په ګناه کې شریك وئ. د داسې جلسو په ضد له مسلحانه اقداماتو ډډه وکړئ ځکه نه رسول الله صلی الله علیه و سلم د کومې مذهبي ډلې په خلاف داسې کار کړی او نه صحابه وو، هغه واکمنان له اسلام او اسلامي امت سره ستر ظلم کوي چې دغسې جلسو او جلوسونو ته اجازه ورکوي او تسهیلات ورته برابروي، هغه حکام دا کار کوي چې پردي پال دي او دنده ئې په اسلامي امت کې د اختلافاتو اور ته لمن وهل دي، مګر نه ګورئ چې په افغانستان او عراق کې دغو غونډو او مظاهرو هغه مهال زور واخیست چې صلیبي ځواکونو اشغال کړل، همدا ځواکونه هغه هڅوي او تسهیلات ورته برابروي چې په دې ورځ کوڅو ته راووځي او د دین او عقل ضد حرکاتو مظاهره وکړي او داسې څه ووایي چې مذهبي اختلافات پاروي.

دا هم باید په پام کې ولرو چې عاشوراء د یهودانو له نظره سپېڅلې ورځ ده؛ دوی داسې انګېري چې (عاشوراء) د کال د لومړۍ میاشتې لسمه هغه ستره ورځ ده چې موسی علیه السلام او بني اسرائیل د فرعون له سلطې ژغورل شوي او فرعون غرق شوی؛ د همدې لپاره ئې سپېڅلې ګڼې او لمانځی ئې. په بایبل کې د فصح عید په نامه یو باب دئ چې همدې ورځې ته ځانګړی شوی؛ او په اړه ئې تر عنوان لاندې داسې کاږي:

"د فصح عيد"

"خدای موسی او هارون ته وويل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا مياشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه مياشت وي... هر کال به د دې مياشتي په لسمه هره کورنۍ يو وری تياروي، که د کورنۍ شمېر کم وي؛ نو په خپل گاونډ کي دي له بلي وړې کورنۍ سره گډ شي، دا وری يا سېرلی به نر، بې عيبه او يو کلن وي، د همدې مياشتي د څوارلسمي په مازديگر دي ټول اسرائيليان دا وري قرباني کړي او د هغویويني دي د دروازو د ولاړو تيرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشيندي چي د وري غوښه په کي خوړل کېږي... په همدې شپه دي دا غوښه وريته کړي او له پتيري ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کي پخه شوې نه خوري، بلکي ټوله به د سر، پښو، زړه او يني په شمول وريته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاته شوه هغه به سوزوي (د دې لپاره چي غير يهودي ته ئې تر پاته کېدو سوزول غوره دي)، د وري له خوړلو مخکي به خپلي څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کي نيسئ او د سفر لپاره به تيارېږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه يادېږي، دا ځکه چي زه خدای يم او نن شپه به د مصر له سيمي تېرېږم او د مصريانو ټول مشران زامن او د دوی د څارويو لومړي پيدا شوي بچيان به وژنم او د دوی خدايانو ته به سزا ورکوم، کومي ويني چي تاسو د دروازو پر تيرانو شيندلې دا به د دې نښه وي چي دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او يوازي مصريان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځي په ياد جشن نيسئ، په دې جشن کي چي اوه ورځي به وي يوازي پتيره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خميره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کي د خميره شوو اوړو ډوډۍ وخوري له اسرائيليانو به شړل کېږي، په لومړۍ او اومه ورځ به ټول په گډه د خدای عبادت کوئ، په دغو اوه ورځو کي به د خوراك له برابرولو پرته بل هيڅ کار نه کوئ!! بايبل دلته دا خبره درې ځلي تکراروي چي په دغو اوه ورځو کي به يوازي پتيره ډوډۍ

خورئ، په کور کې به خمیره نه ساتئ، چا چې خمیره ډوډۍ وخوړله له اسرائیلیانو به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چې په دغې ورځې ما له مصر وژغورلئ!!! "

ګورئ چې هم د بایبل له وینا په څرګنده معلومېږي چې عاشوراء د یهودانو مذهبي ورځ ده او هم له هغو روایاتو چې وایي: مدینې ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم له هجرت وروسته او کله چې ئې یهودان ولیدل دا ورځ لمانځي نو وئې فرمایل: موږ به دا ورځ په روژې سره لمانځو. خو یهودان هم دا ورځ په مسخره او له خرافاتو ډکو حرکاتو او ویناوو سره لمانځي او له مسلمانانو هم ځیني د هغوی په څېر دا ورځ په ورته ویناوو او حرکاتو سره لمانځي. نه د بایبل وینا د تورات وینا ده او نه دا روایات د رسول الله صلی الله علیه و سلم لارښوونه او سپارښتنه؛ که دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت وی نو عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به هیڅکله د دې ورځې د روژې له نیولو ډډه نه کوله.

## د تراویح لمونځ

### ۱ باب: په روژه کي د شپې لمونځ کوونکي فضیلت

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ، وَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلاتِهِ، تقدم هذا الحديث فى كتاب الصلاة وبینهما مخالفة فى اللفظ وقال فى آخر هذه الرواية فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. (بخاری: ۲۰۱۲)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم یو ځل نیمه شپه له کوره ووت، په جومات کي ئې لمونځ وکړ او

څو کسانو هم لمونځ ورپسې وکړ؛ دا حديث د لمانځه په کتاب کي له څه لفظي اختلاف سره تېر شوی او د دې روايت په آخر کي راغلي چي: رسول الله صلی الله علیه و سلم رحلت وکړ او دا مسئله په همدې شکل پاته وه.

دا روايت په بخاري کي همدا يو ځل راغلی، له بخاري پرته يوازي د بيهقي السنن الکبرى کي راغلی او په نورو معروفو کتابونو کي نه دئ راوړل شوی.

د تراويح په اړه د (سلفي شم که مذهبي پاته شم؟) کتاب کي تر دې عنوان لاندي (تراويح اته رکعته دي که شل؟) تفصيلي بحث شوی؛ ټول اړوند روايات؛ د پورتني روايت په شمول راوړل شوي او څېړل شوي؛ او نتيجه ئې دا چي هم رسول الله صلی الله علیه و سلم شل رکعته کړي، هم صحابه وو او همدا تر موږ پوري؛ په عملي تواتر سره رارسېدلي؛ شل رکعته تراويح په تېرو نژدې ١٤ پېړيو کي په ټولو مسلمانانو او د ټولو مذاهبو پلويانو کي عموميت درلود، د صحابه وو له دور بيا تر نن پوري، شيخ الحديث مولوي حسن جان شهيد به ويل: يو هغه سنت او روايت چي تر موږ پوري په تواتر رارسېدلی؛ همدا شل رکعته تراويح دي؛ خو په وروستيو څو لسيزو کي يوه داسي ډله راپيدا شوه چي وايي: تراويح اته رکعته دي او پيغمبر عليه السلام يوازي اته رکعته کړي!! ادعاء ئې بې بنسټه او هغه روايت ئې ضعيف دئ چي دوی پرې استناد کوي. تفصيلات به ئې تر دې عنوان لاندي ولولئ: تراويح اته رکعته دي که شل رکعته.

عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِرَمَضَانَ: «مَنْ قَامَهُ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» (بخارى: ٢٠٠٨)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: له رسول الله صلی

الله عليه و سلم مي اورېدلي چي د روژې په اړه ئې فرمايل: څوک چي د ايمان په حکم او د ثواب په نيت (د شپې) لمونځ په کي وکړي؛ ټول مخکيني گناهونه ئې بخښل کيږي.

په دې ارتباط دا مطالب په پام کي ولرئ:

- ځيني گناهونه داسي دي چي الله تعالى ئې نه بخښي او د بخښلو حق او واك ئې نورو ته سپارلى؛ لکه د بل حق خوړل، په عزت او سر مال ئې تېرى کول، د بل غيبت، تور او اتهام پرې لگول، له هغه سره په زړه کي کينه او حسد ساتل او له مخي ئې يا تبليغات پسي کول او يا ضرر وررسول.... الله تعالى دا گناهونه تر هغه نه بخښي چي مظلوم او متضرر بنده ئې وبخښي.
- دا روايت په سنن نسائي کي په دې صيغه مومو: (فَمن صَامَهُ وقامه إِيمَانًا واحتسابا خرج من ذنُوبه كَيَوْم وَلدته أمه): څوك چي د روژې مياشت کي (د ورځي) روژه ونيسي او (د شپې ئې) لمونځ وکړي؛ د إيمان په حکم او د اجر په موخه؛ له خپلو گناهونو به داسي ووځي لکه هغه ورځ چي خپلي مور زېږولى.

دا روايت په دغو مهمو کتابونو کي هم راوړل شوى: شُعَبُ الْإِيمَانِ للبيهقي، سنن إبن ماجه، صحيح إبن خزيمه، مسند ابي يعلى، مسند احمد، سنن ابي داؤد؛ د بخاري له روايت سره ئې توپير دا دئ چي په دې کي د روژې تر څنگ د لمانځه يادونه هم شوې او په بخاري کي يوازي د لمانځه.

## ۲ باب: د رمضان په وروستيو اوو شپو کي د ليلة القدر لټول

عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رِجَالاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا

فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ». (بخاري: ۲۰۱۵)

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم له اصحابو؛ ځو کسانو ته د رمضان په وروستيو اوو شپو کي ليلة القدر په خوب کي وښودل شوه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ((فکر کوم ستاسو خوبونه (د رمضان) له وروستيو اوو شپو سره مطابقت لري؛ نو که څوک د قدر شپې په لټه کي وي؛ په وروستيو اوو شپو کي دې ولټوي)).

له دې روايت داسي معلومېږي چي ځينو صحابه وو د قدر شپه په خوب کي ليدلې؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې خپل خوبونه تېر کړي؛ د دوی خوبونه ئې داسي موندلي چي د قدر شپه به د رمضان په وروستيو اوو شپو کي وي؛ نو د همدې خوبونو له مخي ئې هغوی ته دا سپارښتنه کړې.

خو د قرآن دا آيت بايد په پام کي ولرو چي د قدر د شپې په اړه ئې فرمايلي: (إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ): موږ (دا قرآن) د قدر په شپه نازل کړ؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته به حتماً هغه شپه په ياد وه چي د حراء سمڅي کي لومړي آيتونه پرې نازل شول؛ خو وروسته دقيقه نېټه ترې هېره شوې او وئې فرمايل: د رمضان وروستۍ لسيزي په طاق شپو کي ئې ولټوئ.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: اعْتَكَفْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَشْرَ الأَوْسَطَ مِنْ رَمَضَانَ فَخَرَجَ صَبِيحَةَ عِشْرِينَ فَخَطَبَنَا وَقَالَ: «إِنِّي أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا أَوْ نُسِّيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ فِي الْوَتْرِ، وَإِنِّي رَأَيْتُ أَنِّي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ فَمَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْيَرْجِعْ». فَرَجَعْنَا وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ قَزَعَةً فَجَاءَتْ سَحَابَةٌ فَمَطَرَتْ حَتَّى سَالَ سَقْفُ الْمَسْجِدِ وَكَانَ مِنْ جَرِيدِ النَّخْلِ وَأُقِيمَتِ الصَّلاةُ فَرَأَيْتُ رَسُولَ

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ حَتَّى رَأَيْتُ أَثَرَ الطِّينِ فِي جَبْهَتِهِ. (بخاری: ۲۰۱۶)

له ابو سعيد رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: د رمضان په منځنۍ لسيزه کي مو له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره اعتکاف وکړ، د روژې په شلم سهار رسول الله صلی الله عليه و سلم راووت؛ موږ ته ئې خطبه وويله او وئې فرمايل: ((ما ته په خوب کي ليلة القدر راوښودل شوه؛ بيا رانه هېره کړی شوه؛ يا مي هېره شوه، نو هغه د وروستيو لسو په طاق شپو کي ولټوئ؛ او په خوب کي مي وليدل چي زه په اوبو او خټو کي سجده کوم؛ نو چا چي له رسول الله (صلی الله عليه و سلم) سره اعتکاف پيل کړی؛ هغوی دي بېرته راستانه شي)). موږ خپلو ځايونو ته ستانه شوو؛ په آسمان کي مو هيڅ وربځ نه ليدله؛ ناڅاپه وربځ راغله او دومره ووربېده چي د جومات له چت اوبه وڅڅيدې؛ چت د خرما له څانګو او پاڼو جوړ شوی وو؛ بيا لمونځ ودرېد او ومې ليدل چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په اوبو او خټو کي سجده کوي؛ دومره چي د خټو اثر مي د هغه پر تندي (ټنډه) وليد.

د دې روايت په اړه څو مطالب توجه غواړي:

معمولاً به رسول الله صلی الله عليه و سلم د رمضان په درېيمي لسيزي کي اعتکاف کولو او صحابه وو ته به ئې ويل چي د قدر شپه د درېيمي لسيزي په طاق شپو کي ولټوئ. خو دا روايت وايي چي اعتکاف ئې په منځنۍ لسيزي کي وو. عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم به د رمضان په درېيمي لسيزي کي اعتکاف کولو؛ تر هغه چي الله تعالی وفات کړ او مېرمنو ئې له ده وروسته همداسي اعتکاف کولو.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَعْتَكِفُ العَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ

اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ» (بخاری: ۲۰۲۶)

دا روايت په صحاح سته کې يوازي په صحيح بخاري کې او همدا يو ځل راغلی؛ يعني چي امام مسلم، نسائي، ابو داؤد، ترمذي او ابن ماجه د اعتبار وړ نه دئ ګڼلی او په خپلو کتابونو کې ئې له راوړلو ډډه کړې!! خو پر بخاري علاوه په دغو کتابونو کې هم راوړل شوی: مسند ابو يعلی، سنن الکبری للنسائي، مسند ابي عوانه، صحيح ابن حبان؛ په دريو طبقو کې يو يو راوي لري چي دا دي: يَحْيَى، أَبو سَلَمَةَ او أَبو سَعِيد؛ په څلورمه طبقه کې دا دي: هِشَام او أَوْزَاعِي.

دا چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خوب کې د قدر شپه ليدلې او تر څنګ ئې د باران ورېدا؛ او بيا په همغه شپه ئې د باران ورېدا عملاً ليدلې؛ داسي مه انګېرئ چي ګواکې دا به د قدر د شپې نښه وي؛ بلکې دا رسول الله صلی الله عليه و سلم ته يوه نښه وه چي خوب ئې رښتينی دئ.

دا هم بايد په پام کې ولرو چي د اعتکاف يادونه د قرآن په هغې برخې کې شوې چي د روژې اړوند بحث پای ته نژدې شوی؛ ښايي رسول الله صلی الله عليه و سلم همدې ته په پام سره؛ د روژې مياشتې په وروستۍ لسيزې کې اعتکاف کولو.

## ۳ باب: په وروستۍ لسيزه کي د ليله القدر لټون

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى فِي سَابِعَةٍ تَبْقَى فِي خَامِسَةٍ تَبْقَى». (بخاری: ۲۰۲۱)

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: ((د قدر شپه د رمضان په وروستۍ لسيزه کي ولټوئ، چي نه ورځي پاته وي(يوويشتمه شپه)، چي اوه پاته وي (دري ويشتمه

شپه)، چې پنځه پاته وي (پنځه ويشتمه شپه)).

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هِيَ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ هِيَ فِي تِسْعٍ يَمْضِينَ أَوْ فِي سَبْعٍ يَبْقَيْنَ يَعْنِي لَيْلَةَ الْقَدْرِ». (بخارى: ۲۰۲۲)

له ابن عباس رضي الله عنهما په بل روايت کي راغلي چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: ((ليله القدر په وروستۍ لسيزه کي ده، چي نه شپې تېرې شي (نه ويشتمه شپه) او يا اوه پاته شي(دري ويشتمه شپه)).

د دې دواړو رواياتو الفاظ داسي دي چي ښيي د درېيمي لسيزي طاق شپې خاص شپې دي؛ خو نور روايات د ټولو طاق شپو يادونه کوي.

## ٤ باب: په وروستۍ لسيزه کي عبادت

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ. (بخارى: ۲۰۲٤)

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: کله چي به دا (د رمضان وروستۍ) لسيزه داخله شوه؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به خپله بډه (ملا) کلکه تړله، خپله شپه به ئې په ويښه او عبادت تېروله او خپل عيال به ئې ويښولو.

دا روايت په صحيح مسلم کې په دې صيغه راغلى:

۲۷۵۷- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا؛ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ، أَحْيَا اللَّيْلَ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ، وَجَدَّ وَشَدَّ الْمِئْزَرَ.

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم داسي وو: کله چي به دا لسيزه داخله شوه؛ شپه به ئې په ويښه او عبادت تېروله، خپل عيال به ئې ويښولو، زيار به ئې ايستلو او بډه

(ملا) به ئې کلکه تړله)).

لکه چې گورئ د دواړو رواياتو لومړی راوي عائشه رضي الله عنها ده؛ خو په لفظي ترکيب کې ئې توپيرونه مومو؛ د مسلم روايت کې مطالب په مناسبه توگه بيان شوي؛ لومړی د شپې احياء، بيا عيال راويښول، بيا زيار ايستل او ملا کلکه تړل راغلي؛ خو د بخاري روايت کې دا مناسب ترتيب نه دئ مراعات شوی.

## اعتکاف

### ۱ باب: اعتکاف په وروستۍ لسيزه کې

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ. (بخارى: ۲۰۲۶)

د رسول الله صلی الله عليه و سلم له مېرمن؛ عائشه رضي الله عنها روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به د رمضان په وروستۍ لسيزې کې اعتکاف کاوو؛ تر هغه چې الله تعالی وفات کړ؛ بيا ئې مېرمنو تر ده وروسته اعتکاف کاوو.

### ۲ باب: اعتکاف کوونکی دي بې ضرورته کور ته نه ځي

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَتْ: وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَيُدْخِلُ عَلَيَّ رَأْسَهُ وَهُوَ فِي المَسْجِدِ، فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لاَ يَدْخُلُ البَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةٍ إِذَا كَانَ مُعْتَكِفًا» (بخارى: ۲۰۲۹)

له عائشه رضي الله عنها روايت دئ چي وايي: که څه هم کله چي به رسول الله صلی الله علیه و سلم په جومات کي معتکف وو؛ خپل سر به ئې (زما خوني ته) را دننه کاوو او ما به وربږمنځولو؛ خو هغه داسي وو چي له ضرورت پرته به کور ته نه ننوتلو.

د عائشې رضي الله عنها خونه له جومات سره جوخته وه او یوه کړکۍ ئې هم د جومات لوري ته وه.

## ۳ باب: په شپې کي اعتکاف

عَنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ؟ قَالَ: «فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ». (بخاری: ۲۰۳۲)

له عمر رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ئې وپوښتل: د جاهليت په زمانه کي مي دا نذر ايښی وو چي يوه شپه به په مسجد حرام کي اعتکاف کوم؟ وئې فرمايل: ((په خپل نذر دي وفا وکړه)).

لکه چي گورئ؛ په دې روايت کې پوښتنه د نذر په اړه ده؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم په ځواب کې ورته ويلي چي خپل نذر اداء کړه؛ خو امام بخاري (په شپې کي اعتکاف) تر باب لاندي راوړی؛ امام مسلم له دې صيغې سره توافق نه دئ کړی او دا روايت ئې تر دې باب لاندي راوړی: باب من نذر في الجاهلية ثم أسلم: چا چي د جاهليت په زمانه کې کوم نذر منلی؛ بيا مسلمان شوی؛ روايت او شماره ئې دا ده:

۴۳۰۴- عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، قَالَ: فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ. مسلم

## ٤ باب: په جومات کې خیمې درول

عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ، فَلَمَّا انْصَرَفَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِى أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ إِذَا أَخْبِيَةٌ: خِبَاءُ عَائِشَةَ وَخِبَاءُ حَفْصَةَ وَخِبَاءُ زَيْنَبَ، فَقَالَ: «أَلْبِرَّ تَقُولُونَ بِهِنَّ»؟ ثُمَّ انْصَرَفَ، فَلَمْ يَعْتَكِفْ حَتَّى اعْتَكَفَ عَشْرًا مِنْ شَوَّالٍ. (بخاری: ۲۰۳٤)

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د اعتکاف اراده وکړه؛ خو کله چې هغه ځای ته ورغی چې غوښتل ئې اعتکاف په کې وکړي؛ خیمې ئې ولیدې: د عائشې خیمه، د حَفْصې خیمه، د زینب خیمه؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ((آیا تاسو د دوی دا کار نېکي گڼئ؟!))؛ نو ستون شو او اعتکاف ئې ونه کړ؛ بیا ئې د دې پر ځای په شوال کې لس ورځې اعتکاف وکړ.

دا روایت یوازې په بخاري او مُوَطَّأ کې راغلی؛ نورو کتابونو نه دئ راوړی؛ البته د بیهقي السنن الکبری کې هم د بخاري په حواله راغلی خو د روایت د إسناد په اړه ئې ویلي: رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي الصَّحِيحِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يُوسُفَ عَنْ مَالِكٍ وَهَذَا مِنْ طَرِيقِ مَالِكٍ مُرْسَلٌ: دا بخاري له عبد الله بن یوسف تر لاسه کړی چې هغه له مالك روایت کړی؛ او د امام مالك له لاري راغلی روایت مرسل دئ؛ مرسل هغه روایت ته وایي چې سند ئې په تابعي یا تبع تابعي پای ته رسېدلی او تر رسول الله صلی الله علیه و سلم پورې نه دئ رسېدلی. روایت په امام مالك پای ته رسېدلی.

## ٥ باب: آیا معتکف د جومات له دروازې وتلی شي؟

عَنِ صَفِيَّةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزُورُهُ فِى اعْتِكَافِهِ فِى الْمَسْجِدِ فِى الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، فَتَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً، ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهَا

يَقْلِبُهَا، حَتَّى إِذَا بَلَغَتْ بَابَ الْمَسْجِدِ عِنْدَ بَابِ أُمِّ سَلَمَةَ، مَرَّ رَجُلاَنِ مِنَ الأَنْصَارِ فَسَلَّمَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَى رِسْلِكُمَا، إِنَّمَا هِيَ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ». فَقَالاَ: سُبْحَانَ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَبُرَ عَلَيْهِمَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ، وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا». (بخارى: ۲۰۳۵)

د رسول الله صلى الله عليه و سلم له مېرمني صَفِيې رضي الله عنها روايت دئ چي هغه په داسي حال کي د رسول الله صلى الله عليه و سلم ليدو ته ورغله چي هغه د رمضان په وروستۍ لسيزه کي په جومات کي معتکف وو؛ څه وخت ئې خبري ورسره وکړې، بيا پاڅېده چي ستنه شي؛ نو نبي صلى الله عليه و سلم هم ورسره پاڅيد چي کور ته ئې ورسوي؛ او کله چي د جومات هغي دروازې ته ورسېدو چي د ام سلمه رضي الله عنها دروازې ته نژدې وه؛ دوه انصاريان تېر شول او پر رسول الله صلى الله عليه و سلم ئې سلام واچاوو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل: ((لږ مو تګ سوکه کړئ؛ دا صَفِيَّة بِنْت حُيَيّ ده)) هغوی وويل: سبحان الله؛ يا رسول الله! پرې ګرانه تمامه شوه؛ (چِّي څنګه به د رسول الله صلى الله عليه و سلم په اړه بد ګماني کوو)؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَبْلُغُ مِنَ الإِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ، وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا». يقيناً چي شيطان د بني آدم دويني په بهير کي درومي او زه ووېرېدم چي داسي نه ستاسو زړونو کي کومه وسوسه واچوي.

## ٦ باب: د رمضان په منځنۍ لسيزه کي اعتكاف

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي

كُلِّ رَمَضَانٍ عَشْرَةَ أَيَّامٍ، فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِى قُبِضَ فِيهِ، اعْتَكَفَ عِشْرِينَ يَوْمًا. (بخارى: ٢٠٤٤)

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم به هر رمضان لس ورځي اعتكاف كاوو؛ خو د رحلت په كال ئې شل ورځي اعتكاف وكړ.

راشئ د اعتكاف موضوع ته د هغو له نظره هم وګورو چي وايي: قرآن له روايت پرته ناقص دئ؛ (نعوذ بالله من ذلك)؛ دا هم وايي: داسي قضايا شته چي احكام ئې په قرآن كي نه مومو خو په احاديثو كي ئې مومو!! دوى ته وايو: ستاسو ادعاء په هغه صورت كي وزن او اعتبار لرلى شي چي: ١- هغه امور وښيئ چي په قرآن كي ئې اړوند لارښووني او احكام نشته او په صحيح رواياتو كي شته؛ ٢- دا ادعاء له هغه چا منل كېدى شي چي په واقعي معنى په قرآن او رموزو ئې او په حديث پوه وي؛ يوې داسي معتبري مرجع د هغه د ښې پوهي تصديق كړى وي چي د ټول امت په كچه معتبره او منلې مرجع وي؛ نه دا چي د كومي دولتي مؤسسې او مدرسې له لوري د دكتورا او شيخ القرآن و الحديث سند وركړى شوى وي.

روايت ځپلو او هغو ته چي د رواياتو غلات دي او غريب روايات به د قرآن د ځرګندو او صريح آيتونو په پرتله درانه تلي؛ وايو: اعتكاف يوه معروفه موضوع ده؛ په بخاري كي يو كتاب له ٦ بابونو سره ورته مختص شوى؛ راشئ وګورو چي آيا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته په دې اړه مستقله وحي شوې او كه د قرآني لارښوونو په رڼا كي ئې په ارزښت او اهميت پوه شوى؛ په خپله ئې پرې عمل كړى او امت ته ئې هم سپارښتنه كړې؟ راشئ وګورو چي قرآن د اعتكاف په اړه څه ويلي؛ دې آيت ته ځير شئ:

... وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ... ﴿١٨٧﴾ البقرة

... او کله چي په جوماتونو کي معتکف وئ؛ نو له خپلو مېرمنو سره نژدېکت (مباشرت) مه کوئ...

له دې الهي لارښووني څو خبري معلومېږي:

- اعتکاف د روژې مياشتي د بحث په ضمن کي ياد شوی او دا ښيي چي په روژې پوري تړلی دئ او وخت ئې فقط همدا د روژې مياشت دئ.
- دا آيت د روژې د اړوند احکامو په پای کي راغلی؛ او په دې کي يوه ظريفه اشاره دا ده چي اعتکاف د روژې مياشتي د پای عمل دئ؛ ښايي همدې ته په پام سره رسول الله صلی الله عليه و سلم د روژې مياشتي په وروستۍ لسيزي کي اعتکاف کولو.
- په آيت کي دا هم ويل شوي: د اعتکاف حالت کي له خپلو مېرمنو سره نژدېکت (مباشرت) مه کوئ.
- اعتکاف د مؤمنانو خپل کار ګڼل شوی؛ يعني د الهي امر يا سپارښتي په صيغه نه دئ ياد شوی؛ بلکي فقط داسي يادونه ئې شوې چي ښيي الله تعالی تأييد کړی؛ نو حکم ئې هم د سنت او مستحب دئ.

له روايت څېلو پوښتنه کوو: آيا د اعتکاف په اړه داسي څه پاته دي چي په رواياتو کي شته او په قرآن کي نشته؟

په پای کي دا هم بايد وويل شي چي ولې به اعتکاف کوو؟ اغېز او اهميت ئې څه دئ؟ په ځواب کي وايو: کله کله ورځني مصروفيتونه انسان داسي مشغول کړي چي په مهمو مسائلو د فکر کولو فرصت او مجال هم ترې سلب شي؛ بس له جرياناتو سره او د خپلو عادتونو په حکم خوځي او شپه سبا کوي؛ نه د خپلو ناسمو عادتونو په اړه د تجديد نظر فرصت تر لاسه کوي او نه د خپلو ناسمو افکارو او باورونو د تصحيح او د نويو او رغنده افکارو او تګلارو د خپلولو او غوراوي مجال مومي؛ د ټولني حاکم او مسلط چاپېريال د ده پر هر څه خپل سيوري غوړولی وي؛ له دې زندان د وتلو لپاره يوه داسي آرام، له لانجو، شور

ځوږ فارغ، له معنوي پلوه رغوونکي مناسب فرصت ته ضرورت لري چي وکولی شي د خپلو باورونو او کړنو په اړه سم فکر وکړي او مناسب تصميمونه ونيسي؛ اعتکاف موږ ته همداسي مجال او فرصت برابروي؛ انسان د تفکر لپاره فراغت او له ازدحام او مصروفيتونو ګوښه کېدو ته ضرورت لري؛ همغسي چي قرآن فرمايي:

قُلْ إِنَّمَا أَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ أَنْ تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَى وَفُرَادَى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِكُمْ مِنْ جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ سبإ

ووايه: يوازي په يوې خبري پند درکوم چي د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو ملګرى په کوم لېونتوب نه دئ اخته شوى، هغه فقط تاسو ته تر يوه سخت عذاب وړاندي خبرداری درکوونکی دئ.

دا دئ ګورئ چي قرآن معاندو مخالفينو ته دا پيغام لري: د الله لپاره دوه دوه او يو يو ودرېږئ بيا له ځان سره فکر وکړئ؛ پوه به شئ چي ستاسو مخالفت هيڅ معقوله وجه نه لري، عدم غور او عدم تفکر د دې سبب شوى چي زما او زما د دعوت مخالفت وکړئ؛ لږ له خپلو ناسمو مشغولتياوو، دود پالنو، تعصباتو او جاهلانه حميت ګوښه شئ او په سړه سينه او شفاف ذهن زما د بلني په اړه غور وکړئ. حتماً به پوه شئ چي ستاسو ملګرى (رسول الله صلى الله عليه و سلم) نه پېرياني شوى او نه په لېونتوب اخته دئ؛ تاسو د کينې او رخې له مخي هغه ته دا نسبتونه کوئ، وجه ئې دا ده چي هغه ستاسو په تګلارو او کړنلارو نيوکې کوي او پايلي ئې خطرناکې ګڼي، تاسو ته د هغه سخت عذاب راتلو خبرداری درکوي چي ستاسو د تګلارو طبيعي سزا او پايله ده.

## تراويح اته ركعته دي که شل؟

دا هم يوه اختلافي قضيه ده چي تراويح به شل ركعته کوو که اته، د احنافو رأيه صحيح او د سنت مطابق ده که د سلفيانو او غير مقلدينو؟

څو مطالب په پام کې ولرئ:

د روژې مياشت يوه مهمه او روزونکې تربيتي دوره ده؛ له قرآن سره ئې خاص تعلق دئ، قرآن په همدي مياشت کي نازل شوی؛ څوک چي غواړي د قرآن حامل شي؛ په قرآن عمل وکړي او قرآن د خپل ژوند او ټولني پر ټولو برخو او اړخونو حاکم کړي؛ هغه داسي يوې مياشتنۍ تربيتي دوري ته ضرورت لري؛ چي په دې کي د خپل هوس، نفس او نس کنټرولولو عملي ممارست، مشق او تمرين وکړي؛ خپله اراده مزيد مضبوطه او تقويه کړي، بريکونه ئې مضبوط شي، لکه څنګه چي موټر مضبوط بريک ته ضرورت لري؛ انسان هم دغسي بريکونو ته ضرورت لري؛ کله چي ئې هوس يا شيطان د ګناه لوري ته وهڅوي؛ نو بايد داسي قوي بريکونه ولري چي ځان پرې راتم او اداره کړی شي؛ که ئې بريکونه سولېدلي، کمزوري او ضعيف وي نو بيا ځان نه شي اداره کولی؛ روژه د يو مؤمن اراده قوي او مضبوطوي، د خپل هوس اداره کولو ځواك ورپه برخه کوي؛ پوره يوه مياشت له ډېرو حلالو شيانو ډډه کوي، هره شېبه چي ئې کوم څه ته زړه وشي؛ روژه ورپه ياد شي او ترې ډډه وکړي؛ دا د يوې مياشتي تمرين او ممارست د دې باعث شي چي اراده ئې مضبوطه او ځواکمنه شي؛ د قرآن حامل او عامل دغه د ځان اداره کولو صفت ته ضرورت لري؛ داسي چي د لوږي او تندي په وړاندي هم مقاومت وکړی شي، د هوس او نفس غوښتنو په وړاندي هم؛ هغه د الله د لاري مجاهد دئ؛ په سنګرونو کي به پاته کېږي، د شر او فساد ځواکونو مقابله به

کوي؛ د باطل خلاف به جهاد کوي؛ دا جهاد له ده مضبوطه اراده غواړي، صبر، ثبات او استقامت غواړي، که لوږه او تنده پرې راشي صبر وکړی شي، که په میاشتو میاشتو له خپل کور او کورنۍ لري وي؛ صبر وکړی شي؛ لکه څنګه چي یو کوماندو همدغسي روزني ته ضرورت لري؛ د الله تعالی د لاري مؤمن مجاهد چي په قرآن باور لري او غواړي چي قرآن د ده پر ژوند او ټولني حاکم وي؛ دا مجاهد همدغسي روزني ته اړتیا لري، روژه د مؤمن او مجاهد انسان په روزلو کي ژوره او پراخه ونډه لري. د روژې میاشتي تراویح لمونځ که څه هم سنت دئ؛ خو له معنوي پلوه ئې ارزښت او اهمیت دومره دئ چي کولی شو ووایو؛ د دې تربیتي دورې یو مهم جزء دئ. د همدې تراویح لپاره هره شپه دومره زیات لمونځ کوونکي په جوماتونو کي راغونډېږي چي د کال په نورو میاشتو کي د دوی له راغونډېو سره نشي مقایسه کېدی؛ د دې لمانځه مهمه برخه په ټولي روژې کي د ټول قرآن تلاوت دئ؛ اصولاً داسي چي امام به هره شپه د قرآن یو جزء تلاوت کوي او لمونځ کوونکي به ئې غور او دقت سره اوري؛ البته اغېز ئې په هغه صورت کي ډېر پراخ او ژور دئ چي لمونځ کوونکي د قرآن په معنی پوه شي؛ قرآن د لمانځه په حالت کي او له داسي چا اورېدل چي په قرآن پوه وي؛ هم ئې په تأني او اغېزمن غږ سره وايي او هم تقوی لري او د اجورې په مقابل کي نه؛ بلکي د یوه هدفمن داعي په توګه امامت کوي؛ د دې لمانځه اغېز څو برابره زیاتوي.

باید متوجه وو چي د لمانځه په امامت، د قرآن په تلاوت او د أذان په بدل کي معاوضه او اجوره اخیستل جواز نه لري. داسي کېدی شي چي مؤذن د جومات خدماتي کارونه ترسره کوي او په مقابل کي ئې معاش ولري او أذان ئې له معاوضې پرته وي؛ همدا راز امام د نورو لمونځ کوونکو په څېر د معاش خپل پتمن مدرك ولري؛ خو امامت ئې له مالي معاوضې پرته وي.

شل رکعته تراویح په تېرو نژدې ۱٤ پېړیو کي په ټولو مسلمانانو او د ټولو مذاهبو پلویانو کي عمومیت درلود، د صحابه وو له دور بیا تر نن

پوري، خو په وروستيو څو لسيزو کې يوه داسي ډله راپيدا شوه چي وايي: تراويح اته رکعته دي او پيغمبر عليه السلام يوازي اته رکعته کړي!!

دوی غالباً په دغو دريو رواياتو استناد کوي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَيْلَةً فِي رَمَضَانَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُونَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: وَاللهِ إِنِّي لَأَرَى لَوْ جَمَعْتُ هَؤُلَاءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ فَقَالَ عُمَرُ: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هَذِهِ وَالَّتِي يَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي يَقُومُونَ يُرِيدُ آخِرَ اللَّيْلِ وَكَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ أَوَّلَهُ. السنن الكبرى للبيهقي

دا روايت چي په بخاري کې هم راغلی؛ وايي:

له عبد الرحمن رضي الله عنه روايت دئ چي د عمر رضي الله عنه په خلافت کي زه د روژې په شپو کي يوه شپه له عمر رضي الله عنه سره مسجد ته لاړم، خلک ډلي ډلي بېل بېل ولاړ وو، يوه کس يوازي لمونځ کولو، بل کس به بل ځای بېل ولاړ وو او د خلکو يو ټولي به هم لمونځ ورپسي کولو، عمر رضي الله عنه وفرمايل: زه وايم چي دا خلک که په يوه قاري يو ځای را ټول ِکړم، نو ډېر ښه کار به وشي، بيا ئې کلک عزم وکړ او ټول خلک ئې په اُبیْ بن کعب پسي راټول کړل، بيا زه بله شپه هم مسجد ته ورسره راغلم، ټولو خلکو په خپل قاري (امام) پسي لمونځ کولو، عمر رضي الله عنه چي ټول خلک په يوه امام پسي وليدل نو وئې فرمايل: دا ډېر ښه نوی کار (بدعت) دئ. او هغه چي د (تراويح له دې لمانځه د شپې په پيل کې ويده کيږي او تر سحر وړاندي د تهجد لمونځ کوي) دا ډله تر هغې غوره ده چي دلته ولاړ دي او لمونځ کوي، يعني د شپې آخري برخه، خلک د شپې په اوله برخه کي ودرېدل لمونځ

يې کولو) بخاري.

دا روايت يوازي يو او غير معروف راوي لري، د تبع تابعينو له متوسطي طبقې دئ؛ هم د سند له پلوه کمزوری دئ او هم د محتوی له پلوه، ممکنه نه ده چې عمر رضي الله عنه به داسي کار کړی وي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم نه دئ کړی.

عمر رضي الله عنه يوازي دومره کار کړی چې انفرادي تراويح ئې په جماعت بدلې کړې. تر دې وړاندي صحابه وو د رسول الله صلی الله عليه و سلم په سنت عمل کولو، چا شل رکعته يوازي يوازي کول او چا په جمع.

د عمر رضي الله عنه د دې وينا چې وَالَّتِي يَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي يَقُومُونَ: او هغه ډله چې د (تراويح له دې لمانځه د شپې په پيل کې ويده کيږي) دا تر هغې ډلې غوره ده چې دلته ولاړ دي او لمونځ کوي؛ مقصد ئې دا دئ چې که څوك د ماخستن پر ځای د شپې په پای کې تر سحر وړاندي؛ تراويح او يا د تهجد لمونځ کوي؛ دا لمونځ افضل او اجر ئې زيات دئ. نو که رسول الله صلی الله عليه و سلم په دوه يا درې ورځو هغې تراويح اکتفاء کړې چې په جومات کې ئې د صحابه وو امامت وکړ؛ وجه او دليل ئې د دې وخت فضيلت دئ؛ نه بل څه.

دوهم روايت ئې دا دئ:

۲- أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا كَيْفَ كَانَتْ صَلاَةُ رَسُولِ اللهِ فِى رَمَضَانَ فَقَالَتْ: مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ فِى رَمَضَانَ وَلاَ فِى غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّى أَرْبَعًا فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّى أَرْبَعًا فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّى ثَلاَثًا.

له عائشې رضي اللهُ عَنْهَا ئې وپوښتل: په روژه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم عمل څنګه وو؟ وئې ويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي نه وو چې په رمضان يا غير رمضان کې ئې تر يوولس رکعته

زيات لمونځ کاوو؛ څلور رکعته يو ځل داسي چي د اوږدوالي او غوره والي په اړه ئې مه پوښته، بيا څلور رکعته؛ داسي چي د اوږدوالي او غوره والي په اړه ئې مه پوښته او بيا ئې درې رکعته (وتر) کول.

دا روايت د تراويح په اړه نه بلکي د تهجد په اړه دئ. په حقيقت کي پوښتنه د قيام الليل په اړه ده او ځواب ئې هم دا چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تل يولس رکعته کول؛ څلور څلور رکعته د تهجد لمونځ او درې رکعته وتر.

بايد متوجه وو چي غير مقلدين د وتر په اړه هم د خپل دغه روايت خلاف عمل کوي او وتر يوازي يو رکعت ګڼي!!

دريم روايت ئې دا دئ:

۳- يَعْقُوبُ الْقُمِّيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ جَارِيَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ وَأَوْتَرَ فَلَمَّا كَانَتِ الْقَابِلَةُ اجْتَمَعْنَا فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا أَنْ يَخْرُجَ إِلَيْنَا فَلَمْ نَزَلْ فِيهِ حَتَّى أَصْبَحْنَا ثُمَّ دَخَلْنَا فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ اجْتَمَعْنَا فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا أَنْ تُصَلِّيَ بِنَا فَقَالَ: «إِنِّي خَشِيتُ أَوْ كَرِهْتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمُ الْوِتْرُ (الإحسان فى تقريب صحيح ابن حبان).

يعقوب قُمی له عيسی بن جاريه او هغه له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت کوي چي موږ (زه او دوه درې نور يوه شپه) اته رکعته لمونځ او وتر مو په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسي وکړل، بله شپه چي راغله؛ نو موږ بيا په جومات کي راغونډ شوو په دې هيله چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مسجد ته راشي او موږ به لمونځ پسي وکړو؛ خو هغه نه راغی، سبا ئې موږ ته وويل: ووېرېدم يا مي خوښه نه شوه چي وتر درباندي فرض شي!

غير مقلدين پر همدې غير معتبر روايت استناد کوي او تراويح اته

رکعته ګڼي!!

دا روایت د سند له مخي ضعیف دئ، د عیسی بن جاریه په اړه محدثینو او محققینو ویلي چي متروك او ضعیف دئ، همدا راز یعقوب قُمی د اعتبار وړ نه ګڼي.

دا روایت نه یوازي د سند له مخي ضعیف او غیر معتبر دئ بلکي په متن کي ئې هم رکاکتونه او ناموزون ترکیبونه او الفاظ تر سترګو کېږي، د خَشِیتُ او کَرِهتُ له الفاظو هم معلومېږي چي راوي ئې زړه نازړه دئ، په یقین سره نه وایي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم کوم الفاظ ویلي.

ولي به رسول الله صلی الله علیه و سلم اندېښنه درلوده، آیا که ئې بیا هم په جمع تراویح کړې وی نو پر مسلمانانو به فرض شوې وې؟!! فرض خو هغه څه ته وایي چي الله تعالی په خپل کتاب کي د هغه د کولو امر او حکم کړی او نه کول ئې د سزا موجب وي.

په مقابل کي دا درې روایتونه وګورئ چي دوه له ابن عباس او یو له جابر بن عبد الله روایت شوي:

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه د مخکیني روایت خلاف بل روایت داسي دئ:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ فَصَلَّى النَّاسَ أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ رَكْعَةً وَأَوْتَرَ بِثَلاثَةٍ. (تاريخ جرجان للمحدث الإمام فى الجرح والتعديل ألسَّهمى: والمشيخة البغدادية لأبى طاهر السلفى)

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روژې میاشت کي یوه شپه جومات ته راغی او خلکو ته ئې څلور رکعته (فرض)، شل رکعته (تراویح) او درې رکعته وتر لمونځ اداء کړ.

د جابر له لومړي روايت (که احياناً سم وي) داسي معلومېږي چي دی او ملگري ئې تر نورو ناوخته جومات ته راغلي او يوازي اته رکعته تراويح او وتر ئې په رسول الله صلی الله عليه و سلم پسي کړي، خو دوهم روايت ئې صريح او واضح دئ چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته شل رکعته تراويح لمونځ اداء کړ.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ»

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به په رمضان المبارک کي شل رکعته (ترواېح) او درې وتر کول ـ (د امام بخاري د استاد کتاب؛ مصنف ابن ابی شيبه ج ۲ ص۲۸٦ ) (صفحة ۱۹۱۳).

بل روايت ئې:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ»

يعني وتر همغه درې رکعته دي چي په مخکيني روايت کي ئې يادونه شوې.

د تلخيص الحُبَير له کتاب دا روايت هم مخي ته راځي:

٥٤ – حَدِيثُ أَنَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِالنَّاسِ عِشْرِينَ رَكْعَةً لَيْلَتَيْنِ فَلَمَّا كَانَ فِي اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ اجْتَمَعَ النَّاسُ فَلَمْ يَخْرُجْ إلَيْهِمْ ثُمَّ قَالَ مِنْ الْغَدِ خَشِيت أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ فَلَا تُطِيقُوهَا. مُتَّفَقٌ عَلَى صِحَّتِهِ مِنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ دُونَ عَدَدِ الرَّكَعَاتِ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا "خَشِيت أَنْ تُفْتَرَضَ عَلَيْكُمْ صَلَاةُ اللَّيْلِ فَتَعْجِزُوا" عَنْهَا زَادَ الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. التخليص الحُبَير

وَأَمَّا الْعَدَدُ فَرَوَى ابْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيحِهِ مِنْ حَدِيثِ جَابِرٍ أَنَّهُ صَلَّى بهم ثمان رَكَعَاتٍ ثُمَّ أَوْتَرَ فَهَذَا مُبَايِنٌ لِمَا ذَكَرَ الْمُصَنِّفُ نَعَمْ ذِكْرُ الْعِشْرِينَ وَرَدَ فى حديث آخر رواه الْبَيْهَقِيُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي فِي شَهْرِ رَمَضَانَ فِي غَيْرِ جَمَاعَةٍ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ زَادَ سُلَيْمٌ الرَّازِيّ فِي كِتَابِ التَّرْغِيبِ لَهُ وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ.

نبي صلى الله عليه وسلم اصحابو ته شل ركعته تراويح دوه شپې وركړې، كله چي دربيمه شپه شوه، نو اصحاب كرام جمع شول، نبي صلى الله عليه وسلم بهر رانغى او په سبا ئې وفرمايل چي له دې وډار شوم چي هسي نه پر تاسو دا تراويح لمونځ فرض شي او بيا ئې طاقت ونه لرئ.

عن أبى الحَسناءِ أنَّ عَلِيَّ بنَ أبى طالِبٍ رضى الله عنه أمَرَ رجلًا أن يُصَلِّيَ بالنّاسِ خَمسَ تَرويحاتٍ عِشرينَ رَكعَةً. سنن الكبرى للبيهقى

له ابي الحسناء روايت دئ چي علي رضي الله عنه يو كس وګمارو چي خلكو ته په پنځو ترويحاتو كې د شل ركعته لمونځ امامت وكړي.

سنن الترمذي كې لولو:

وَأَكْثَرُ أَهْلِ العِلْمِ عَلَى مَا رُوِيَ عَنْ عُمَرَ وَعَلِيٍّ وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ وَابْنِ المُبَارَكِ وَالشَّافِعِيِّ "وقَالَ الشَّافِعِيُّ: "وَهَكَذَا أَدْرَكْتُ بِبَلَدِنَا بِمَكَّةَ يُصَلُّونَ عِشْرِينَ رَكْعَةً" الترمذى

ډيرى اهل علم په هغه رأى دي چي له عمر، علي او د رسول الله صلى الله عليه و سلم له نورو صحابه وو روايت شوې؛ چي تراويح شل ركعته دي؛ او دا د ثَورى، ابن المبارك او شافعي وينا ده. او شافعي ويلي: "او ما په خپل ښار مكه كې خلك همداسي وموندل چي شل ركعته به ئې

کول".

امام شافعي رحمه الله وايي:

وَأَحَبُّ إِلَيَّ إِذَا كَانُوا جَمَاعَةً أَنْ يُصَلُّوا عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَيُوتِرُونَ بِثَلَاثٍ.

او ما ته دا غوره بربښي چي که خلك يو جماعت وي نو شل رکعته تراويح وکړي او درې رکعته وتر.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» المعجم الكبير للطبرانى

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به په رمضان کې شل رکعته تراويح لمونځ کولو او درې د وتر لمونځ.

د سنن الكبرى للبيهقي مخکينی روايت په مصنف ابن ابي شيبه کې هم راغلی:

عَنِ ابْنِ أَبِي الْحَسْنَاءِ «أَنَّ عَلِيًّا أَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِهِمْ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً»

مصنف ابن ابی شيبه

له ابي الحَسْنَاء روايت دئ چي علي رضي الله عنه يو کس وگمارو چي خلکو ته په پنځو ترويحاتو کې د شل رکعته لمونځ امامت وکړي.

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ «أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَمَرَ رَجُلًا يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ رَكْعَةً»

مصنف ابن ابی شيبه

له يحيى بن سعيد روايت دئ چي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يوه سړي ته امر وکړ چي دوی ته د شل رکعت لمونځ امامت وکړي.

عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ: «كَانَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فِي رَمَضَانَ بِالْمَدِينَةِ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» مصنف ابن ابی شيبه

له عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ روايت دئ چي وايي: أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ به په مدينه

کې د رمضان مياشت کې خلکو ته د شل رکعت تراويح لمونځ او درې رکعت وتر امامت کولو.

دې ته مو بايد پام وي چي دا لمونځ د تروايح په نامه ياد شوی؛ چي د ترويح جمع ده، ترويح دمي او راحت ته وايي؛ له څلورو رکعتونو وروسته دمه ترې مراد ده؛ او دا ښيي چي دا ترويحات تر دوو زيات دي؛ که لمونځ اته رکعته وی نو ترويح به ئې د تثنيه په صيغه (ترويحتين) راتله نه د جمعي په صيغه (تراويح) او ترويحات؛ په پورتنيو رواياتو کې هم خمس ترويحات راغلي.

د شل رکعت تراويح په اړه روايات دومره زيات دي چي تواتر ته رسي؛ عملاً خو د صحابه وو له دوران تر ننه؛ په تواتر سره؛ له يوه نسل بل ته انتقال او عمل پرې شوی. عجيبه ده چي څوك دا ټول روايات، د ائمه وو اقوال، په مکه (مسجد الحرام) کې، د اسلامي نړۍ په لکونو جوماتونو کې د ملياردونو مسلمانانو څرګند او مکرر عمل؛ له پامه غورځوي؛ او حتی په دې اړه د صحابه وو اجماع هم نه مني، په يوه کمزوري او غريب روايت له دې کبله إصرار لري چي په بخاري کې راغلی، په داسي حال کې چي له دې روايت سره نه د امام بخاري استادان موافق دي او نه هغه جليل القدر ائمه چي يا تابعين دي او يا تبع تابعين او صحابه وو ته تر امام بخاري ډېر نژدې؛ امام بخاري له څلورم او پنځم نسل روايات تر لاسه کړي او هغوی له لومړي او دوهم نسل! دا هم عجيبه ده چي دا ښاغلي ځان ته اهل حديث وايي! په داسي حال کې چي دوی اهل حديث نه بلکې اهل بخاري دي، له بخاري پرته د حديث ټول کتابونه له پام غورځوي؛ د نورو کتابونو متواتر، مشهور او عزيز روايات نه مني؛ د همداسي رواياتو په مقابل کې د بخاري هغه روايات هم مني چي هم غريب دي؛ هم د بخاري له نورو رواياتو سره تعارض لري او هم د نورو کتابونو له صحيح رواياتو سره؛ د تروايح په اړه د دوی ضعيف او ناسم دريځ؛ يوه روښانه بېلګه ده.

٦٥٣ – حَدَّثَنِي أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو شَيْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» مسند عبد بن حميد

١٢١٠٢ – حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، ثنا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ، ثنا أَبُو شَيْبَةَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ» المعجم الكبير للطبرانى

٧٧٦٢- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلٍ : أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَالْوِتْرَ. مصنف ابن ابى شيبه

٧٧٦٤- حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَمَرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ رَكْعَةً. مصنف ابن ابى شيبه

٢٥٤٩٦ – حَدَّثَنَا يَزِيدُ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ يَعْنِي ابْنَ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ، وَصَلَّى خَلْفَهُ نَاسٌ بِصَلَاتِهِ، ثُمَّ نَزَلَ اللَّيْلَةَ الثَّانِيَةَ، فَكَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، ثُمَّ كَثُرُوا فِي اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ، فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الرَّابِعَةُ، غَصَّ الْمَسْجِدُ بِأَهْلِهِ، فَلَمْ يَنْزِلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا فِي ذَلِكَ: مَا شَأْنُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْزِلْ؟ فَسَمِعَ مَقَالَتَهُمْ، فَلَمَّا أَصْبَحَ، قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ مَقَالَتَكُمْ، وَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَنْزِلَ إِلَيْكُمْ

إِلَّا مَخَافَةَ أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَيْكُمْ قِيَامُ هَذَا الشَّهْرِ» مسند احمد

په دې روایت کې ویل شوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم درې شپې د تراویح لمانځه امامت وکړ؛ په څلورمه شپه دومره خلك جومات ته راغلل چې نه په کې ځایېدل؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم جومات ته رانغی، سبا ئې خلکو ته وویل: له دې کبله راونه وتلم چې داسي نه دا لمونځ درباندي فرض شي؛ که څه هم په دې روایت کې د شل رکعته تراویح یادونه نه ده شوې خو محققین وایي: له نورو روایاتو معلومېږي چې شل رکعته د تراویح لمونځ او درې رکعته وتر ئې کړي.

دلته څو نور روایات ستاسو مخې ته بږدو چې د شل رکعتونو لمانځه یادونه په کې شوې:

وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ الْقُرَظِيُّ: «كَانَ النَّاسُ يُصَلُّونَ فِي زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً يُطِيلُونَ فِيهَا الْقِرَاءَةَ وَيُوتِرُونَ بِثَلَاثٍ». مختصر قيام الليل

قَالَ الْأَعْمَشُ: «كَانَ يُصَلِّي عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ» وَقَالَ عَطَاءٌ: «أَدْرَكْتُهُمْ يُصَلُّونَ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، وَالْوِتْرُ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ» وَقَال عَبْدُ اللَّهِ بْنُ قَيْسٍ عَنْ شُتَيْرٍ: وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ عَبْدِ اللَّهِ الْمَعْدُودِينَ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي بِهِمْ فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ . مختصر قيام الليل

۱۳۷۳ – حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ الْوَلِيدِ الْمَدِينِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى، بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، عِشْرِينَ رَكْعَةً بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ» سنن ابن ماجه

په دې روایت کې د ماښام او ماخستن تر منځ د شل رکعته لمونځ بدله

په جنت کې يو کور ګنډل شوی؛ که څه هم دلته د تراويح يادونه نه ده شوې خو له فحوی ئې معلومېږي چې اشاره شل رکعته تراويح ته ده.

## د روژې د پيل او پای او اخترونو اړوند اختلاف

رسول الله صلی الله عليه و سلم د قمري مياشتي د عمر په اړه څوارلس پېړۍ وړاندي فرمايلي چې قمري مياشت ٢٩ ورځي ده؛ په داسي حال کې چې هغه مهال عام ذهنيت دا وو چې قمري مياشت دېرش ورځي ده!! دا هغه دقيقه او علمي وينا ده چې انسانان ئې اوس په حقيقت پوه شوي؛ ساينس پوهان وايي چې قمري مياشت ٢٩ ورځي ١٢ساعتونه ٤٤ دقيقې او ٣ ثانيې ده؛ راشئ دې رواياتو ته لږ ځير شئ:

عن إبن عُمَرَ قال: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: "الشَّهرُ تِسعٌ وعِشرونَ لَيلَةً لا تَصوموا حَتَّى تَرَوه ولا تُفطِروا حَتَّى تَرَوه إلَّا أن يُغَمَّ عَلَيكُم فإن غُمَّ عَلَيكُم فاقدُروا له" السنن الكبرى للبيهقى

له ابن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: مياشت نه ويشت ورځي ده؛ نو تر هغه روژه مه نيسئ چې وئې ګورئ او مه ئې ماتوئ تر هغه چې وئې ګورئ او که درباندي وپوښل شوه نو (خپلې ټاکلې مودې ته يې ورسوئ (دېرش ورځې پوره کړئ) ورته پياوړي شئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ذَكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: "كَمْ مَضَى مِنَ الشَّهْرِ " فَقُلْنَا: مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي ثَمَانٍ فَقَالَ: "لا" بَلْ مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي سَبْعٌ؛ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ يَوْماً فَالْتَمِسُوهَا اللَّيْلَةَ" رواه ابن حبان

له ابو هريره روايت دئ چي وئې ويل: د رسول الله صلی الله عليه و سلم خوا ته مو د قدر شپې يادونه وکړه نو وئې فرمايل: د مياشتي څومره تېره شوې؟ ومو ويل: دوه ويشت ورځي تېري شوې او اته پاته دي. نو وئې فرمايل: نه؛ بلکي دوه ويشت ورځي تېري شوې او اوه پاته دي؛ مياشت نه ويشت ورځي ده؛ نو له مخي ئې دا شپه ولټوئ.

دې ته ورته روايات زيات دي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په مختلفو مواردو کي ويلي چي مياشت ۲۹ ورځي ده؛ همدا بايد د روژې د مياشتي د روژو اصلي شمېر ونيسو او دېرشمه به ئې يوازې هغه مهال نيسو چي د سپوږمۍ ليدل تثبيت نشي؛ د ليدني لپاره ئې هم د دوو مسلمانو شاهدانو شهادت کافي دئ؛ دې روايت ته ځير شئ:

عن ابی هريرةؓ: قال رسولُ اللهِ صلی الله عليه وسلم: "صوموا لِرُؤيَتِه وأَفطِروا لِرُؤيَتِه فإن غُمَّ عَلَيكُمُ الشّهرُ فعُدّوا ثَلاثينَ". رَواه مسلمٌ

په مسند احمد کي دا هم پرې علاوه شوي:

.... وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ مُسْلِمَانِ [ذَوَا عَدْلٍ] فَصُومُوا وَأَفْطِرُوا " احمد

له ابو هريره روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم وويل: په ليدو سره ئې روژه ونيسئ او په ليدو سره ئې ماته کړئ. او که مياشت درباندي شکمنه شوه نو دېرش ئې وګڼئ او که دوه عادل مسلمانان ئې د ليدو شهادت ورکړي نو روژه شئ او إفطار ئې کړئ.

راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه لارښوونه لري؛ قرآن فرمايي:

... شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ....

... د روژې مياشت هغه ده چي په هغې کي قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندي نښي او فرقان (د حق او باطل د تفکيك او بېلولو لپاره معيار او ملاك)؛ نو چي څوك دا مياشت مومي هغه دي

روژه ونیسي...

په دې مبارك آیت کې څو اساسي لارښوونې مومو:

- د دې میاشتې روژه د دې لپاره فرض کړی شوې چې په دې کې قرآن نازل شوی، دا د خلکو لپاره لارښود کتاب، دا د څرګندو لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو لپاره روڼ څراغ په کې نازل شوی، د دې ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره باید روژه ونیسئ.
- په دې روژې سره به تاسو د الله په لویي او عظمت اعتراف کړی وي او د همدې روژې او د قرآن د درناوي له کبله به مو هدایت په برخه شي.
- له دې آیت دا هم په څرګنده توګه معلومېږي چې د روژې میاشتې په داخلېدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو روژه نیول فرض کېږي او د روژې میاشت هغه وخت پیل کېږي چې د دې میاشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په کوم ځای کې ولیدل شي، له محاق وتل او چېري د هغې څرګندېدلو معنی دا ده چې نوې میاشت پیل شوې او په ټولو روژه نیول لازم شوي، د دې آیت له مخې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، داسې نه ده چې میاشتې په هر هېواد کې بېل بېل پیل او پای لري. د نړۍ په هر ځای کې چې د نوې میاشت سپوږمۍ ولیدل شي؛ نو نوې میاشت پیل شوې؛ د لیدو لپاره ئې د دوو عادل شاهدانو ګواهي کافي ده؛ د نړۍ پر ټولو مسلمانانو ئې روژه نیول فرض کېږي.

په آیت کې ویل شوي: (فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ: نو چې څوك دا میاشت بیاموي هغه دې روژه ونیسي)؛ داسې نه دي ویل شوي (فمن رأى منكم القمر: څوك چې له تاسو سپوږمۍ وګوري)؛ یعنې د روژې نیول د روژې میاشتې په پیل پورې مربوطه ده؛ هر څوك چې دې میاشت ته ننوځي؛ نو روژه نیول پرې فرض شوه. البته د روژې میاشتې پیل او پای د سپوږمۍ له مخې ټاکلی شو.

د میاشتو لپاره دوه معروف تقویمونه لرو؛ یو ئې د لمر پر محور د

زمکي په حرکت پوري او بل ئې د زمکي پر محور د سپوږمۍ په حرکت پوري مربوط دئ، زمکه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو کې يو ځل د لمر پر محور څرخي، دې ته ځينو د يوه کال نوم ورکړی، هغه ئې په دولسو مياشتو وېشلی، ځيني ئې دېرش او ځيني ئې يو دېرش ورځي دي. او سپوږمۍ په (۲۹ ورځو ۱۲ساعتونو ٤٤ دقيقو او ۳ ثانيو) کي د رؤيت پړاو بشپړوي؛ دا موده ثابته ده، که څوك علمي محاسبې ته ارزښت ورکړي نو د بشپړ کال ټولي قمري مياشتي داسي ټاکل کېدی شي چي کمی او زياتی به په کې نه راځي، د محاسبې له مخي دا معلومېدی شي چي سپوږمۍ کله خپل مياشتنی مدار بشپړوي، په کوم ځای کې، په کوم ساعت، دقيقه او ثانيه له سترګو پټېږي او چېري، په کوم ساعت، دقيقه او ثانيه راښکاره ګنديږي او د نوې مياشتي مدار پيلوي. دا چي اسلام د مياشتي د پيل او پای لپاره رؤيت ته اعتبار ورکړی دا ډېره دقيقه او علمي وينا ده، ځکه د سپوږمۍ په ليدو سره ثابته کېږي چي هغه د نوې مياشتي مدار ته داخله شوې. څوك چي رؤيت ته اعتبار نه ورکوي او د هري سيمي لپاره د مستقل او بېل رؤيت خبره کوي؛ رأی ئې د حقائقو او واقعيتونو خلاف ده. اوس او د مخکې تللو وسائلو په مرسته؛ هغه ثانيه او سيمه هم په دقيقه توګه معلومولی شو چي سپوږمۍ له محاق وځي، د مخکينۍ مياشتي مدار ئې بشپړ کېږي او د نوې مياشتي مدار پيلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چي د رؤيت لپاره د دوه متقي انسانانو شهادت کافي ګڼل شوی. ناپوهان او هغه ټګماران چي د دښمن له لوري ګمارل شوي چي په امت کې اختلافات راولاړ کړي؛ له دې موضوع هم د اختلاف وسيله جوړوي، شيعه او بريلويان له سعودي او سلفيانو سره د سياسي او مذهبي اختلاف له کبله روژه او اختر يوه او حتی دوه ورځي وروسته اعلانوي!! احناف د سپوږمۍ د مطالع (راڅرګندېدو) اختلاف د اعتبار وړ نه ګڼي؛ د قرآن، حديث او علم وينا همدا ده.

راشئ دا موضوع په دې توګه ستاسو مخي ته کښېږدم: تاسو کولی

شئ په خپل کمپیوټر کې داسې سافټ ویر (پروګرام) نصب کړئ چې د میاشتې په پیل کې د سپوږمۍ د راښکاره کېدو او په پای کې له سترګو پټېدو او په نوې میاشت کې د بیا راښکاره کېدو دقیقه نېټه، وخت، ساعت، دقیقه او ثانیه، هره ورځ د سپوږمۍ د طلوع او غروب وخت دروښيي؛ داسې لکه چې د لمر د طلوع او غروب وخت درښيي او همغسې لکه چې ستاسو ساعت د لمر طلوع، غروب او د لمانځه وختونه درښيي. اوس که تاسو د روژې په نه ویشتمه او د ماښام په ٦ بجو؛ چې همدا ستاسو په ځای کې د ماښام د أذان وخت دئ؛ له خپل کمپیوټر وپوښتئ چې سپوږمۍ به کله او چېرې راښکاره کېږي؛ او تاسو ته ووايي: د راښکاره کېدو لپاره ئې لا دوه ساعته او دېرش دقیقې پاته دي؛ د دې معنی دا ده چې سپوږمۍ به په هغه هېواد کې لیدل کېږي چې ستاسو د اوسني موقعیت په غرب کې او له تاسو دومره لرې پروت دئ چې د وخت توپیر ئې ستاسو له موقعیت سره دوه نیم ساعته دئ؛ یعنې چې سپوږمۍ به په مصر او د مصر په غرب کې هېوادونو لکه لیبیا او المغرب کې لیدل کېږي؛ که تاسو د سعودي د مفتي په فتوی عمل کوئ او منتظر یئ چې په سعودي کې د تلسکوپ شا ته ناست مفتي به د سپوږمۍ په اړه تاسو ته دقیق او صحیح معلومات درکړی شي؛ نو یقیناً چې اشتباه مو کړې؛ او که مو له مصر، لیبیا او مراکش واورېدل چې سپوږمۍ ولیدل شوه نو پر تاسو لازمه ده چې د هغوی په فتوی همداسې عمل وکړئ لکه چې په خپل هېواد یا په سعودي کې د یوه مفتي په فتوی روژه نیسئ او اختر کوئ؛ آیا د دې لپاره کومه عقلي او شرعي توجیه موندلی شو چې د سعودي په فتوی عمل کولی شو خو د نورو هېوادو د مسلمانو مفتیانو او شاهدانو په وینا عمل نشو کولی؟! آیا دا صحیح ده چې د لمانځه د وختونو په ارتباط پر ساعت باور او عمل کولی شو خو د هلال په ارتباط په خپل کمپیوټر باور او عمل نه شو کولی؟ پیشلمی او روژه ماتی یا د ساعت له مخې کوو یا د هغه مؤذن په أذان چې د یوه داسې جدول له مخې آذان کوي چې د ساعت په مرسته جوړ شوی؛ او د سپوږمۍ د

مطالع او د میاشتې د پیل او پای په اړه د ساعت او کمپیوټر دقیق او علمي معلومات د اعتبار وړ نه ګڼو؟!!

زه همدا اوس چې دغه مطلب تاسو ته وایم او د خپل کمپیوټر مخې ته ناست یم؛ که وغواړم ځان ته معلومه کړم چې دغه شپېه سپوږمۍ چېرې ده او په کومه ورځ به له سترګو غائبېږي او کله به بېرته راښکاره کېږي؛ نو په څو ثانیو کې به زما کمپیوټر دا ټول معلومات زما مخې ته کښېږدي، د سپوږمۍ د غائبېدو حالت به هم راته جوت کړي، نېټه ئې هم او سیمه هم؛ او د ښکاره کېدو حالت او نېټه او سیمه هم. لکه څنګه چې موږ پر خپلې ګړۍ اعتماد کولی شو او له مخې ئې د لمانځه، پېشلمي او روژه ماتې وختونه ټاکلی شو همداسې د کمپیوټر پر محاسباتو او معلوماتو اعتماد کولی شو.

راشئ دا هم وګورو چې قرآن خپل مخاطب ته د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه څه لارښوونې لري؛ قرآن د روژې د بحث په لړ کې د سپوږمۍ د ورو ورو سترېدو په اړه فرمايي:

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ البقره: ۱۸۹

د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه تا پوښتې، ورته ووایه: دا د خلکو لپاره د وختونو او د حج د تعیین وسیله ده او ښېګڼه دا نه ده چې کورونو ته له شا راشئ، بلکې ښېګڼه دا ده چې څوک ځان وساتي؛ او کورونو ته له دروازو ننوځئ او له اللهووېرېږئ چې بریالي شئ.

دلته د سپوږمۍ د حالت او اندازې بدلېدو په اړه ویل شوي:

- دا الله تعالی د وخت د تعیین لپاره په دې بڼه کې پیدا کړې، د وخت د تعیین لپاره داسې وسیله ده چې هر څوک، لوستی او نالوستی، هم د ساعتونو تعیین پرې کولی شي، هم د میاشتو او هم د کلونو.

- خو دا چې د مياشتې حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي، قرآن هغوی ته وايي: اوس په دې پوهېدل تاسو ته ګران کار دی، په يوه څه پوهېدل ځانته وخت او ځانته خاصه لار لري، په خپل وخت او له خپلې لارې ئې د پوهېدو لپاره صبر وکړئ، لکه چې کورونو ته بايد له خپلې دروازې ننوځئ نه له شا ئې، همدا راز په دې پوهېدل چې د سپوږمۍ حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي، دا هم خاص وخت او داسې خاصې پوهې ته ضرورت لري چې اوس ئې تاسو نه لرئ، تر هغه صبر وکړئ چې په دې پوهېدل درته ممکن شي.

په تفاسيرو کې دا هم راغلي چې ځينې عرب به له حج وروسته خپلو کورونو ته د دروازې له لارې نه ننوتل، يا به ئې د شا له دېواله کور ته دانګل، يا به ئې نوې دروازه پرانيسته او کور ته به داخل شول. دا ئې د تقوی نښه ګڼله، داسې به ئې انګېرله چې په حج سره بدل شوي او اوس بايد له زړې دروازې نه؛ بلکې له نوې دروازې کور ته ننوځي!! په دې آيت کې له يوې خوا مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې هر کار له خپلې طبيعي لارې ترسره کړئ، عجله مه کوئ، په يوه څه د پوهېدو لپاره له دروازې داخل شئ مه له شا او غير طبيعي لارې. له بلې خوا د سعادت او فلاح د عواملو په اړه د يوه جاهل قوم انګېرنه او تصور معرفي شوی، دوی په داسې منحطو شکلياتو کې دين راخلاصه کړی، دې ته د تقوی نوم ورکړی او په دې سره دنيوي سعادت او اخروي فلاح تر لاسه کول غواړي، د دين له روح غافل شي، د دين اساسي خبرې شا ته وغورځوي، الله هېر کړي، د شرك مرتکب شي، منافقت او خيانت کوي، يو د بل وينې تويوي خو همدا دوی به له خپلو ټولو سترو سترو انحرافاتو سره سره په فروعي مسائلو سخت نښتي وي او دا به د خپلې تقوی نښې ګڼي!!

په همدې بقرې سوره کې د دې بد خصلت څو بېلګې وړاندې شوې، د غوا د رنګ، عمر او کار په اړه د بني اسرائيلو مکرر پوښتنې، د قبلې په اړه د دوی اعتراضات او دا دئ د مدينې د خلکو دا تصور چې له حج وروسته د دروازې له لارې کور ته ننوتل ئې د تقوی خلاف کار ګڼلو،

دوی ته ویل شوي چې بِر او ښېګڼه دا نه ده، ښېګڼه له الله وېرېدل او له حرامو ځان ساتل دي.

الهي! موږ ته ستا په قرآن د سمي پوهي او عمل او ستا د ګران رسول په سنت او د صحابه وو په منهج او تګلاري د تلو توفيق او سعادت راپه برخه کړې! آمین

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ نَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، نَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوبُ إِلَيْكَ

# فهرست

عنوان صفحه

د روژې فضائل او حکمتونه ........................................ ١
د روژې حکمت او هدف........................................ ١
د روژي او قرآن تر منځ ژور تعلق........................................ ٤
د روژې میاشت یوه تربیتي دوره ده........................................ ٧
روژه تا د وږو له حال خبروي........................................ ١١
په روژه کې څه جائز او څه ناجائز دي........................................ ١١
د روژي صحي او روغتیایي اغېز........................................ ١٣
روژه د خطرناکو بېماریو علاج........................................ ١٦
د روژې معنوي ارزښت او اغېز........................................ ١٨
روژه الله تعالی ته د قرب وسیله او د دعاء اجابت ذریعه ده..٢١
روژه له حرامو د ځان ساتني مشق........................................ ٢١
روژه په روایاتو کې ........................................ ٢٢
د روژې کتاب........................................ ٢٢
١ باب: د روژې فضیلت........................................ ٢٢
٢ باب: د ریان دروازه خاص د روژتیانو لپاره ده........................................ ٢٣
٣ باب: رمضان که د رمضان میاشت........................................ ٢٩

٤ باب: په رمضان کي دروغ او ورباندي عمل نه پرېښودل .......٣٦
٥ باب: چاته چي ښکنځلي وشي؛ نو آيا وايي به چي روژه يم؟.........٣٧
٦ باب: څوک چي په زنا کي د واقع کېدو وېره لري نو روژه دي نيسي..........................................................٤٤
٧ باب: د مياشتې په ليدو روژه نيسئ او په ليدو ئې عيد کوئ..٤٥
٨ باب: د عيدونو مياشتي نه کمېږي............................٤٦
٩ باب: د رسول الله صلی الله عليه و سلم دا قول: نه ليک کولی شو او نه حساب..............................................٤٧
١٠ باب: له رمضان يوه يا دوې ورځې مخکي روژه نشته.........٤٧
١١ باب: د الله دا قول: (أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ) ..........................................................................٤٨
١٢ باب: د الله تعالی دا قول: ((وَكُلُوا وَاشْرَبُوا. . .)) ..............٤٩
١٣ باب: د پېشلمي او سهار لمانځه تر منځ څومره وخت وي.....٥٠
١٤ باب: پېشلمی برکت لري؛ خو واجب نه دئ.....................٥١
١٥ باب: څوک چي د ورځې د روژې نيت وکړي....................٥٢
١٦ باب: که په جُنُب روژتي سهار شي.............................٥٣
١٧ باب: په روژه کي خپله مېرمن په غېږ کي نيول..............٥٣
١٨ باب: که څوک په هېره څه وخوري يا وڅښي ..................٥٤
١٩ باب: که څا په روژه کي جماع وکړه ............................٥٤
٢٠ باب: په روژه کي ښکر لګول.....................................٥٦
٢١ باب: د مسافر روژه.................................................٥٦
٢٢ باب: د روژې په دوران کي سفر...................................٥٩

٢٣ باب:........................................................٥٩
٢٤ باب: (په سفر کې روژه غوره کار نه دئ)...........٦٠
٢٥ باب: په سفر کې د روژه خوړلو او نیولو په اړه............٦١
٢٦ باب: څوک چې مړ شي او روژه ورباندي قرض وي..........٦٢
٢٧ باب: روژتي به څه وخت روژه ماتوي..........٦٣
٢٨ باب: په روژه ماتي کي بیړه..........................٦٣
٢٩ باب: له لمر لوېدو مخکي روژه ماتول..........٦٥
٣٠ باب: د ماشومانو روژه.............................٦٥
٣١ باب: د پیشلمي تر وخته د روژې دوام..........٦٧
٣٢ باب: د روژې وصلوونکي سزا....................٦٨
٣٣ باب: څوک چې بل ته د نفلي روژې د ماتولو قسم ورکړي....٧٠
٣٤ باب: د شعبان روژه...............................٧١
٣٥ باب: د رسول الله صلی الله علیه و سلم د روژې او نه روژې بیان.............................................٧٦
٣٦ باب: په روژه کي د بدن حق.......................٧٧
٣٧ باب: په روژه کي د کورنۍ حق......................٧٨
٣٧ باب: که څوك د نورو لیدو ته ورشي خو خپله روژه ماته نه کړي.................................................٧٨
٣٨ باب: د میاشتي د پای روژه.......................٧٩
٣٩ باب: د جمعې د ورځي روژه.......................٨١
٤٠ باب: د روژې لپاره ځانګړې ورځي...............٨٢
٤١ باب: د تشریق د ورځو روژه........................٨٣

٤٢ باب: د عاشوراء روژه........................................٩٦
آيا د عاشوراء لمانځل او په دې ورځ روژه نيول جائز دي؟
........................................................................١٠٠
"د فصح عيد"......................................................١٠٧
د تراويح لمونځ ....................................................١٠٨
١ باب: په روژه کي د شپې لمونځ کوونکي فضيلت ...............١٠٨
٢ باب: د رمضان په وروستيو اوو شپو کي د ليلة القدر لټول...١١٠
٣ باب: په وروستۍ لسيزه کي د ليله القدر لټون...................١١٣
٤ باب: په وروستۍ لسيزه کي عبادت................................١١٤
اعتکاف ..............................................................١١٥
١ باب: اعتکاف په وروستۍ لسيزه کي...............................١١٥
٢ باب: اعتکاف کوونکی دي بې ضرورته کور ته نه ځي..........١١٥
٣ باب: په شپې کي اعتکاف.........................................١١٦
٤ باب: په جومات کي خيمې درول..................................١١٧
٥ باب: آيا معتکف د جومات له دروازې وتلی شي؟...............١١٧
٦ باب: د رمضان په منځنۍ لسيزه کي اعتکاف.....................١١٨
تراويح اته رکعته دي که شل؟......................................١٢٢
د روژې د پيل او پای او اخترونو اړوند اختلاف ..............١٣٤
فهرست...............................................................١٤٢



د میثاق ایثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷